تالیف:استاذ الحدیث حضرت مولانا

عبدالحلیم (صاحب حق صاحب دامت برکاتہم۔

خلیف[illegible] مجاز:شفیق الام[illegible]محمد عزیز الرحمٰن ہزاروی نوّراللہ مرقدہٗ

مدرس[illegible] امام اعظم ابو حنیف ملحق[illegible] انغاپور تورورسک بونیر

بسم اللہ الرحمن الرحیم

فهرست

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

ابتدائ درجه اول طالبانو رونړو دپاره څنګه چې د علم الصرف اسانولو کوشِش اوشو دغه شان دویم نمبر علم النحو اول په خپله مورنئ ژبه کښې د تسهیل ضرورت دے او څنګه چې د علم الصرف تسهیلات او مختصرات. اکابرو لیکلی دی او اردو واله حضرات تری په خه شان سره فائده ئې اُچتوی۔دغه شان د علم النحو دپاره هم اکابرو حضراتو خکلی تسهیلات او مختصرات لیکلی دی ۔لیکن پُختانه طلبه تری په اسانه سره فائده نشی اچتولے۔ دی دپاره چې د نحوی اسان صورتونه مخې ته شې د اکابرو رسالے هم مخې ته ایخې دی او د هغے څه نچوړ ستاسو حاضر خدمت دے۔کریم رب دی توفیق راکړی۔

۔۔۔داخبره یاد ساتل پکار دی چې په علم الصرف اول خواری ضروری ده او په علم النحو روستو۔۔۔

اول سبـــــــــــــــق

<u>د علم النحو پیژند ګلو</u> نحو د هغې قواعدو او اصولو نوم دے چې دد غه قاعدو په ذریعه د اسم،فعل او حرف آخری کیفیت معلومیږی۔ او دبعضے کلمو د یو بل سره ملاوولو او جمله جوړولو طریقه پکښې هم پیژندل شی ۔

موضوع: کلمه او کلام۔

کلمه:۔کمه خبره چی د انسان د خلی نه ووزی هغه ته لفظ وائی او لفظ چی څه معنیٰ ئی وی هغې ته کلمه وائی ۔

کلمه په درے قسمه ده: **اسم -----فعل----حرف،** تعریفونه ئې په علم الصرف کې تیر شوی دی۔ خلاصه دلته بیا ذکر کیږی

اسم---چی کومه کلمه خپله معنیٰ پخپله خائی بلے کلمے ته ئی حاجت نه وی او

ده دریو زمانو نه پکښی یوه زمانه هم نه وی --لکه زید --رجل --شجر--

فعل---چی کومه کلمه خپله معنیٰ پخپله خائ بلے کلمے ته ئې حاجت نه وی او د دریو زمانو نه پکښی یوه زمانه وی۔لکه ضَرَبَ-- سَمِعَ--کَرُمَ--یَسمَعُ---یَکرُمُ--اَکرَمَ-،-یُکرِمُ--

حرف---کومه کلمه چی په خپله معنیٰ خودلو کښی بلے کلمه ته محتاجه وی--لکه--مِنۡ--نه ---اِلیٰ---پوری

یعنی مِنۡ د ابتداء په معنیی خودلو کی د کوم ځائی نه چی ابتداء کیږی د هغې ذکر کولو ته محتاجه دے۔

لکه مِن المسجدِ ۔د جومات نه۔

دغه شان --الیٰ--د انتهاء معنی خودلو کی کوم زاے چی ختمیدل شوی وی هغه ځائی ذکر کولو ته محتاجه دے۔لکه الیٰ البیت --د کور پورے۔

دویم سبـــــــــــــــق

دکلام پیژندګلو چی دوه کلمے یا زیاتے کلمے رایو ځائی شی او یو پوره جمله مفید مرکب ،فائده ورکونکے ترکیب تیار شی دیته کلام وائ۔

په کلام--جمله--مرکب کښی درے خبرے ضروری دی ۔
۱۔یو فائده ورکونکے خبر چی ورته اسناد وائ

کول چی ورته مسند الیه او محکوم علیه هم وائ

خلاصه: کلام د یو ځوکلماتو مجموعے ته وائ- چی په هغے کښی اسناد وی یعنی فائده ورکونکے نسبت وی،یو حکم وی دویم پکښی مسند یعنی د کوم حکم او خبر نسبت چی شوے وی۔

دریم پکښی مسند الیه وی یعنی په چا چی حکم ل ګولے شوے وی یا چاته چی د خبر نسبت شوے وی۔

<u>مسند الیه:</u> مستقله کلمه غواړی او هغه به صرف اسم وی ۔

<u>مسند:</u>هم مستقله کلمه غواړ ی او هغه که فعل وی او که اسم-۔

**او اسناد ددی دؤو کلمو یو ځائی کیدو عمل ته وائ۔مستقله کلمه نه غواړ ی ، ددے وجه وائ چی جمله او کلام د دؤو کلمو نه کم نشی کیدے-۔

لکه زیدٌ نائمٌ او جاء زیدٌ

زید اوده دے او زید راغلے دے

اوده کیدل او راتلل یو خبر دے او حکم دے ۔

نائم او جاء مسند دی نسبت یئ شوے دے۔او زید طرفته یئ نسبت شوے دے نو زید مسند الیه شو او دی نسبت او حکم دا عمل اسناد شو۔

دریم سبـــــــــــق

علامات اسم: ۱۔چی په شروع کښی ئی الف لام وی ،لکه البیت۔

۲۔یا پری حرف جار داخل وی:لکه فی المسجد،''حروف جاره''. به روستو بیان شی۔ دلته په المسجد باندی دوه علامے د اسم دی ،یو حرف جار او یو الف لام۔

۳۔یا په آخر ئی تنوین وی لکه رجلٌ

۴۔یا مضاف وی لکه بیت الله،، کتاب الله

۵۔یا مسند الیه وی لکه زید نائم

علامات فعل

لکه قد یسمع ۔ قد یعلم ۔ سیقول ۔ سوف تعلمون

۴۔یا پری جزم ورکوئنکے حرف داخل وی لکه اِن لَم لمّا لام امر لائے نہی۔

لکه اِن تکفُرْ لَم تفعلْ لمّا یکتبْ

۵۔چی ضمیر ورسره جزء وی او هغه ئی فاعل وی یعنی ضمیر مرفوع متصل لکه کتبوا،،دلته کتب فعل دے او واو فاعل دے

دحرف علامت

د حرف علامه داده چی د اسم او فعل علامه به پکښی نه وی ۔ حرف صرف د ربط فائده ورکوی، ربط بین الاسمین لکه زید فی الدار ۔ بین الفعلین ارید ان اتلو القرآن ۔ بین الاسم و الفعل کتبت بالقلم ۔

د اسم درے قسمه دی ۔۱۔جامد ۲۔ مصدر ۳۔مشتق

ددے بحث علم الصرف کښی تیر شوے دے دلته خلاصه ذکر کوو۔

کومه کلمه ''اسم''چی نه د چانه جوړ ه وی او نه تری بله کلمه جوړیدے شی دیته جامد وائ لکه رجل زید فرس ۔

او کومه کلمه چی پخپله د چا نه نه وی جوړه خو نور کلمات ددی نه جوړ وی نو دیته مصدر وائ لکه الضرب۔

او کوم کلمات چی د مصدر نه جو ړ وی هغے ته مشتق وائ۔

اسمائے مشتقه پنځه دی ۔اسم فاعل، اسم مفعول ، اسم آله ، اسم ظرف ، اسم تفضیل۔ لکه عالم۔۔معلوم۔۔مفتاح۔۔مسجد۔۔اعلم۔ دا مشهور اسمائے مشتقه دی۔بیان ئی علم الصرف کښی تیر شوے دے۔

خلورم سبـــــــــــق

مرکب هغه لفظ چی دوه یا زیاتو کلماتو نه جوړوی ۔ددی دوه

قسمونه دی ۔۱۔مرکب مفید۔ ۲۔مرکب غیر مفید۔

۱۔مرکب مفید : هغه الفاظ چی اورریدونکی ته د څه خبرے خبر یا د څه

اول دوهٔ مثالونو نه خبر معلوم شو ،چی زید ولاړ دے او زید راغلے دے ۔

اخری مثالونو نه طلب معلوم شو چی اوبه راکه یا دیخوا راشه۔

<u>نوټ:</u>مرکب مفید ته جمله او کلام هم وائ ۔ یو جزء پکښې مسند وی او دویم جزء مسند الیه او ددی دوو کلمو په داسی شکل رایو ځا ے کیدو ته اسناد وائ۔

چی اوریدونکی ته خبر یا طلب واضح شی۔

پنځم سبــــــــــــــق

هغه لفظ چی د یو څو کلماتو نه جوړ وی او اوریدونکی ته تری خبر یا طلب معلوم نشی ،لکه کتاب الله ۔ رسولُ اللّٰهِ ۔ بابُ الَمسجدِ

دیته مرکب غیر مفید هم وائی ۔

د مرکب غیر مفید یو څو قسمونه دی دوه پکښې دادی:۔

مرکب اضافی: چی اوَلی کلمے ته ئی مضاف او دویمے ته مضاف الیه وائ۔ نخه ئی داده چی په اول اسم

باندی [الف لام،تنوین ،نون تثنیه او نون جمع]نه رازی دا به مضاف وی ۔

ددویم اسم نخه داده چی ہمیشه به مجرور وی ،جر مثلا آخری حرف باندی زیر وی''لکه قلم زیدٍ کتاب اللّٰهِ بابُ المسجدِ

۲۔مرکب توصیفی:اول کلمه موصوف وی او دویمه صفت وی۔او نخه ئی داده چی ددواړو کلمو آخری حالت به یو شان وی۔ لکه رجلٌ عالمٌ ثوبٌ جدیدٌ ۔ دی دواړو ته مرکب تقییدی هم وائی یعنی دویم اسم قید دے د اول دپاره۔ او باقی مرکبات غیر تقییدیه دی۔

مرکب غیر تقییدی هغه مرکب چی دویم اسم قید د اول دپاره نه وی۔لکه اَحدَ عَشَرَ سیبَویه بَعلبک ۔

د مرکب غیر تقییدی دری قسمه دی۔

۱۔مرکب بنائ یا عددی ۲۔مرکب صوتی ۳۔مرکب منع صرفی

۱۔**مرکب بنائ یا عددی** هغه دے چی بغیر د اسناد او بغیر د حرف ربط نه دوه اسمونو نه یو اسم جوړ وی او دریم جزء حرف عطف واو دننه وی،لکه احدَ عشرَ نه تر تِسعةَ عَشرَ پوری چی ددی اصل احدٌوَّعَشَرٌ وو۔

قاعده۔۔د مرکب بنائ دواړه جزونه مبنی وی په فتحه [زبر]باندی م ګر صرف اثنا عشرَ چی ددی اول جزء معرب دے۔

مرکب صوتی :چی دویم جزء ئی صوت [آواز] وی ۔ لکه ویحه،، سیبویه۔

مرکب منع صرفی:دے هم د مرکب بنائ پشان دے خو په دی کښی دویم

جزء کښی حرف عطف دننه نه وی۔ د عدد نه علاوه وی، ددی اول جزء مبنی وی په فتحه باندی۔ او دویم جزء ئی معرب غیر منصرف وی لکه بَعْلَبک۔

شپږم سبــــــــــق

مرکب مفید جمله او کلام په دوه قسمه دے۔ ۱۔جمله خبریه ۲۔جمله انشائیه

جمله خبریه هغه جمله ده چی ویئونکی ته ئی ریشتونے یا درو غژن وئیلے شی۔

بیا دا په دوه قسمه ده۔۔۱۔اسمیه ۲۔ فعلیه

۱۔**جمله اسمیه** ۔هغه جمله چی اول کلمه ئی اسم وی او مسند الیه وی او دویم کلمه ئی اسم یا فعل وی او مسند وی۔

لکه زید جالس ،زید جلس ،زید کاتب ،زید کتب۔

۲۔**جمله فعلیه** هغه جمله چی اول کلمه ئی فعل وی لکه جلس زید ،یکتب زید

جمله انشائیه هغه جمله ده چی وئیونکی ته ئی صادق یا کاذب نشی وئیلے لکه ،ایتِ بالماء، تعالَ۔

اووم سبــــق

د جملې اسمیې او فعلیې د ترکیب طریقه او د مسند او مسند الیه د پېژندو طریقه۔

په اسمیه کښې مبتداء مسند الیه وی او خبر مسند وی۔لکه زید نائمٌ۔ دلته زید مبتداء او نائم خبر دے۔ مبتداء او خبر جمله اسمیه خبریه شوه۔

په جمله فعلیه کښې فاعل یا نائب فاعل مسند الیه۔ وی او فعل مسند وی۔ لکه ضَرَبَ زیدٌ دلته ضرب فعل مسند او زید فاعل مسند الیه ۔فعل او فاعل جمله

فعلیه خبریه شوه۔

فعل ہمیشه مسند وی مسند الیه۔ نشی کیدے او اسم مسند او مسند الیه کیدے شی۔ او حرف نه مسند کیدے شی او نه مسند الیه کیدے شی۔

مسند حکم ته وائ او مسند الیه چی په چا حکم شوے وی۔

اتم سبـــــــــــق

د افرادو په اعتبار سره اسم په درے قسمه دے ۔ واحد ، تثنیه۔ ، جمع

واحد چی کوم اسم په یو دلالت کوی لکه رجل یو سړے۔

تثنیه چی کوم اسم په دوو دلالت کوی لکه رجلانِ دوه سړی۔

جمع چی کوم اسم په ډیرو دلالت کوی لکه رجال ډیر سړی۔

دتثنیې قاعده: د واحد په آخر کښې حالت رفعی کښې الف او نون زیر واله او په حالت نصبی او جری باندی یاء چی اول ترینه زور وی او نون زیر واله راشی نو تثنیه۔ به شی۔لکه رجلانِ رجلَینِ مسلمانِ مسلمَینِ امرئَتانِ امرئتَینِ ۔

د جمع دوه قسمه دی ۱۔سالمه ۲۔ مکسّره

مکسّره هغه ده چی د واحد وزن ئی روغ پاتی نشی ۔لکه رجل نه رجالٌ۔

سالم هغه چی د واحد وزن ئی روغ پاتی وی ۔ددی دوه قسمه دی جمع سالم مذکر او جمع سالم مؤنث۔

جمع مذکر سالم دپاره د واحد اسم په آخر به په حالت رفعی کښې واو ما قبل

مفتوح راشی نو جمع مذکر سالم به شی.لکه مسلمٌ نه مسلِمُونَ او مسلِمِینَ
.

د جمع مؤنث سالم دپاره چی د واحد په آخر کښی الف او تٌ حالت رفعی یا الف او تٍ حالت نصبی ،جری کښی زیات شی نو جمع مونث سالمه به شی. لکه د مسلمةٌ نه مسلماتٌ او مسلماتٍ . تاء مدوره ګول تاء په جمع کښی ختمی ګی.د هر اسم درے حالته وی یا رفعی یا نصبی یا جری. رفع اته ځایه وی نصب دولس ځایه ،او جر دوه ځایه وی روستو به بیان شی.

نهم سبـــــــــــق

د جنس په اعتبار سره داسم دوه قسمه دی.مذکر ، مؤنث.

مذکر: هغه اسم چی د مؤنث والی علامه پکښی نه وی لکه رجلٌ فرسٌ کتابٌ زیدٌ

مؤنث هغه اسم چی د تانیث علامه پکښی موجود وی لکه طلحةُ

د تانیث درے علامے دی :۱.تاء مدوره لکه طلحةُ

.الف مقصوره لکه صغریٰ کُبریٰ۲

. الف ممدوده لکه حمرآء بیضآء .۳

د علاماتو موجودیدو په اعتبار د مؤنث دوه قسمه دی

۱.قیاسی ۲. سماعی

مؤنث قیاسی: هغه وی چی علامه د تانیث ئی په الفاظو کښی موجود وی لکه طلحةُ صغریٰ حمرآء.

مؤنث سماعی : هغه وی چی علامه د تانیث ئی په الفاظو کښی موجود نه وی خو اهل زبان ورته مونث وائ .لکه ارضٌ شمسٌ .سَماع اوریدو ته وائی او دا هم د عربو نه داسی اوریدلے شوے وی.

بعضی مؤنث سماعی

.هغه اسمونه چی د مونث نوم وی لکه مریم.۱

.هغه اسماء چی د مونث سره خاص وی لکه اُخت اُمٌّ ۲

۴ـد انسان هغه اندامونه چی دوه دوه دی علاوه د [صدع ،حاجب ،او خد] نه لکه يدٌ رِجلٌ عينٌ ـ

لسم سبـــــــــــق

د تعين او عدم تعين په اعتبار سره اسم په دوه قسمه دے۔ ۱ معرفه ۲ـنکره

۱ـ**معرفه :** هغه اسم دے چی په معين شي باندی دلالت کوی ـاو داسی اسماء اووه دی ـ

۲ـ**ضمائر،** لکه هوَ انتَ انَا

۳ـ**اسمائے موصوله** :لکه الّذی الّتی

۴ـ**اسمائے اشاره** :لکه هٰذٰ ذالِک

۵ـ**معرف باللام** : هغه نکره اسم چی د الف لام په وجه معرفه شي۔لکه الکتاب،الرجُل ،البيت۔

۶ـ**هغه اسم چی دی مذکور کښی چاته مضاف وی۔**لکه ،کتابه،کتاب

هٰذا،کتاب الذی ،کتاب زيد،کتاب الرجل۔

۷ـ**معرفه بالنداء:** چی چاته په اواز کولو سره معرفه شي لکه يا رجلُ۔

۲ـ**نکره** هغه اسم چی په غير معين شي باندی دلالت کوی لکه فرسٌ يو اس رجلٌ يو سړے مسجدٌ يو جومات۔ د معرفے د اووه قِسمونو نه علاوه ټول

اسماء نکره دی۔

يوولسم سبـــــــــــق

د آخری حرف د تبديلئ په اعتبار سره د کلمے دوه قسمه دی۔ ۱ـمعرب ۲ـ مبنی

۱ـ**معرب** هغه کلمه ده چی آخر ئی د عامل په بدليدو سره بدل شي۔عامل هغه دے چی د چا په وجه د کلمے په آخر کښی تبديلی رازی۔

اعراب هغه تبدیلئ ته وائ چی د معرب په آخر کښی وی ،او محل اعراب د معرب آخری حرف د ے۔لکه جاءَ زیدٌ زید راغلے د ے ۔جاءَ فعل زیدٌ فاعل د ے ۔فعل عامل د ے ددی وجے نه د زید په آخری حرف باندی رفع راغلے ده۔ نو زید معرب شو او دال د زید محل اعراب شو او ضمه اعراب شو۔

یا رَاَیتُ زیدًا دلته رَاَیتُ عامل د ے او زید ئی مفعول د ے د زید په آخر ئی تبدیلی راوستی ده چی نصب د ے۔نو زید معرب دال محل اعراب او فتحه اعراب شو۔

مَرَرتُ بزیدٍ کښی باء حرف جار عامل د ے د زید آخر کښی ئی تبدیلی راوستی ده چی جر د ے۔ نو زید معرب شو او دال د زید محل اعراب شو او کسره اعراب شو۔

قاعده:: د اسم معرب اعرابونه در ے دی، رفع ،نصب ، جر۔په کوم اسم چی رفع وی هغے ته مرفوع وائی ،په کوم اسم چی نصب وی هغے ته منصوب وائی،په کوم چی جر وی هغے ته مجرور وائی۔

مبنی هغے کلمے ته وائی چی همیشه په یو حال وی عامل پری بدلی ګی او آخر ئی نه بدلی ګی ۔لکه جاءَ هٰذا، رَاَیتُ هٰذا،مررتُ بِهذا۔

دولسم سبـــــــــــق

مبنی اسمونه اته دی ،دی ته اسماء غیر متمکنه هم وائی۔

دی ته مشابه مبنی الاصل هم وائی مبنی الاصل در ے دی :فعل ماضی ،امر حاضر

معروف ،ټول حروف۔

۱۔ضمائر ۲۔اسماء اشارات ۳۔اسماء موصولات ۴۔اسماء افعال ۵۔اسماء اصوات ۶۔اسماء ظروف ۷۔اسماء کنایات ۸۔مرکب بنائی یا عددی ۔

۱۔ ضمائر یا ضمیرونه:

ضمیر هغه ااسم د ے چی د غائب یا حاضر یا متکلم دپاره مقرر شوے وی۔

ضمیرونه در ے دی **۱۔مرفوع ۲۔منصوب ۳۔ مجرور**

مرفوع۔ یا متصل او منفصل

مرفوع متصل :چی په هر فعل کښی وی چه لکه صیغې څوارلس دی دغه شان ضمائر هم څوارلس دی۔چی په فعل کښی د اول نه پروت وی که ماضی وی که مضارع او که امر او که نهی ،دیته مرفوع متصل وائی۔لکه ضربَ کښی هُوَ یضرِبُ کښی هُوَ اِضْرِبْ کښی انتَ لا تضْرِبْ کښی انتَ۔

مرفوع منفصل :هغه ضمیر چی د فعل نه جدا راغلے وی ،یعنی فعل کښی چی کوم ضمیر د اول نه د خپلی خپلی صیغې موافق پروت وو د هغې تعبیر په جدا لفظ سره کوی ۔

مرفوع په دوه قسمه شو ،منفصل او متصل ۔ متصل لکه ضربَ ضربا ضربوا۔ او یَضْربُ یضربان یضربون اخره پورے چی کوم ضمیر پروت دے۔

منفصل : هُوَ هما هم هی هما هُنَّ انت انتما انتم انتِ انتما انتُنَّ انا نحنُ۔

دویم منصوب :متصل او منفصل

متصل لکه : هُ هُما هم ها هما هنَّ کَ کُما کُم کِ کما کُنَّ یَ نَا د اچی د فعل سره یو ځاے راشی نو منصوب متصل ورته وائی۔ لکه ضَرَبَهُ ضربهما. ضَربَهم

ضربها ضربهما.ضربهنَّ الخ

منصوب منفصل : چی ددی ضمائرو نه مخکښی ایَّا اول کولے شی نو منصوب منفصل به شی۔لکه ایّاه ایّاکَ ایّایَ۔

مجرور متصل: چی ددی ضمائرو نه مخکښی حرف جار یا اسم مضاف راشی نو بیا ورته مجرور متصل وائی۔لکه لَهُ لَکَ لِی، کتابُهُ کتابکَ کتابِی۔

ضمائر ټول پنځه شو

۔مرفوع متصل ۲۔مرفوع منفصل ۳۔ منصوب متصل ۴۔منصوب۱ منفصل ۵۔مجرور متصل۔

مرفوع متصل :دا هغه ضمائر د چی فاعل یا نائب فاعل جوړی ګی او په ہر فعل کښی پخپله پروت وی دا

څوارلس دی۔

لک ضَرَبَ کښی هُوَ

ضربوا کښې واو

ضربتْ کښې هِیَ

ضربتا کښې الف

ضربنَ کښې نَ

ضربْتَ کښې تَ

ضربتُما. کښې تُما

ضربتم کښې تُم

ضربتِ کښې تِ

ضربتُما. کښې تُما

ضربْتُنَّ کښې تُنَّ

ضربتُ کښې تُ

ضربنا کښې نَا

دغه شان په مضارع ،امر ،نهی کښې هم څوارلس دی۔

مرفوع منفصل : هغه ضمائر چی د فعل نه جدا راشی او فاعل یا خبر یا مبتدا جوړیږی دا هم څوارلس دی۔

هُو هُما هُم هِیَ هُما هُنَّ انْتَ انْتُما. انْتُم انْتِ انْتُما انْتُنَّ انا نحْنُ۔

منصوب متصل: هغه ضمائرچی مفعول به وی او د فعل سره دویم نمبر متصل راشی۔یعنی فعل کښې چی کوم ضمیر دا اول نه وو هغه به مرفوع متصل شی او دا به منصوب متصل شی۔ او چی په کوم ضمیر باندی اِنَّ اَنَّ کَاَنَّ لٰکِنَّ لیتَ لعلَّ راشی نو دا به هم منصوب متصل وی ۔لک اِنَّنِی اِنَّکَ وغیره۔

منصوب متصل بفعل :لکه ضَرَبَنِی ضربنا. ضَرَبَکَ ضربَکما. ضَرَبَکُم ضَرَبَکِ ضَرَبَکُما ضَرَبَکُنَّ ضَرَبَهُ ضَرَبَهُما. ضَرَبَهُم ضَرَبَهَا. ضَرَبَهُما. ضَرَبَهُنَّ

اِنَّنِی اِنَّنا اِنَّکَ اِنَّکما اِنَّکم اِنَّکِ اِنَّکُما. اِنَّکُنَّ اِنَّهُ اِنَّهُما
اِنَّهُم اِنَّهَا اِنَّهُما اِنَّهُنَّ۔

منصوب منفصل : چی د فعل نه جدا وی او ترکیب کښی منصوب یعنی مفعول به وی۔

اِیَّاِی اِیَّا نا اِیَّا کَ اِیَّا کما اِیَّاءکم اِیَّا کِ اِیَّا کُما اِیَّا کُنَّ اِیَّا هُ
اِیَّا هُما اِیَّا هُم اِیَّا هَا اِیَّا هُما. اِیَّا هُنّ

مجرور متصل : دا هغه ضمیر دے چی د حرف جار نه وروستو راشی یا د اسم

ظاهر نه روستو راشی اول جار مجرور ، دویم ته مضاف الیه. وائی۔

لکه: لی لنا لکَ لکما لکم لکِ لکُما لکُنَّ لهُ لهُما
لهُم لهَا لهُما لهُنّ

یا لکه: منی منا منک منکما منکم منکِ منکُما منکُنَّ منهُ
منهُما منهُم

منهَا منهُما منهُنَّ۔

: د اسم ظاهر نه بعد

لکه کتابِی کتابنا. کتابکَ کتابکما. کتابکم کتابکِ کتابکُما
کتابکُنَّ کتابهُ کتابهُما اکتابهُم کتابهَا کتابهُما کتابهُنّ۔

یا لکه: ربِی ربنا ربکَ ربکما ربکم ربکِ ربکُما ربکُنَّ
ربهُ ربهُما. ربهُم ربهَا ربهُما ربهُنّ۔

<u>تمرین</u>

ضَرَبْتُ : تُ کوم ضمیر دے؟

ضَرَبْتُ سره کَ کِ ہ هُما هُم دویم ضمیر ټل که چه منصوب متصل تری جوړ شی۔

کَ کِ هُ هُما هُن کُن کُما کُم نه
مخکښی دارٌ مسجد ،فصل ،عذاب ، اسماء ول ګوه نو کوم اِسم به تری جوړ شی ؟

چی د ضمیر نه مخکښی اسم ظاهر وی یا حرف جار وی هغه ته کوم ضمیر وائی؟

ضمیر نه مخکښی فی ،الیٰ علیٰ ول ګوه مثلا: فیه ، فیکَ ،الیه ،الیک۔ علیه علیکَ۔

فیهما فیکما

فیهم فیکم

فیها فیک

فیهما فیکما

فیهن فیکن

فیَّ فینا

دغه شان دا نور جوړ که او د اکوم ضمیر شو؟

اِضۡرِبۡ کښی یو خپل ضمیر انت ضمیر مرفوع متصل دویم ورسره ه هُما هُم ها هُما هُنّ ی نا ول ګوه چی دویم ضمیر منصوب متصل جوړ شی ۔

مثلا: اضربه. اِضۡربهما اضربۡهم اضربۡها. اضربۡهما اضربۡهن اضربۡنی اضربۡنا.

تَضۡرِبۡنَ ن د جمع مونث ضیر مرفوع متصل دے دویم ورسره ی نا ه هُن هما هُم ول ګوه نو بل به کوم ضمیر جوړ شی ؟

لاتَضۡرِبا الف د مخکښی نه خپل ضمیر مرفوع متصل دے دویم ضمیر ه هما. هم ها هما هُن نی نا ال ګوه چه دغه دویم ضمیر منصوب متصل شی ۔

ضَرَبۡتُکَ اَضۡرِبُکَ اِهۡدِنا اُنصُرۡنا

لاتُعَذِّبۡنا ظَلَمُونَا ظَلَمۡنا ظَلَما ظَلَمَنَا

ضَرَبُونا ضَرَبۡنا. ضَرَبَنا. عَلَینا رَحِمۡنا

رَحِمَنا جَعَلۡنا جَعَلَنا. کُلُّهم بعضها

یَضۡرِبُک نَعۡبُدُک نَسۡتَعِینُکَ ،دا ضمائر معلوم که او

ترجمه کښې د فاعل ضمیر فاعلی معنیٰ او د منصوب ضمیر مفعولی ترجمے خیال ساته۔

لکه ضَرَبْتُکَ ضربتُ کښې تُ اول ضمیر د مخکښې نه پروت دے د واحد متکلم ،نو دا فاعل شو مرفوع متصل دے ترجمه ئی فاعلی وکه"ما وهلے دے"" کَ دویم ضمیر دے د مفعول منصوب متصل دے نو مفعولی ترجمه ئی وکه""تا لره""د ضربْتُکَ " ترجمه شوه ما وهلے دے تا لره۔

تا وهلے دے مالره دا غلطه ده اُلټه ده فاعل د مفعول کو او مفعول د فاعل کو دغه شان نورو مثالونو کښې غور وکه۔

دیارلسم سبـــــــــــق

دویم اسم مبنی اسم اشاره ده: دا هغه اسم دے چی دی دپاره وی چی څه شی ته پری اشاره کولے شی، اسماء اشاره دوه قسمه دی ۔**١۔۔۔قریب ٢۔۔۔بعید**

چی نزدی ته پری اشاره کولے شی هغه اسماء اشاره قریب دی او دادی ۔

هٰذا دایو سړے هٰذان ،هاذین دا دوه سړی

هٰذه دایوه ښځه هاتان،هاتین دادوه ښځی

هٰؤلاء دا ټول سړی یا ښځې

چی ددی نه اول "ها" اول کی نو قریب دپاره وی او چی اخر کښې کَ کُما کُم لګی نو بعید دپاره دی۔

هغه یو ذالک هاغه دوه ذانک ذینک

هغه یوه تلک هاغه دوه مونث تانک تینک

اولٰئک هاغه ډیر سړی یاښځې

قاعده : ١۔په اسم اشاره سره چه کوم شی ته اشاره وشی هغه ته مشارٌ الیه وایی

۔ اسم اشاره او مشارٌ الیه اعراب یو دے ۔البته اسم اشاره باندی اعراب نه٢ راځی ځکه چی مبنی ده ۔

لکه جاء هٰذا الرجلُ   راغے دا سړے   جاء فعل دے او هٰذا الرجلُ يې فاعل دے مرفوع دے۔

نو الرجل هم مرفوع دے چې مشارٌ اليه ده۔ترکيب داسې شو :جاء فعل هٰذا اسم اشاره الرجل مشارٌ اليه،اسم اشاره او مشارٌ اليه ملګر فاعل شو،فعل فاعل ملګر جمله فعليه خبريه شوه۔

قاعده۔۔۔هٰذا نه چې روستو نکره يا اسم علم راشي نو مبتدا خبر به وي ۔ لکه هٰذا رجلٌ ،زيد هذا مبتدا او رجل يا زيد خبر۔او چې معرف باللام ترې روستو راشي نو اسم اشاره مشارٌ اليه به وي۔لکه هذا الرجل   دلته هذا اسم اشاره او الرجل مشار اليه شو۔

څوارلسم سبـــــــــــق

۔دريم اسم مبنی اسمائے موصوله دی۔۳

اسم موصول هغه اسم دے چې د جملے جزء هله شي چې د صلے سره ملاو شي۔

او صله هغے جملے ته وايې چې د موصول نه روستو راشي۔چه.اسم موصول د جملے پوره

جزء و ګرزوی يعنی مبتدا يا خبر يا فاعل يا مفعول وغيره ئې و ګرزوی ۔

قاعده : کومه جمله چې د موصول ده پاره صله جوړې ګی هغے کښې   به يو عائد ضروری وی چې را ګرزی اسم موصول طرفته۔

لکه جاء الذی ضربَکَ   راغے هغه سړے چې ته يې وهلے وی۔

په دی جمله. کښې الذی اسم موصول دے ضربک يې صله ده موصول صله ملګر فاعل شو،فعل فاعل ملګر جمله فعليه خبريه. شوه او عائد

ضَرَبَ کښې هُوَ شو چه راګرزی الذی ته۔

يو څو اسمائے. موصوله دادی۔

الذی هغه يو سړے چې هغه۔۔۔الذانِ/الذينِ هغه دوه سړی چې هغوی۔۔۔

الذينَ هغه ټول سړی چې هغوی۔۔۔التی هغه يوه ښځه چې هغه۔۔

التانِ/التينِ هغه دوه ښځې چې هغوی۔۔الاتی/الواتی هغه ډیرے ښځې چې هغوی۔۔

ما   هغه شے چې ----

مَنْ هغه څوک چې---

ایٌّ څه څیز ---

ایّةٌ څه څیز---

۔څلورم قسم مبنی اسمائے افعال دی۔۴

چې وی اسم او معنیٰ د امر حاضر ورکوی

لکه رُوَیدَ معنیٰ یې ده پریده۔دا اسم له نصب ورکوی لکه روید زیدًا

یا وی اسم او معنیٰ د ماضی ورکوی ۔لکه شتّانَ معنیٰ یې لری شوے دے۔دا اسم له رفع ورکوی شتّانَ زیدٌ۔

د اسم فعل د وضع کولو یو څو مقاصد دی

۔اختصار :لکه رویدَ ،مذکر مؤنث جمع واحد ټولو ته۱

۔دوام او استمرار لکه نزالِ۲

۔استعجاب: هیهاتَ هیهاتَ لما توعدونَ، شتّا ن کښې د افتراق شدت دے۳ سرّعانَ کښې تعجب دے په سرعت باندی چې په بعُدَ ، افترقَ ،او سَرَعَ کښې دغه معانی نشته۔

د اسمائے افعال د ترکیب دوه طریقے دی ۔

۔ دغه اسم فعل سره د فعل او فاعل نه جمله فعلیه وی۔۱

۔اسم فعل چې د کوم فعل په معنیٰ وی د هغے مناسب ترکیب وشی ،لکه د۲ شتان نه په بعُدَ سره چه بَعُدَ سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه شوه۔

بَلْهَ۔۔ددی د استعمال څلور طریقے دی

۔اسم فعل بمعنیٰ دَعْ ما بعد له نصب ورکوی۔۱

۲-مصدر مضاف مفعول طرفته لکه بَلّہَ زیدٍ یعنی مفعول مطلق د فعل محذوف- اُتْرُکْ زیدا بلهًا فعل حذف شو او مفعول مطلق مفعول به ته مضاف شو-

۳-بلهًا یعنی اُترک زیدا بلهًا -

۴-بلہَ بمعنیٰ کیف ما بعد به مرفوع وی مبتداء مؤخر به وی او بلہَ به خبر مقدم وی بَلّہَ الاَکُفُّ ای کَیف الاَکُفُّ-

اسم فعل مضاف نه شی کیدے او اسم فعل منون نکره او غیر منون معرفه وی لکه صَہٍ او صَہ

پنځم اسم مبنی اسماۓ اصوات

داسی اسم چی په هغی باندی حیوان ته اواز کوی لکه نَخِّ عرب اوښ کینولو دپاره وائی-یا داسی اسم چی په هغے د چا اواز نقل کول وی یا د تکلیف اظهار غرض وی -لکه غاق غاق اُفّ

شپږم اسم مبنی اسماۓ ظروف دی

هغه اسم چی د یو کار وخت یا مکان د پاره وی، لکه اِذْ اِذَا خَلْف فَوْق تَحْت اَمام

اووَم اسم مبنی اسماۓ کنایات دی

هغه اسم چی مطلب ئی څه خبره وی،،لکه کیتَ زیتَ څه خبره کول-

یا څه عدد ته اشاره وی لکه کَمْ کَذَ

اتم اسم مبنی مرکب بنائی یا عددی دے -

لکه احدَ عشرَ نه تِسَعةَ عشرَ پورے عربئ کښی دا نهه عددونه مبنی دی

پنځلسم سبـــــــــــق

د اسم معرب دوه قسمه دی منصرف او غیر منصرف اسم معرب ته اسم متمکن هم وائی لکه چی اسم مبنی ته اسم غیر متمکن وائی- د مذکوره اته ۸ قسمه نه علاوه باقی اسماۓ معربه یا اسماۓ متمکنه دی-

۱۔منصرف هغه اسم دے چی د غیر منصرف کیدو دوه سببونه پکښی نه وی لکه رَجُل۔

اسم منصرف باندی تنوین ،کسره ،ضمه ،فتحه،دریواړه حرکته راتلے شی ۔

لکه رجلًا رجلٍ رجلٌ

۲۔اسم غیر منصرف:

هغه اسم چی دوه سببونه د اسباب منع صرف نه یا یو چی قائم وی په مقام د ددوو سببونو موجود شی ۔او کسره او تنوین پری نه رازی لکه: عُمَرُ عُمَرَ۔

:اسباب منع صرف

۱:عدل:: ۲::وصف ۳:: تانیث ۴::معرفه ۵::عجمه ۶::جمع ۷::ترکیب ۸::وزن فعل ۹::الف نون زائدتان په غیر منصرف اسم باندی کسره او تنوین نه رازی۔

لکه۔ طلْحةُ احمدُ زینبُ حُبْلیٰ صحراءُ ابراهیمُ
مساجدُ بعلبکَ عثمانُ نعمانُ۔

عدل: دلته د اوختیدلو په معنیٰ سره دے ،یو اسم د خپل اصلی شکل نه واوړی بل شکل ته بغیر د قانون او قاعدے نه۔ اصلی شکل ته معدول عنه وائی او دویم شکل ته معدول وایی۔ او دی بے قانونه تبدیلۍ ته عدل وایی،

لکه د عُمَرُ اصل شکل عامِرٌ وو، دلته عامر معدول عنه او عمر معدول شو۔

دی ته عدل تقدیری وایی یعنی فرضی عدل دے۔ ځکه معدول عنه یی یقینی معلوم نه دے چی دے د عامر نه جوړ دے۔

ثُلٰثُ دا هم غیر منصرف دے یو سبب پکښی وصف دے او بل عدل دے ۔یعنی اوړیدلے دے د اصلی شکل نه بل شکل ته۔ او اصل شکل ئی یقینی معلوم دے چی ثلٰثةٌ ثلٰثةٌ دے ۔ ځکه چی د ثُلٰثُ ترجمه. درے نده بلکه درے درے ده یعنی یوه پیره درے نه بلکه دوه پیرے درے درے او دا په عربۍ کښی ثلٰثةٌ ثلٰثةٌ رازی۔خو بیا بغیر د قانون نه تری ثُلٰثُ جوړ دے دیته عدل تحقیقی وائی۔ ځکه چی معدول عنه ئی یقینی معلوم دے۔

قاعده: د عدل شپږ اوزان دی ۔ثُلاثُ مَثْلَثُ عُمَرُ سَحَرُ اَمْس

تفصیل یې داد ے فُعال لکه ثلاث درے درے رُباع څلور څلور

۲ـ مفعل لکه مثلث درے درے مرّبع څلور څلور

۳ـ فُعَل لکه عمر زفر ۴ـ فَعَل

لکه سَحر ۶ـ فَعَّلِ لکه امسِ ۶ـ فعالِ لکه قطامِ حزامِ ـ ـ

سوال :مَرَرْتُ بنسوة اربع. کښې اربع غیر منصرف پکار وو ؟وزن فعل او وصف دی پکښې ۔

جواب: دلته دا وصف عارضی د ے اصلی ند ے ۔

قاعده : معرفه او وصف یو اسم کښې نشی جمع کید ے ـ معرفه د وصف نه علاوه نورو ټولو اسبابو سره جمع کید ے شی ۔

عجمه

عجمه غیر عربي لفظ وی ددی دپاره علمیت شرط د ے ۔

او بل شرط داد ے چې کلمه کښې حروف ده دریو نه زیات وی لکه ابراهیم۔ او که د درے حرفي وی نو چې متحرک الاوسط وی لکه شَتَرَ ۔

فائده : لِجامٌ منصر ف د ے ا گر چې عجمی د ے ل ګام ته وایې خو معرفه نده د چا نوم ند ے ۔

ترکیب : یعني دوه کلمې یو شی بغیر د اضافت نه یا صفت نه ـ لکه بَعَلٌ او بَکٌّ دوه نومونه د یو شهر نوم کیخودو چې بَعَّلَبَکَّ شو۔

اَحْمَدُ د فعل په وزن د ے او دویم سبب معرفه ده ۔

قاعده::: تانیث بالالف او جمع منتهی الجموع د دوو سببونو قائم مقام ده

قاعده : د غیر منصرف نه منصرف جوړولو قاعده داده چې الف لام پری داخل شی یا مضاف شی ۔ نو بیا پری کسره راتلې شی۔

قاعده: تانیث بالالف ممدوده او مقصوره دپاره شرط نشته۔

قاعده: تانیث بالتاء دپاره علمیت شرط د ے ۔

قاعده : تانیث معنوی دپاره علمیت هم شرط د ے او درے شرطونه دا هم

۱۔کلمه به درے حرفو نه ذیاته وی لکه زینب،مریم۔

۲۔او که کلمه درے حرفی وی درمیان به متحرک وی لکه سَقَرُ۔

۳۔او که درمیان ساکن وی نو بیا ضروری ده چی عجمی وی لکه ماهٌ جورٌ۔د دوو ښارونو نومونه دی ۔او که عجمی نه وی نو بیا منصرف او غیر منصرف دواړه صحیح دی لکه هندٌ او هندُ۔

جمع : یعنی د اسم د منتهی الجموع په وزن باندی جمع کیدل او دا دوه وزنه دی ۔

۱۔مفاعل لکه مساجد ،دوابّ یعنی د الف د جمع نه روستو دوه حرفه وی

که مدغم وی او که متحرک وی ۔

۲۔مفاعیل۔لکه مصابیح یعنی الف نه روستو درے حرفه وی او ساکن الاوسط وی ۔

قاعده :که د جمع په آخر کښی تاء راشی نو هغه به منصرف وی لکه صیاقلةٌ برامکةٌ صیارفةٌ اشاعرةٌ ۔

قاعده : جمع منتهی الجموع د دوو سببونو قائم مقام ده۔ نور مثالونه: دنانیرُ دراهمُ جواهرُ قنادیلُ عصافیرُ قراطیسُ ۔

ترکیب

ترکیب نه مراد مرکّب منع صرفی دے ۔خو چی دویمه کلمه نه صوت وی او نه حرف عطف واو لره متضمنه وی۔لکه بعلبک معدیکرب حضرموت۔

ددی دپاره علمیت شرط دے۔

الف نون زائدتان

یعنی د اسم په آخر کښی الف نون زائد راتلل۔ که ذات کښی وو نو شرط ورله علمیت دے ، لکه عثمانُ او که وصف کښی وو نو شرط ورله داد ے چی مونث به ئی د فعلانةٌ په وزن نه وی لکه سکران۔

او ندمانٌ او عریانٌ منصرف دی مونث یې ندمانةٌ او عریانةٌ رازی۔

یعنی اسم ده فعل په وزن باندی کیدل ،دفعل په اوزانو کښی د دری قسمه اوزانو اعتبار د ے ۔

۱۔دفعل مخصوص وزن چی په اسم کښی شاذ و نادر موند ے شی ،او داسی وزنونه دوه دی ،لکه فَعَّلَ کَلَّمَ فُعِلَ ضُرِبَ۔

۲۔فعل کښی کثیر الاستعمال وزن وی ،د ثلاثی مجرد فعل امر وزن د ے ۔لکه اِفْعَلْ اِفْعِلْ اُفْعُلْ

۳۔د مضارع وزن چی شروع کښی د حروف اتین نه یو حرف وی لکه یزید تغلب احمد نرجس

فائده :ددی دپاره شرط داد ے چی په اخر کښی یې ة نه وی ۔ پس یَعْمَلٌ منصرف د ے چی مونث یې عرب یعملةٌ وایی ، ناقةٌ یعملةٌ۔

شپاړسم سبــــــــــــق

د اسم اعراب یعنی اخری حالات در ے دی رفع نصب جر۔

یعنی کوم اسم چی په جمله کښی راشی نو ضرور به یې ددی دریو حالاتو نه یو حالت وی یا به مرفوع وی یا منصوب یا مجرور۔

اسم به مرفوع په اته ځایونو کښی وی یعنی مرفوعات اته دی ۔

۱۔فاعل ۲۔نائب فاعل ۳۔مبتداء ۴۔خبر ۵۔د اِنَّ خبر ۶۔دکانَ وغیره اسم ۷۔د ما و لا مشابهٖ بلیس اسم ۸۔د لا ے نفی جنس خبر۔

فاعل

فاعل هغه اسم د ے چی د فعل نسبت ورته شو ے وی ۔یعنی چی د چا په ذریعه فعل موجود شی ۔

لکه قامَ زیدٌ کښي زید فاعل د ے چی د قامَ نسبت ورته شو ے د ے۔او ودریدل دده په ذریعه وجود ته راغلل۔

قاعده :فاعل کله کله اسم ظاهر وی لکه قامَ زیدٌ قد سمع اللّٰهُ۔

او کله کله اسم ضمیر وی لکه اکلتُ ما خوړ لی دی ۔

قاعده :فاعل کله کله ضمیر بارز وی یعنی ظاهر وی لکه اکلتُ کښی تُ ضمیر

او کله کله ضمیر مستتر یعنی پټ فاعل وی لکه ضَرَبَ کښی هُوَ اَضربُ کښی انا وغیره۔دا ضمائر مستتر یعنی پټ دی ۔یعنی فعل کښی خکاره حرف د ضمیر دپاره نشه ۔

قاعده : چی کله فاعل اسم ظاهر وی نو فعل به ہمیشه د مفرد صیغه رازی لکه :ضرب الرجلُ ضرب الرجلانِ ضرب الرِجالُ

یضرب الرجلُ یضرب الرجلانِ یضرب الرجالُ

یعنی چی فاعل اسم ظاهر وی ضمیر نه وی نو بیا د فعل نورو صیغو ته ضرورت نشته بس صرف ضَرَبَ یا ضَرَبَتْ او یضربُ یا تضربُ۔ واحد مذکر غائب او واحد مونث غائب کافی دی ۔

قاعده : چی فاعل ضمیر وی نو بیا فعل د ضمیر مطابق پکار وی ،یعنی واحد له واحد تثنیے له تثنیه جمع له جمع۔ لکه الرجل ضربَ الرجُلانِ ضربا الرجالُ ضربوا یا ضربت دغه شان الرجل یضربُ الرجلانِ یضربانِ الرجالُ یضربونَ المرئةُ ضربتْ المرئتانِ ضربتا النساءُ ضربْنَ۔

ترکیب ضربَ فعل الرجلُ فاعل فعل فاعل جمله فعلیه خبریه شوه ۔

ترکیب۔الرجل مبتداء ضرب فعل هوَ ضمیر فاعل فعل فاعل جمله فعلیه خبریه ہوکر خبر د مبتداء ،مبتداء خبر جمله اسمیه خبریه شوه۔

خلاصه داشوه :چی د دولسو صیغو فاعل پوخ دے همیشه به ضمیر وی او د دوو صیغو فاعل به کله ضمیر وی او کله اسم ظاهر ۔

قاعده : دوو صورتونو کښی فعل مونث راوړل ضروری دی ۔

۱ ـچی کله فاعل مونث حقیقی وو او فاصله نه وه په فعل او فاعل کښی

لکه قامتْ فاطمةُ

۲ـچی کله فاعل د مونث طرفته واپس کیدونکے ضمیر وو لک

زینبُ قامتْ الشمسُ طَلعتْ۔

قاعده په دریو صورتونو کښی فعل مذکر او مونث دواړه صحیح دی ۔

۱ ـچی کله فاعل مونث حقیقی وی خو د فعل او فاعل درمیان کښی فاصله وی

۲۔چی کله فاعل اسم ظاهر غیر حقیقی وی لکه طلع الشمسُ طلعتِ الشمسُ۔

۳۔چی فاعل جمع مکسره وی لکه قام الرجالُ او قامتِ الرجالُ۔

قاعده چی کله فاعل ضمیر وی او جمع مکسر طرفته واپس کیدونکے وی نو فعل واحد مونث او جمع مذکر دواړه جائز دی ۔لکه الرجال قامتْ او الرجالُ قاموا۔

قاعده :فاعل عام طور د مفعول نه اول وی کله روستو هم شی ،لکه و اذابتلیٰ ابراهیمَ ربُهُ بکلمات الخ۔

قاعده : په دریو صورتونو کښې فاعل اول راوړل ضروری دی ۔

۱۔چی د فاعل او مفعول دواړو اعراب تقدیری وی ا وقرینه هم نه وی ،لکه ضربتْ صُغریٰ کُبریٰ۔

۲۔چی کله فاعل ضمیر متصل وی لکه ضربتُ زیدا

۳۔چی مفعول د الّا نه بعد وی یعنی د مفعول حصر کول مقصود وی لکه ماضرَبَ زیدٌ الّا عمروا۔

اوولسم سبـــــــــــــــق

:دویم اسم مرفوع نائب فاعل

نائب فاعل هغه اسم دے چی هغه طرفته د فعل مجهول نسبت شوے وی لکه شُرِبَ الْماءُ فُتِحَ البابُ خُلِقَ الِانْسانُ

دلته الماء الباب الانسان په حقیقت کښې مفعول به دی ،

اوبه څکلی شوی دی دروزه کولاو کړے شوی ده انسان پیدا کړے شوے دے ۔

د فاعل یعنی څکونکی کولاونکی پیدا کونکی تذکره پکښې نشته ۔ نائب فاعل ته مفعول ما لم یسم فاعله هم وائی۔

کومے قاعدے چی د فاعل په سبق کښې تیرے شوی دغه قاعدے د نائب فاعل هم دی ،د فاعل ځائے نائب فاعل وایا نوره ټوله یوه قاعده ده ۔

دلته صرف مثالونه ذکر کوو۔

الرجلُ ضُرِبَ الرجلانِ ضُرِبَا الرجالُ ضُرِبوا ۔ضُرِبَتْ

دریم اسم مرفوع مبتدا

مبتدا د جملے اسمیے اول جزء ته وایي د کوم نه چی د خبری شروع کولے شی ۔او د چا باره کښی چی د خبری اطلاع ورکولے شی ۔

مبتدا مسند الیه وی لکه اللهُ خالِقٌ ۔

(یو قسم د مبتدا دا هم دے چی مسند الیه نه وی او مبتدا وی هغے ته قسم ثانی د مبتدا وایي ،نورو درجو په کتابونو کښی به راشی) ۔

څلو رم اسم مرفوع خبر

د جمله اسمیے دویم جزء ته خبر وایي،د مبتدا باره کښی چی کومه اطلاع وی هغے ته خبر وایي،لکه اللهُ خالِقٌ کښی خالقٌ خبر دے دے ته مسند هم وایي۔

قاعده: مبتدا اکثر معرفه وی او خبر اکثر نکره وی ،او دواړه مرفوع وی ۔

اتلسم سبق :

پنځم اسم مرفوع خبر د اِنَّ وغیره

اِنَّ اَنَّ كَاَنَّ لٰكِنَّ لَيْتَ لَعَلَّ

دے حروفو ته حروف مشبه بالفعل وایي، او دا په مبتدا خبر باندی داخلی ګی ۔ مبتدا ته اسم د اِنّ وایي او خبر ته خبر د اِنّ۔

اسم [مبتدا] له نصب ورکوی او خبر له رفع ورکوی ۔

جمله بعد د دخول د اِنّ وغیره	قبل ددخول نه
اِنَّ اللهَ علیمٌ	اللهُ علیمٌ
علمۡتُ اَنَّ اللهَ قدیرٌ	اللهُ قدیرٌ
كَاَنَّ زیدًا اسدٌ	زیدٌ اسدٌ
لیتَ الشّبابَ راجعٌ	الشّبابُ راجعٌ
لٰكِنَّ الاستاذَ شفیقٌ	الاستاذُ شفیقٌ
لعلّ المسافرَ قادمٌ	المسافرُ قادمٌ

هغه ما او لا چی د لیسَ په معنیٰ وی نو دیته مشابه بلیس وایی دا هم په جمله اسمیه باندی داخلی ګی لکه زیدٌ قائمٌ نه ما زیدٌ قائمًا

زید ولاړ دے زید ندے ولاړ۔

رجلٌ افضَلُ منکَ باندی لا داخل که لارجلٌ افضلَ منکَ

یو سړے ستا نه بهتر دے یو سړے ستا نه بهتر نشته۔

اِن اَنّ وغیره د ما او لا اُلټه عمل کوی۔

اووم اسم مرفوع خبر د لاے نفی جنس

لاهغه لا ده چی په نکره داخل شی او د پوره جنس نفی کوی ۔

دا اسم له نصب او خبر له رفع ورکوی

لکه رجلٌ قائمٌ لا رجُلَ لا قائمٌ۔

سړے ولاړ دے نوم سړے ولاړ نشته

نولسم سبـــــــــــــق

اتم اسم مرفوع اسم د کانَ وغیره

دیته افعال ناقصه وایی د اټول دیارلس دی ،اسم له رفع ورکوی خبر له نصب ورکوی ۔افعال ناقصه دادی:

کانَ وو صارَ شو اصبَحَ سحر کښی وشو امسیٰ بیګا ته وشو اضحیٰ چاشت کښی وشو
ظَلَّ پوره ورځ باتَ ټوله شپه مابرحَ نه لرے کیدو مادام ترڅو پورے ماانفکَّ جدا
نه شو لیس نه دے ما فتیٰ همیشه ما زالَ همیشه

قبل د دخول د کان وغیره نه بعد د دخول د کان وغیره نه

اللّٰهُ علیمٌ کانَ اللّٰهُ علیمًا.

الدَّقیقُ خُبزٌ صار الدقیقُ خبزًا

زیدٌ غنیٌّ اصبح زیدٌ غنیًا

بکرٌ قائمٌ لیس بکرٌ قائمًا

كانتْ يکونونَ يَصيرُ يُصبحُ يبِيتُ لکه لستَ مرسلا بات الناس قائمينَ بات الناس قياما كنْ عالما۔

شلم سبـــــــــــق

منصوبات

يعنی هغه اسماء چی اعراب ئی نصب دے دولس دی ۔

۱۔مفعول به ۲۔مفعول مطلق ۳مفعول له ۴ ۔مفعول معه

۵۔مفعول فيه ۶۔حال ۷۔تمييز ۸۔اسم د اِنّ وغيره ۹۔ اسم د لاے نفی جنس ۱۰ ۔خبر د ما ولا ۱۱۔خبر د کان وغيره ۱۲۔مستثنیٰ

پدی کښی د ۸ ۹ ۱۰ ۱۱ نمبر بيان تير شوے دے باقی ذکر کوو۔

مفعول به:هغه اسم چی د کار کوونکی کار يعنی د فاعل فعل په هغه باندی واقعه شوے وی ۔لکه اکلَ زيدٌ الخبزَ

په دی ترکيب کښی الخبز مفعول به ده چی د خوړونکی فعل پری واقع شوے دے ۔زيد ډو ډئ اوخوړه

د مفعول به نور قسمونه :تحذير ترخيم منادیٰ استغاثه ندبه اضمار علی شرط التفسير ددی تفصيل راروان دے ۔

مفعول مطلق: هغه مصدر دے چی د فعل نه روستو راشی او د فعل سره په معنیٰ کښی شريک وی لکه سَلِّمُوا تسيلمًا

مفعول مطلق د دريو مقصدو د پاره استعمال دے ۔

۱۔تاکيد دپاره: لکه ضربتُ ضربًا خه وهل می وکړل۔

۲۔نوعيت دپاره : لکه جلستُ جِلْسةَ القاری د قاری صاحب پشان کيناستم۔

۳۔د تعداد د بيان دپاه لکه جلستُ جِلسةً . يو پيره کيناستم۔

اول ته مفعول تاکيد دويم ته مفعول هيئة. او دريم ته مفعول تعدادی هم

یویشتم سبــــــــــــــق

د مفعول له ، معه ، فیه بیان

۳۔مفعول فیه : د ا هغه اسم دے چی د هغے واو نه بعد راشی کوم چی په معنیٰ د مع سره وی ۔لکه جاءَ الاستاذُ و التلمیذَ ای مع التلمیذِ۔استاذ سره د شا گرد نه راغے۔

ترکیب: جاء فعل الاستاذ فاعل واو بمعنیٰ مع التلمیذ مفعول معه جمله فعلیه خبریه شوه۔

۴۔مفعول له: دا هغه اسم دے چی دده د وجے نه فعل شوے وی ۔لکه ضربْتُهُ تادیبًا ما هغه د ادب تعلیم د پاره اوخلو۔

دلته تادیبا مفعول له دے چی د فعل غرض دے ۔

ترکیب : ضربتُ فعل فاعل هُ ضمیر مفعول به تادیبا مفعول له فعل فاعل مفعول به مفعول له ټول جمله فعلیه خبریه شوه۔

۵۔مفعول فیه: هغه اسم چی د فعل دپاره زمانه یامکان وی ۔لکه صمتُ شهرًا یوه میاشت روژے می اونیوے۔ یا لکه جلستُ خلْفکَ ستا شاته کیناستم۔

مفعول فیه ته ظرف هم وایی ،ظرف دوه قسمه دے ظرف زمان او ظرف مکان۔

زمان: لکه دهرٌ لیلٌ حینٌ یومٌ شهرٌ سنةٌ

مکان : لکه خلْفٌ امامٌ دارٌ مسجدٌ

یو شاعر ټول په یو شعر کښی جمع کړی دی۔

حمدتُّ حمدًا حامدًا وحمیدًا

رعایةَ شکره دهرًا مدیدًا

ما خه تعریف اوکه د حامد سره د حمید نه دپاره د شکریه د اوږدے زمانے۔

ترکیب : حمدتُ فعل فاعل حمدا مفعول مطلق للتاکید حامدا مفعول به واو بمعنی مع حمیدا مفعول معه رعایة شکره مرکب اضافی تقیدی مفعول له دهرا مدیدا مرکب تقیدی تو صیفی مفعول فیه۔

حال

حال: هغه اسم دے چی صورتِ حال بیانوی د فاعل یا مفعول به یا د دواړو۔

د فاعل حال: لکه جاء زیدٌ راکبًا

د مفعول حال: ضربت زیدًا مشدودًا

د دواړو حال: لقیت زیدًا راکبینِ۔

فاعل او مفعول ته بیا ذو الحال ویلے شی ۔

لکه جاء فعل بکرٌ فاعل ذوالحّال راکبا حال ذوالحال او حال فاعل شو ۔ فعل فاعل جمله فعلیه خبریه شوه۔

قاعده :ذو الحال اکثر معرفه وی او حال نکره وی ،

او چی کله ذوالحال نکره وی حال مقدم کول واجب دی لکه لقیتُ راکبا رجلا۔

حال کله جمله فعلیه یا اسمیه هم کیدے شی ۔لکه جاءَ زیدٌ و هو راکبٌ

جاءَ یحیٰ یسّعیٰ۔

و جاءوا اباهم عشاء یّبکونَ   جاء رجلٌ من اقصیٰ المدینةِ یسعیٰ۔

درویشتم سبــــــــــــق

۷۔تمییز: تمییز هغه اسم دے چی د یو غیر واضح شی وضاحت کوی لکه رایتُ احدَ عَشَرَ ګو کبًا۔دلته کوکبا تمییز دے احد عشر غیر واضح وو :چی یولس نو یولس څه نو ګو کبًا ئی وضاحت وکو چی ستوری۔

غیر واضح شی ته مُمَّیز او واضح کوونکی ته تمییز وائی۔

ترکیب رایتُ فعل فاعل احد عشر ممیز کوکبا ېي تمییز ،ممیز تمییز مفعول به شو فعل فاعل مفعول به جمله فعلیه خبریه شوه۔

تمییز د عدد وزن پیمانی ناپ وضاحت کوی۔

عدد : احد عشر کوکبا

پیمانه:بِعتُ قفیزینِ برا۔

ناپ:وهبتُ جریبینِ ارضا۔

۸۔ مستثنیٰ: دا هغه اسم دے چی د ماقبل حکم نه د حرف استثناء په ذریعه ویستلے شی ۔

لکه جاءنیَ القَومُ الّا زیدًا۔

د الّا نه ماقبل ته مستثنیٰ منه وائی او د اِلّا نه ما بعد ته مستثنیٰ وائی۔

ترکیب: جاء فعل ن وقایه ی د متکلم ضمیر منصوب متصل مفعول به القومُ مستثنیٰ منه الا حرف استثنا زیدًا مستثنیٰ ،مستثنیٰ مستثنیٰ منه ملکر فاعل فعل فاعل مفعول به ملکر جمله فعلیه خبریه۔.

حروف استثناء الّا سوا غیر وغیره دی ۔

مستثنیٰ دوه قسمه ده متصل ،منقطع۔

۱۔مستثنیٰ متصل هغه ده چی په مستثنیٰ منه کښی داخل وی لکه

جاءنیَ القَومُ الّا زیدًا۔

۲۔منقطع چی مستثنیٰ په مستثنیٰ منه کښی داخل نه وی لکه جاءنی القوم الّا حما رًا دلته حمار یعنی "خر "د قوم فرد نه دے۔

۹۔اسم د اِنّ وغیره

۱۰۔اسم د لاے نفی جنس

۱۱۔خبر د کان وغیره

۱۲۔خبر د ما او لا مشابه بلیسَ۔

د آخری څلوروتفصیل په مرفوعاتو کښی تیر شوے دے ۔

څلوریشتم سبــــــــــــــق

یعنی هغه اسماء چی د هغے اعراب جر دے دوه دی ۔

۱۔**مضاف الیه** هغه اسم چی هغه ته د یو شی نسبت شوے وی۔لکه قلمُ سعیدٍ

فائده: عربۍ کښې مضاف اول وی او مضاف الیه.دوم خو په اردو او پشتو کښې مضاف الیه اول وی او مضاف دوم وی۔لکه

قلم سعیدسعید کا قلم د سعید قلم۔بیتُ اللّٰهِ الله کا گھر۔د الله کور۔

۲۔ مجرور بالاضافت هغه اسم چی اضافت ورته شوے وی۔

قاعده: په مُضاف باندی الف لام او تنوین نه رازی۔

مضاف الیه مجرور وی او مضاف کله مرفوع وی لکه هذا بیتُ اللّٰهِ

کله منصوب وی لکه رایتُ بیتَ اللّٰهِ

کله مجرور وی لکه بابُ بیتِ اللّٰهِ۔ یا هو فی بیتِ اللّٰهِ۔

۲۔دویم مجرور بحرف الجر دے ۔حروف جارّه اوولس دی ۔

داشعر یاد ساته:

باء ،و تاء ،و کاف ،لام واو ،منذ ،مذ ،خلا

رُبَّ ،حاشا ،مِنۡ ،عدا فی ،عَنۡ ،علیٰ ،حتیٰ ،الیٰ

مررۡتُ بِالمسجدِ تاللّٰهِ لَاَکیدَنَّ زیدٌ کالاسَدِ اَلۡحَمۡدُلِلّٰهِ وَاللّٰهِ لَاَحفَظَنَّ النَّظَرَ سِرۡتُ مَنَ الۡبلدِ اِلَی الۡمدینةِ هُوَ فی البیتِ رضیَ اللّٰهُ عَنِ الصَّحابةِ رحِم اللّٰهُ علی المُؤۡمنینَ

د "باء" حرف جر معانی:

د باء مشهوری معانی نهه دی

۱۔الصاق ۲۔استعانت ۳۔مقابله ۴۔تعدیه ۵۔قسم ۶۔تعلیل ۷۔مصاحبت ۸۔ظرفیت ۹۔زائده

۱۔الصاق: یو شے د بل شی سره یوزائے کیدل که حقیقة.وی لکه بهٖ داءٌ یا حکما وی لکه مررتُ بزید

۲۔استعانت: مدد غوختل لکه کَتَبۡتُ بِا لۡقلمِ په مدد د قلم سره ۔

۳۔مقابله:یعنی بدله جوړیدل لکه اشتَرَیتُ الثوبَ بِا لدِّرهمِ۔

۵-قسم: لکه باللّٰهِ لَاُصَلِّيَنَّ۔

۶-تعلیل: یعنی علت بیانول کله اِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ اَنفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ۔

۷-مصاحبت : مل کرتیا ثابتول خرجَ زيدٌ بِأُسرتهٖ زید سره د خاندان نه اوتو۔

۸-ظرفیت : ځا ئے ثابتولو د پاره لکه جَلسْتُ بالمسجدِ ای فی المسجدِ۔

۹-زائده چی معنیٰ ئی نه وی لکه اَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَاف عَبْدَه۔

۲-"لام" ددی درے معانی دی ۔

۱-اختصاص الجُلُّ لِلفرسِ

۲ تعلیل ضربتُهُ لِلتاديبِ

۳-زائده لکه رَدِفَ لَكُم ای رِدفكمْ۔

پنځویشتم سبــــــــــــــق

د توابع بیان د اپنځه دی ۔۱-صفت ۲-تاکید ۳-بدل ۴-عطف بحرف ۵-عطف بیان

توابع جمع د تابع ده او تابع هغه دویم اسم چی د هغه اعراب. او د اول اسم اعراب او جهت یو وی لکه لَقِيتُ رجلًا عالمًا۔

دلته عالمًا. دویم اسم دے منصوب دے چی رجلا منصوب دے او د اعراب. جهت ئی هم یو دے چی مفعول بهٖ دے رجلا مفعول بهٖ متبوع او عالمًا ئی تابع دے رجلا عالما. مرکب توصیفی مفعول بهٖ شو د لقیتُ فعل فاعل ۔

فائده: د مرفوع تابع به مرفوع وی ،د منصوب به منصوب ،او د مجرور به مجرور وی۔

۱-صفت : هغه تابع دے چی د متبوع خه یا بد صفت ہائی ۔لکه رجلٌ عالِمٌ عالم سړے رجُلٌ شاتِمٌ کنځلمار سړے

هذا رجلٌ عالمٌ هذا رجلٌ شاتِمٌ

رایتُ رجلًا عالمًا رایتُ رجلًا شاتمًا

ترکیب: هٰذا اسم اشاره مبتداء رجلٌ موصوف عالمٌ صفت موصوف صفت خبر مبتداء خبر جمله اسمیه خبریه شوه ۔

۲۔تاکید :

د اهغه دویم اسم دے چی اول اسم لره پخته کوی چی خبره بے شکه شی ۔دا په دوه قسمه دے تاکید لفظی تاکید معنوی

۱۔تاکید لفظی : کوم لفظ چی دوباره ذکر شی دیته تاکید لفظی وائی

۲۔د کوم اسم نه چی روستو خاص الفاظ راشی کوم چی د تاکید دپاره مقرر دی دیته تاکید معنوی وائی۔

خلاصه : تاکید لفظی په تکرار د لفظ سره وی او تاکید معنوی په الفاظو معدوده محصوره سره وی۔

تاکید لفظی مثال : جاءَ زیدٌ زیدٌ رآیْتُ زیدًا زیدًا مررتُ بزَیدٍ زیدٍ

قَلَمُ زَیدٍ زیدٍ قلمُ قلمُ زَیدٍ ۔ ضَرَب ضرَبَ زیدٌ شتمَ شَتَمَ زیدٌ

د تاکید معنوی خاص الفاظ دادی : کُلٌ اجمعُ کِلا کِلتا نفسٌ عینٌ ۔

فسجدَالملٰئکةُ کلهم اجمعونَ امرَاللّٰهُ الملٰئکةَ کُلَّهُمَ۔ رَضِیَ اللّٰهُ عَنِ الصَحابةِ اجمعینَ۔ الراشی و المُرتشی کِلاهُما فی النار جاءتِ امرئَتان کلتا هُما جاء الشیخُ نفسُهُ جاء الشیخُ عینُهُ کلّمتُ الشیخَ نفسَهُ کلمتُ الشیخَ عینَهُ۔

شپږیشتم سبــــــــــــــق

۳۔بدل:هغه دویم اسم دے چی په حقیقت کښی مقصود هم دے وی ۔ ړومبے اسم یعنی متبوع مقصود نه وی ۔

اول اسم ته مبدل منه او دویم ته بدل وائی لکه جاءَ الشیخُ سلیمُ اللّٰهِ

شیخ راغی سلیم اللّٰه۔

بدل په څلو ر قسمه دے ۔ بدل الکل بدل البعض بدل الاشتمال بدل الغلط

۲۔**بدل البعض** :چی بدل د مبدل منه جزء وی لکه :ضَرَبَ زیدٌ عمروًا رأسَهُ ۔ زید عمرو ووخو سر د هغه ۔

۳۔**بدل اشتمال** :چی د بدل او مبدل منه تعلق وی ۔لکه ضَرَبَ زیدٌ عمراً غلامَهُ۔زید عمرو ووخو غلام د هغه ۔

۴۔بدل الغلط:چی مبدل منه په غلطئ خُلے له راشی ۔لکه جاءَ زیدٌ بکرٌ زید راغے بکر۔ سُرِقَ زیدٌ مالُهُ د زید مال غلا شو۔

دلته سُرِقَ فعل مجهول زید مبدل منه ماله مرکب اضافی بدل

مبدل منه بدل نائب فاعل شو۔فعل مجهول نائب فاعل جمله فعلیه خبریه شوه ۔

اوویشتم سبــــــــــــق

۴۔**عطف بحرف:** دا هغه دویم اسم دے چی د حرف عطف نه روستو راشی او د اول اسم سره په حکم کښې شریک وی ۔ لکه جاءَ زیدٌ و عمرٌو

زید راغے او عمرو۔ دلته جاء فعل زید معطوف علیه.واو حرف عطف عمرو معطوف معطوف معطوف علیه.فاعل شو د جاء فعل فاعل جمله فعلیه خبریه شوه ۔

حروف عاطفه لس دی۔

واو ف ثُمَّ حتّیٰ اِمّا او اَم لا بَل لٰکنْ

جاءَزیدٌ فعمرٌو جاء زیدٌ ثُمَّ عمرٌو جاءَ زیدٌ حتّیٰ عمرٌو

جاء زیدٌ اِمّا عمرٌو جاء زیدٌ او عمرٌو جاء زیدٌ امْ عمرٌو

جاء زیدٌ لا عمرٌو ما جاء زیدٌ بل عمرٌو ما جاء زیدٌ لٰکنْ عمرٌو جاء زیدٌ و عمرٌو ۔

۵۔**عطف بیان:** دا هغه دویم اسم دے چی صفت نه وی او د اول اسم وضاحت کوی ۔لکه قالَ ابو حفص عُمرُ

قالَ یعقوب ابو یوسفَ

اول اسم ته مبیّن او دویم ته عطف بیان وائی۔

قال فعل اول اسم مبیّن او دویم عطف بیان ،مبیّن او عطف بیان فاعل شو د قال۔

اتویشتم سبـــــــــــــــق

هر اسم چی په جمله کښی راشی نو یا به مبنی وی یا معرب که مبنی وی نو اعراب ئی محلا دے او که معرب وو نو بیا ئی اعراب په نهه قسمه دے ۔

وجه ئی داده چی دغه اسم به یا مفرد وی یا تثنیه یا جمع ،

که مفرد وو نو یا به منصرف وی یا غیر منصرف ،

که مفرد وو او منصرف وو نو رفع په ضمے سره نصب په فتحے سره او جر په کسرے سره ۔

او که غیر منصرف وو نو رفع په ضمے سره او نصب او جر په فتحے سره ۔

او که تثنیه وه نو رفع په الف ماقبل مفتوح او نصب او جر په یا ما قبل مفتوح سره ۔

او که جمع وه نو یا به مذکر سالم وی یا مؤنث سالم یا به جمع مکسر منصرف او یا به جمع منتهیٰ الجموع،

که جمع مذکر سالم وه نو رفع په واو سره نصب او جر په یا ماقبل مکسور سره

او که جمع مؤنث سالم وه نو رفع په ضمے سره نصب او جر په کسرے سره ۔

او که جمع مکسر منصرف وه نو اعراب یی د مفرد منصرف دے ۔

او که جمع منتهیٰ الجموع وه نو اعراب یی د غیر منصرف دے ۔

او که اسماء سته مکبره وو نو رفع په واو نصب په الف او جر په یا سره ۔

اعراب لفظی بالحرف او بالحرکت وشو۔

او که اسم معرب اسم مقصور یا مضاف وو یا د متکلم ته نو رفع په ضمے فرضی(تقدیری) سره نصب په فتحے فرضی (تقدیری)سره او جر په کسرے

او که جمع مذکر سالم مضاف وه یا د متکلم ته نو رفع په واو تقدیری سره وی او نصب او جر په یا لفظی سره۔

پدی باندی بحث وشو چی اسم به مرفوع کله وی منصوب به کله وی او مجرور به کله وی۔

وس د اعراب بیان کوو چی د رفع دپاره به د اسم په آخر باندی اعراب کوم قسم وی ،دغه شان د نصب د پاره به داسم په آخر باندی اعرا.ب کوم قسم وی ،او د جر دپاره به د اسم په آخر باندی اعراب. کوم قسم وی ۔

پدی پوهه شئ چی اسم معرب اعراب کله حرکت سره وی ،لکه زبر زیر پیش کله بالحر ف وی لکه واو الف یاء ،

بیا اعراب کله کله لفظی وی یعنی په لفظ باندی خکاره وی او کله کله تقدیری وی یعنی فر ضی منلے شوے وی ۔

د اسم معرب د اعراب. نهه ۹ صورتونه دی ۔

د ا نهه صورتونه یادول انتهائی ضروری دی دی سره به د عبارت لوستو قوت پیدا شی ۔

۱۔۱مفرد منصرف صحیح ،۲۔مفرد منصرف مثل صحیح، ۳۔جمع مکسر منصرف: ددی اعراب. لفظی دے او بالحرکت دے ۔حالت رفعی "اتوو مرفوعاتو کښی به ددی آخر باندی ضمه پیش ویئلے شی ۔

حالت نصبی "په دولسو منصوباتو کښی " به په آخر فتحه. زبر ویئلے شی ۔

او حالت جری "دوو" مجروراتو کښی " به په آخر کسره ویئلے شی ۔

فائده: صحیح د نحویانو په نزد هغه دے چی په آخر کښی یی حرف علت نه وی لکه رجلٌ وعدٌ زیدٌ۔

او مثل صحیح هغه دے چی په آخر کښی یی واو یا ی وی خو ما قبل ساکن وی لکه دلوٌ ظبیٌ ددے بل نوم جاری مجرا صحیح او قائم مقام صحیح هم دے۔

مثالونه : هذا زیدٌ رایتُ زیدًا مررتُ بزیدٍ

اُستاذ به اول سوال کوی چی هذا زیدٌ کښی زیدٌ مرفوع دے که منصوب که مجرور ؟

دا سوال دی دپاره دے ہر اسم چی په جمله کښی استعمال شی یا به مرفوع وی یا به منصوب وی یا به مجرور وی ،صحیح جواب دادے چی مرفوع دے ۔

استاذ به دویم سوا ل کوی چی تا په څه معلوم کو چی مرفوع دے ، یا به دا سوال کوی چی ولی مرفوع دے ؟

نو په اتوو مرفوعاتو کښی دے دا ئے جواب دے ۔

بل سوال به کوی په اتوو مرفوعاتو کښې کوم یو مرفوع دے ،نو ته به وائی چی خبر دے ۔

نو هذا مبتداء او زیدٌ یې خبر۔

استاذ به بل سوال کوی چی د زیدٌ رفع په څه سره ده ؟

نو جواب چی ضمے لفظی سره ده او بالحرکت ده۔

استاذ به سوال کوی چی په ضمے سره ولی ده ؟

جواب مفرد منصرف صحیح دے۔

مفرد دے تثنیه جمع نه ده۔   منصرف دے د اسباب منع صرف نه پکښی دوه سببونه نشته ،غیر منصرف نه دے ۔

صحیح دے په آخر کښي يې دال دے او دا حرف علت نه دے ۔زید۔

او دا قاعده ده چی د مفرد منصرف صحیح او جاری مجریٰ صحیح او جمع مکسر منصرف اعراب. رفع په ضمے سره وی نصب په فتحے سره او جر په کسرے سره وی ۔

بل مثال رایتُ زیدً

دلته هم هغه سوال جواب دے ۔

زیدا په رایتُ زیدا کښي منصوب دے که مرفوع دے که مجرور ؟

دویم سوال ولی؟ جواب دلته مفعول به دے ۔او مفعول به په دولس منصوباتو کښې دے ۔

رایتُ فعل فاعل زیدا مفعول به دے ۔

زیدا نصب په څه سره ده ؟ جواب په فتحے سره ۔

سوال ولے ؟ ځکه چې مفرد منصرف صحیح دے ۔

او دا قاعده ده چې د مفرد منصرف صحیح او جاری مجریٰ صحیح او جمع مکسره منصرفه رفعه په ضّمے سره نصب په فتحے سره اوجرپه کسرےسره وی۔

بل مثال مررتُ بِزَید

سوال دلته زید مرفوع دے که منصوب دے که مجرور ؟

جواب مجرور دے ۔

په څه دی معلوم که ؟

جواب : په دوؤ مجروراتو کښې دے ۔

څه دے ؟

مجرورو بحرف الجر دے ۔ باء حرف جار پری داخل دے ۔

د زید جر په څه سره دے ؟

لفظی دے بالحرکت دے کسرے سره دے ۔

ولے ؟ ځکه چې مفرد منصرف صحیح دے ۔

او دا قاعده ده چې د مفرد منصرف صحیح او جاری مجریٰ صحیح او جمع مکسره منصرفه رفعه په ضّمے سره نصب په فتحے سره او جر په کسرے سره وی

دغه شان مثالونه د جار ی مجریٰ صحیح دی ۔

هٰذا دلوٌ هٰذا ظبیٌ

رایتُ دلواً رایتُ ظبیًا

د جمع مکسر منصرف مثالونه :

هٰؤلاء رجالٌ رایتُ رجالًا مررتُ برجالٍ

دلته پخپله سوالات جوابات جوړ کړئ۔

نهه قسمه اعرابه. کښې اول قسم اوشو چې رفع په ضمه سره جر په کسره سره او نصب په فتحه سره وه۔

د چا؟ ۱۔د مفرد منصرف صحیح

۲۔جمع مکسر منصرف

۳۔جاری مجریٰ صحیح۔

یوکم دیرشم سبـــــــــــــــق

۲۔دویم قسم اعراب د نهه قسمونو نه اعراب بالحرف دے

رفع په الف سره نصب او جر په یا ماقبل مفتوح سره ۔

دا اعراب. ده تثنیے لکه رجلانِ مثل لفظی د تثنیے لکه اثنانِ او اثنتانِ او مثل د تثنیے معنوی لکه کلا او کلتا چې کله مضاف وی ضمیر ته ددی دے۔

لکه : جاءَ رجُلانِ / اثنانِ / کلاهُما

رایۡتُ رجُلَیۡنِ / اثنَیۡنِ / کلَیۡهِما

مررۡتُ برجلَیۡن،/ باثنَیۡنِ / بکلَیۡهِما

دلته هم هغه سوال جواب جوړ کړئ

قاعده :کلا او کلتا چې اسم ظاهر ته مضاف وی نو اعراب به ئې فرضی منلے شی او بالحرکت تقدیری به وی۔

لکه جاءَکلا الرجلینِ رایتُ کلا الرجلینِ مررتُ بکلا الرجلینِ۔

دیرشم سبق

۳۔دریم قسم اعراب دا هم بالحرف دے۔

رفع په واو ماقبل مضموم نصب او جر په یاء ماقبل مکسور سره ۔

دا اعراب ده جمع مذکر سالمی لکه مسلمونَ او مثل د جمع لفظا لکه عشرون نه تر تسعونَ پوری او مثل د جمع معنی لکه اولو چی جمع د ذو ده۔

مثالونه: جاءَ مسلمُونَ / عشرُونَ / الُو مال

رایتُ مسلِمِیْنَ /عشرِیْنَ /اولِیْ مال

مررَتُ بمسلِمِیْنَ /بعشرِیْنَ /باولِیْ مال

۴۔ څلورم قسم اعراب۔

دا بالحرکت دے د فتحے نه علاوه۔ رفع په ضمے سره نصب او جر په فتحے سره

دا اعراب د جمع مؤنث سالمے دے ۔

لکه جاءَمسلماتٌ رایتُ مسلماتٍ مررتُ بمسلماتٍ

۵۔پنځم قسم اعراب: دا هم اعراب بالحرکت دے ۔د کسرے نه علاوه رفع په ضمے سره او نصب او جر په فتحے سره ۔

دا اعراب د غیر منصرف دے ۔

لکه جاءَ عمَرُ رایْتُ عمرَ مررتُ بعمرَ

۶۔شپږم قسم اعراب بالحرف دے : رفع په واو سره نصب په الف سره جر په یاء سره۔

دا اعراب د شپږو اسمونو دے چی مکبّر وی مصغّر نه وی ،مضاف وی او مضافٌ الیه ئی ی د متکلم نه علاوه وی ، هغه شپږ اسمونه دادی: اَخٌ ابٌ حمٌ هنٌ فمٌ ذو۔

مثالونه :هٰذا ابوکَ/اخوکَ /حموکِ/هنوکِ/فوکِ/ ذومالٍ

رایتُ اباکَ /اخاکَ /حماکِ / هناکِ / فاکَ / ذامالٍ

مررتُ بابیکَ /باخِیْکَ /بحمِیکِ /بِهَنِیْکِ /بفیکَ /بذی مالٍ.

دی شپږو اسمونو ته اسمائے ستّه مکبره وائی که چرته دا مکبر نه وو او مصغر وو نو بیا به ئی اعراب بالحرکت وی ۔لکه جاءَ اُبَیٌّ رایتُ اُبیًّا. مررتُ بِاُبیٍّ۔

او که چرے مضاف نه وو نو بیا به ئی هم اعراب بالحرکت وی ـلکه جاءَ ابٌ رایتُ ابًا مرَرْتُ باَبٍ ـ

او که چری یاء د متکلم مضافٌ الیه وه نو بیا به ئی اعراب فرضی منلے شی ـ

جاءَابی رایتُ ابی مررْتُ باَبِی۔

دغه شان که مفرد نه وو تثنیه یا جمع وو نو بیا به ئی اعراب د تثنیه جمع وی ـ جاء ابَوانِ رآیتُ ابَوَینِ مررتُ بِاَبَوَینِ۔

جاءَ اٰباۤءٌ رآیتُ اٰباۤءً مَررتُ بِآباءٍ۔.

تمرین

اعراب ول کوئ د رفع نصب جر حالت بیان کڼ چی دا اعراب نهه قسمونو کښی کوم یو دے ـ

١ ـکان ابوهما صالحا ٢ ـجاء اخوة یوسفَ

٣ ـاِنَّ اباناـ لفی ضلٰل مبین ۴ ـخُلِقَ الانسانُ ضعیفا

۵ ـجاءوا اباهم عِشاء یبکون ۶ ـانا اخوک

٧ ـرُوِیَ عن عثمانَ رضیَ الله عنهُ ٨ ـقال رسول الله ﷺ لعائشةَ

یو دیرشم سبـــــــــــــق

٧ ـاووم قسم اعراب : اعراب تقدیری دے ـ

یعنی رفع نصب جر دریواړه حالات کښی اعراب لفظی نه وی ـ

لکه جاءَ الاعمیٰ / غلامی رایتُ الاعمیٰ /غلامی مررتُ بالاعمیٰ /بغلامی۔

دا اعراب د اسم مقصور او هر هغه اسم چی یا د متکلم ته مضاف وی ـ

اسم مقصور: هغه اسم دے چی په آخر کښی ئی مد والا الف نه وی،بلکه الف مقصوره وی یعنی غیر مدّ واله الف وی۔ لکه حُبلیٰ ،عصیٰ،اعمیٰ۔

٨ ـاتم قسم اعراب چی رفع او جر تقدیری وی او نصب په فتحے لفظی سره وی دا قسم اعراب د اسم منقوص دے۔

اسم منقوص: هغه اسم چې په آخر کښې ئ یا ماقبل مکسور وی
لکه :قاضی،والِی،متعالِی،داعِی،شاکِی۔

۹۔نهم قسم اعراب رفع تقدیری نصب او جر یا ماقبل مکسور سره وی ۔

دا قسم اعراب هر هغه جمع مذکر سالم چې مضاف وی یا د متکلم ته
لکه :هٰؤلاء مسلمیَّ رایتُ مسلمیَّ مررتُ بمسلمیَّ ۔

مسلمیَّ په حالت رفعی کښې دراصل مسلِمونَ یَ وو د اضافت د وجے نون د جمعے حذف شو نو مسلمویَ شو،بیا د مرمیٌّ قاعده باندی واو په ی سره بدل شو نو مسلمی یَ شو او بیا د ی په ی کښې ادغام وشو نو مسلمیَّ شو۔

او په حالت نصبی او جری کښې دراصل مسلمینَ یَ نون په اضافت سره حذف شو نو مسلمی یَ شو ،بیا د ی په ی کښې ادغام وشو نو مسلمیَّ شو۔

فائده

زده کړه دا خبره چې اسم په جمله کښې استعمال شی نو یا به مبنی وی یا معرب که مبنی وی نو اعراب ئ محلّی دے او که معرب وی نو د اعراب نهه قسمونه دی ۔

وجه ئ په نهه کښې د بندیدلو حصاریدلو داده:

چې اعراب په یا لفظی وی یا به تقدیری وی که لفظی وی نو یا به بالحرکت وی یا به بالحرف وی ،که بالحرکت وی نو یا به بعضې حالات تابع د بعضو وی او یا به نه وی ،

نو که لفظی وو او بالحرکت وو او بعضې احوال ئ تابع د بعضو نه وو نو مفرد منصرف او جمع مکسر منصرف ده۔

او که بعضې احوال تابع د بعضو وو نو یا به نصب تابع د جر وی یا به جر تابع د نصب وی ،اول اعراب د جمعے مؤنث سالم دے او دویم اعراب د غیر منصرف دے ۔

او که بالحرف وو نو یا به بعضې احوال تابع د بعضو وی یا نه،

که بالحرف وی او لفظی وی او بعضې احوال تابع د بعضو نه وی نو دا اعراب د اسماء سته موحد مکبره دے چې مضاف وی غیر د ی د متکلم ته ،

او که بعضی احوال تابع د بعضی وو نو یا به حالت رفعی په الف او نصبی جری په ی سره وی،

یا به حالت رفعی په واو او نصبی جری په ی سره وی ،که اول وی اعراب د تثنیې او که دویم وی نو اعراب د جمع مذکر سالم دے ۔

او که تقدیری وی نو یا به په احوال ثلاثه کښی تقدیری وی یا به تقدیری وی په حالتینو کښی یا به تقدیری وی په حالت واحده کښی ،

که اول وی نو اعراب د اسم مقصور دےیا هغه اسم چی مضاف وی ی د متکلم ته ،که دویم وی نو اعراب د اسم منقوص دے او که دریم وی نو اعراب د جمع مذکر سالم دے چی مضاف وی ی د متکلم ته ۔

خلاصه په عربۍ کښی

فَالْمُفْرَدُ الْمُنْصَرِفُ وَ الْجَمْعُ الْمُکَسَّرُ الْمُنْصَرِفُ بِالضَّمَّةِ رَفْعًا وَالْفَتْحَةِ نَصْبًا وَالْکَسْرَةِ جَرًّا۔

ترجمه مفرد منصرف او جمع مکسر منصرف اعراب رفع په ضمه سره نصب په فتحه سره او جر په کسره سره ۔

د اعراب دویم او دریم قسم۔

وَ جَمْعُ الْمُؤَنَّثِ السَّالِمُ بِالضَّمَّةِ وَالْکَسْرَةِ وَ غَیْرُ الْمُنْصَرِفُ بِالضَّمَّةِ وَ الْفَتْحَةِ۔

ترجمه : د جمع مؤنث سالم اعراب دادی چی رفع په ضمے سره او نصب او جر په کسرے سره او غیر منصرف نصب او جر په فتحے سره ۔

د اعراب څلورم قسم

ابوکَ و حموک و هنوک و فوک و ذومال و اخوک مضافة الی غیر یاء المتکلم بالواو ولالف و الیاء۔

پنځم او شپږم قسم

المثنّٰی و کِلا مضافا الیٰ مضمر و اثنان و اثنتانِ بالالف و الیاءِ۔و جمع المذکر السالم و اولو و عشرون و اخواتها. بالواو و الیاءِ۔

اووم ،اتم ، نهم قسم

ترجمه: تقدیری اعراب په هغه ځاے کښې وی چی لفظی ظاهر کول ورسره ممکن نه وی لکه عصا او غلامی ـ

او دویم قسم دا چی ناممکن به نه وی خو ثقیل او درونډ به وی لکه قاضٍ په رفع او جر کښې او دغه شان جمع مذکر سالم لکه مسلمیَّ په رفع کښې او دد ے دوو صورتونو تعذر او ثقل نه علاوه اعراب لفظی د ے ـ

دوه دیرشم سبـــــــــــــق

مرفوعات ،منصوبات ،مجرورات ذکر شول ،او د اعراب قسمونه هم ذکر شول ـ

خلاصه داده چی هر اسم په ترکیب کښې واقع شی نو ضرور به په دریو حالاتو کښې یو وی ـیا به مرفوع وی یا به منصوب وی یا به مجرورـ

۱ ـ ـمرفوع به کله وی؟ چی اته مرفوعاتو کښې   وی ـ

۲ ـ ـ ـمنصوب به کله وی ؟ چی دولسو منصوباتو کښې   وی ـ

۳ ـ ـ ـمجرور به کله وی ؟چی په دوؤ مجروراتو کښې   وی ـ

او د اسم په آخر کښې چی د رفع نصب جر دپاره کوم اعراب وی نو ضرور به نهه قسمه اعرابونو کښې یو وی ـ

دلته یو سوال پاتی شو چی اتهٔ مرفوعاتو له رفع څوک ورکوی ؟

دولس منصوباتو له نصب څوک ورکوی ؟

دوؤ مجروراتو له جر څوک ورکوی؟

چی هغه ته ده نحوِ په اصطلاح کښې عامل وایی۔

یعنی مرفوعاتو له عامل رافعه ،منصوباتو له عامل ناصبه ،مجروراتو له عامل جاره څوک دی او څه دی ؟

نو داسبق د عامل بیان د ےـ

عامل په دوهٔ قسمه د ے ،معنوی،لفظی

۱ـعامل معنوی :چی لفظ کښې ظاهر نه وی نه اسم وی نه فعل وی نه حرف

۲۔عامل لفظی: یعنی یا به اسم وی یا فعل وی یا به حرف وی ۔

فائده۔ فعل کښې غیر عامل نشته فعل معروف "متعدی وی که لازمی" فاعل له رفع ورکوی او فعل مجهول نائب فاعل له رفع ورکوی "یعنی مفعول بهٖ له رفع ورکوی ، باقی مفعولونو له نصب ورکوی ۔

لکه ضُرِبَ زَیدٌ یومَ الجُمُعةِ امامَ الامیرِ ضربًا شدیدًا فی دارِهٖ تادیبًا۔

قاعده: فعل معروف متعدی اوؤه[7] اسمونو له نصب ورکوی پنځه مفعولونو له او حال او تمییز له ۔

فعل لازم معروف د مفعول بهٖ نه علاوه باقی شپږ اسمونو له نصب ورکوی۔

درے دیرشم سبــــــــــــق

: اسماءُ کښې بعض اسماء عامله دی او هغه پنځه دی

۱۔مصدر ۲۔اسم فاعل ۳۔اسم مفعول ۴۔ صفة مشبه ۵۔اسم تفضیل۔

۱۔مصدر : هغه اسم دے چی ددی نا ښو ل افعال راوځی،دے د خپل فعل عمل کوی ،یعنی د مصدر نه چی کوم فعل راوځی که هغه فعل لازمی وو نو مصدر فاعل له رفع ورکوی ۔

او که فعل متعدی وو نو مصدر ئی فاعل له رفع او مفعول بهٖ له نصب ورکوی۔

خو اکثر مصدر خپل ا ولنی معمول ته مضاف وی نو معمول ئی مجرور وی ۔

لکه اَعجبتّنی قراءةُ زیدٍ : د زید قراءة خوشحاله کړم۔

اَعجبتّنی ضربُ زیدٍ عمرًوا : د زید وخلو عمرو لره په حیرت کړم۔

ترکیب۱: اعجبَتْ فعل ن وقایه ی ضمیر منصوب متصل مفعول بهٖ قراءة مصدر مضاف زید مضاف الیهٖ فاعل، مضاف مضاف الیهٖ ملکر فاعل د اعجبت فعل ،فعل فاعل مفعول بهٖ جمله فعلیه خبریه شوه۔

ترکیب ۲: اعجبَ فعل نِی مفعول بهٖ ضَرّب مصدر مضاف زیدٍ فاعل مضافٌ الیهٖ عمرؤًا مفعول بهٖ مصدر خپل فاعل او مفعول بهٖ سره ملاؤ شو نو فاعل د

۲۔اسم فاعل : هغه اسم مشتق دے چې په داسې ذات دلالت کوي چې په هغې پورې يو فعل قائم وي ۔

لکه ضاربٌ وخونکے ۔ دے د خپل فعل معروف پشان عمل کوي او اکثر خپل معمول ته مضاف وي ۔

لکه : هُوَ کاملُ الجودِ : هغه لوے سخي دے ۔

هُوَ ضمير مر فو ع منفصل مبتداء کاملُ اسم فاعل مضاف الجودِ مضافٌ اليهٖ فاعل ،مضاف مضاف اليه ملکر خبر مبتداء خبر جمله اسميه خبريه شوه۔

زيدٌ قائمٌ ابوه : د زيد پلار ولاړ دے ۔

دلته زيدٌ مبتداء قائم صيغه اسم فاعل ابوه مضاف مضاف اليه فاعل اسم فاعل او فاعل ملکر خبر شو۔ مبتداء خبر جمله اسميه خبريه شوه۔

خلور ديرشم سبـــــــــــق

۳۔ اسم مفعول :داهغه اسم مشتق دے چې په هغه د فعل واقع کيدو تعلق قائم وي ۔

لکه مضروبٌ وهلے شوے ۔

دے د خپل فعل مجهول عمل کوي ،يعنې نائب فاعل له رفع ورکوي ۔

او دا هم اکثر خپل معمول ته مضاف وي ۔

لکه جاءَ رَجُلٌ مَقْطُوعُ الاَنفِ :پوزه پرے کړے راغے۔

ترکيب: جاءَ فعل رجل موصوف مقطوعٌ اسم مفعول مضاف الانف نائب فاعل مضاف اليهٖ ، مضاف مضاف اليهٖ صفت شو د رجل موصوف صفت ملکر فاعل شو د جاء فعل ،فعل فاعل ملکر جمله فعليه خبريه شوه۔

۴۔صفت مشبه: دا داسې اسم مشتق دے چې په داسې ذات دلالت کوي چې دده سره يو فعل ثابت وي ۔لکه حَسَنٌ خوبصورت۔

دے دخپل فعل لازم عمل کوي ۔ يعنې فاعل له رفع ورکوي لکه : جاءَ رجُلٌ حَسَنٌ ثِيابُه ،عمده کپړو والا راغے ۔

ترکیب : حسنٌ صفت مشبه ثیابه مرکب اضافی فاعل د حسن صفت مشبه د خپل فاعل سره ملاؤ شو ،صفت شو د رجلٌ ،موصوف صفت ملکر فاعل شو د جاءَ۔

صفت مشبه د اسم فاعل سره د مشابهت په وجه عمل کوی ۔

فرق صرف داد ے چی په اسم فاعل کښی صفت عارضی حدوثی طور قائم وی ۔او صفت مشبه کښی صفت ثبوتی وی ،مستقل وی عارضی نه وی ۔

۵۔ اسم تفضیل: داهغه اسم مشتق د ے چی د بل په مقابله باندی د فاعلیت معنیٰ په زیاتوالی دلالت کوی ۔

لکه :اکبَرُ من اخیہٖ د خپل رور نه لوئے۔

اسم تفضیل هم د خپل فعل عمل کوی ۔

د استعمال طریقے ئی در ے ۳ دی ۔

۱۔مِنۡ سره لکه : زیدٌ اکبرُ من اخیہٖ

۲۔الف لام "ال"سره لکه : جاءَ زیدُنِ الافۡضلُ

۳۔اضافت سره لکه هو افضلُ الۡقومِ

تمرین

هُوَ محرَّمٌ علیهِم اخراجُهُم ، دلته اسم مفعول نائب فاعل له رفع ورکړی ده واضح کړ؟

مَانعَتُهُم حصونُهم دلته اسم فاعل فاعل له رفع ورکړی ده واضح کړ؟

فاقعٌ لونُها ما انۡتَ بتابعٍ قِبۡلَتَهُم خاشِعَةً ابصارُهُم لَعَلَّکَ باخِعٌ نفسَکَ اَلّا یکونوا مؤمِنِینَ۔

دا تړو ل واضح کئ"

پنځه دیر شم سبـــــــــــــــق

۱۔افعال مدح:

هغه افعال چی د چا په ذریعه د چا تعریف کول شی دوه دی

دا دواړه فاعل له رفع ورکوی لکه نِعمَ الرجلُ عَمرٌو عمرو ډیر ښه سړے دے ۔نعمَ فعل مدح دے الرجل فاعل عمرو مخصوص بالمدح۔

یا لکه حَبَّذَا زیدٌ حبَّ فعل مدح ذا فاعل زید مخصوص بالمدح۔

:۔افعال ذم۲

دا هغه افعال دی چی ددی په ذریعه سره د چا بد ظاهرولے شی ،دا هم دوه دی ۔

۱ ۔بِئْسَ ۲ ۔سَاءَ

دوی هم خپل فاعل له رفع ورکوی ۔لکه بِئْسَ الرجلُ زیدٌ ،سَاءَ الرجلُ زیدٌ ،ددواړو مثالونو ترجمه چی زید ناکاره سړے دے ۔او دلته زید مخصوص بالذم دے ۔

:۔فعل تعجب۳

دا هغه فعل دے چی ددے په ذریعه سره په یوه خبره د حیرت اظهار کولے شی ۔

ددی دوه وزنه دی : مَا اَفْعَلَهٗ ۲۔ و اَفْعِلْ بِهٖ

ترکیب : ما مبتدا افعلَ فعل هوَ ضمیر مستتر فاعل ہٗ مفعول بهٖ جمله فعلیه خبریه بیا د مبتدا خبر۔

افعل بهٖ: افعل فعل امر بمعنیٰ ماضی ب زائده ہٗ فاعل ،ددے دوؤ وزنونو به هر ترکیب په دغه طریقه وی ۔

د هر ثلاثی مجرد نه په دغه طریقه رازی او د ضمیر پځاے به اسم ظاهر راوړلے شی په چا چی حیرت ظاهر کول مقصود وی ۔

لکه ما اكْتَبَ زیدًا ،اكْتِبْ بِزیدٍ

د دواړو جملو ترجمه ده : زید څه خه لیکل کوی ۔

ما اجْمَلَ زیدًا ،و اجمِلْ بزیدٍ : د دواړو جملو ترجمه ده : زید څه خه خکلے دے ۔

تراکیب د مذکوره وزن په طریقه دی ۔

قُتِلَ الۡاِنۡسَانُ مَا اَكۡفَرَهُ ،اَسۡمِعۡ بِهِمۡ وَاَبۡصِرۡ ،فَمَا اَصۡبَرَهُمۡ عَلَى النَّارِ۔

شپږ دیرشم سبـــــــــــق

:د حروف عامله او غیر عامله بیان

کوم حروف چی په اسم کښی عمل کوی هغه تیر شوی دی لکه اِنّ اَنّ ،یا حروف جاره ،یا ما ولا وغیره۔

کوم حروف چی فعل کښی عمل کوی :

١۔حروف ناصبه د فعل مضارع : دا څلور دی : اَنۡ لَنۡ کَیۡ اِذَنۡ۔

لکه اُرید انۡ اقومَ ،لنۡ یذهبَ خالدٌ اجتهدتُ کَی اَفوزَ فی الاختبار. اِذَنۡ اشکرَکَ، دهغه په جواب کښی چی تاته وائی انا اُعطیکَ هَدیةً۔

:۔جوازم فعل مضارع٢

پنځه حروف فعل مضارع له جزم ورکوی :

اِنۡ لَمۡ لَمَّا لام امر لا ے نهی ۔

لکه اِن تضربۡنِی اضۡرِبۡکَ لَمۡ یضربۡ لَمَّا یضربۡ :لا نه ئی دے وهلے ۔ لِیَضۡربۡ لاتضرِبۡ علم صرف کښی بیان شوی دی ۔

: ۔ حروف عاطفه٣

دا لس حروف دی :

دا هغه حروف دی چی د یوے کلمے د بلے سره جوړ راولی ،دی ته عطف د مفرد په مفرد وائی۔ لکه جاءَزیدٌ و عمرٌو

او یا د یوی جملے د بلے جملے سره تعلق راولی دی ته عطف د جملے په جمله باندی وائی۔ لکه جاءَزیدٌ و ذَهبَ عمرٌو۔

د حروف عاطفه ذکر تیر شوے دے د توابع په عطف بحرف بیان کښی ۔ داحروف غیر عامله دی ۔

: ۔ حروف ایجاب ۴

نَعَمۡ"آو"   بَلیٰ "ولی نه "   اِیۡ "جی"   اجَلۡ"جی"
جیرَ "آؤ جی،ہاں جی"   اِنَّ "بیشکه"۔

لکه اَجاءَ زیدٌ جواب :نعَمۡ جی زید راغلے د ے ۔

اوؤه دیرشم سبـــــــــــــــق

۵۔ حروف تفسیر : داسی حروف چی د اجمال د تفسیر د پاره استعمالیږی۔ دا دوه دی "اَیۡ"   یعنی   "اَنۡ" که۔

الغضنفر ای الاسد   و نادینٰهُ انۡ یا ابراهیۡم

او مونږه اواز اوکو هغه ته چی ا ے ابراهیمه۔

۶۔حروف مصدریه:داسی حروف چی فعل مصدری معنیٰ ته یا جمله بتاویل مصدر ګر ځوی دا در ے حروف دی ۔

۱۔اَنۡ   ۲۔ما   ۳۔اَنَّ

عَلمتُ انّک قائمٌ   :ستا ودریدل ما معلوم کړل۔

۷۔حروف استفهام: داسی حروف چی په هغه سره معلومات کولے شی ۔ دا لس حروف دی ۔

۱۔أـــ ۲۔هَل ۳۔ما :څه؟۔ ۴۔مَنۡ څوک؟   ۵۔اَیُّ کوم یو؟   ۶۔ایّةٌ کومه یوه؟   ۷۔ متیٰ کله؟   ۸۔ایّانَ کله؟ ۹۔انّیٰ چرته؟ ۱۰۔اَیۡنَ کوم ځا ۓ؟

اته دیرشم سبـــــــــــــق

۸۔حروف تاکید:هغه حروف چی د هغې په ذریعه په کلام کښی زور او پخت ګی پیدا کولے شی ۔ دا دوه دی "نون تاکید ،ثقیله او خفیفه ۔   او لام تاکید مفتوحه ۔

لکه لَیَضْرِبَنَّ   یا لکه اِنَّ اَبَانَا. لَفِی ضَلَالٍ مُّبِیْنٍ ۔

۹۔حروف تحضیض: داسی حروف چی په هغې باندی مخاطب راتیزولے

۱۰۔حروف ندا ۔چی په دی سره مخاطب ځان ته متوجه کولے شی دا پنځه دی : یَا اَیا هَیا اَیْ اَ ۔لکه یا زیدُ۔

۱۱۔حروف زائده داسی حروف چی د څه معنیٰ د دپاره نه وی صرف د کلام زینت تری غرض وی اته دی ۔

1۔اِنْ 2۔اَنْ 3۔ما 4۔لَا 5۔مِنْ 6۔کَ 7۔ب 8۔ل

لکه ما اِنْ زیدٌ قائمًا یا فَلَمّا اَنْ جَاءَ الْبَشِیرُ۔

یو کم ځلویښتم سبـــــــــــــــق

۱۲۔ حروف شرط: دا هغه حروف دی چی خبره په بله خبره پوری مشروط کوی۔اِنْ **لَوْ اَمّا مَنْ مَا** وغیره حروف شرط دی ۔لکه اِنْ تَضْرِبْنِی اَضْرِبْکَ۔

قاعده :اِنْ د مستقبل دپاره وی ا ګر چی په ماضی باندی داخل وی ۔لکه اِنْ ضربتَ ضربتُ ۔ که ته وځے نو زه به هم وځم۔

قاعده :لَوْ د ماضی د پاره دے ا ګر چی په مضارع داخل شی۔

لکه لَوْ تضرِبْ اضرِبْ که تا وخلے وے نو ما به هم وخل کول۔

قاعده : اَمّا د اجمال د تفصیل د پاره رائی ۔

لکه الناسُ سعیدٌ و شقِیٌّ فَاَمّا الذینَ سُعدوا ففی الجنةِ و اَمَّا الذینَ شقوا ففی النارِ۔

۱۳۔حروف تنبیه: داسے حروف چی د مخاطب غفلت لری کولو د پاره وی چی هغه خبرے ته خه متوجه شی داسی حروف درے دی ۔

اَلَا اَمَا هَا۔

اَلَا بذکر اللّٰهِ تطمئِنُ القلوبُ اَلَا هٰذا الکتابُ سهلٌ جدًا هَا قدْ تَمَّ الکتابُ۔

هٰذا زیدٌ هٰذا مبتدا زیدٌ خبر۔

جواب:رفع ئی په هیڅ سره نده۔

ولی؟

ځکه چی دا اسم غیر متمکن دے ددی آخر نه بدلیږی۔دلته رفع محلی ده هذا مبتدا مرفوع محلًا ده۔

رَاَیْتُ هٰؤُلاءِ

رایتُ فعل فاعل هٰؤلاء مفعول بهٖ ۔

سوال:هؤلاء مفعول به ده او مفعول به منصوب وی د هؤلاء نصب په څه سره دے ؟

یا لکه مَرَرْتُ بِهٰؤلاء کښی هؤلاء مجرور دے جر ئی په څه سره دے ؟

نو جواب د دواړو یو دے کوم چی په هٰذا کښی ذکر شو۔

الدرس فی الاعداد :عربی ګنتی شماره

واحد احد حادی باهم معنیٰ دی او مذکر دی ۔

واحدة احدیٰ حادیةٌ ئی مؤنث دی۔

ددی حکمونه دادی۔

1۔واحد مفرد هم استعمالیږی او معطوفٌ علیه هم ۔لکه هذا واحدٌ واحدٌ و عشرونَ او د عشر سره نه مرکب کیږی۔

2۔د احد ترکیب عشره سره کیږی او مفرد نه استعمالیږی۔او احد په فصیح زبان کښی معطوف علیه هم نه جو ړیږی۔

نو جاءَ احد او احد و عشرونَ صحیح ندی ۔

واحدةٌ یوازی او معطوفٌ علیه دواړه مستعمل دی ۔لکه هذهٖ واحدةٌ او واحدةٌ و عشرونَ ،او د عشر سره نه مرکب کیږی خو نادر۔

1	واحدٌ	23	اثنان	3	ثلاثة
4	اربعة	5	خمسة	6	ستة
7	سبعة	8	ثمانية	9	تسعة
10	عشرة	11	احد عشر	12	اثنا عشر

16	ستة عشر	17	سبعة عشر	18	ثمانية۔ عشر
19	تسعة عشر	20	عشرون	21	واحد وعشرون
22	اثنان وعشرون	23	ثلاثة و عشرون	24	اربعة وعشرون
25	خمسةوعشرون	26	ستةوعشرون	27	سبعة وعشرون
28	ثمانية۔ وعشرون	29	تسعة وعشرون	30	ثلاثون
40	اربعون	50	خمسون	60	ستون
70	سبعونَ	80	ثمانون	90	تسعون
100	مِئَةٌ	200	مِئَتانِ	300	ثلاث مئة
1000	الفٌ	2000	الْفان	3000	ثلاثة الافٍ
100000	مئة الاف	1000000	الْفُ الفٍ		

عدد رتبی مرتبه ظاهرولو واله شماره

مذکر دپاره: الاول الثانی الثالث الرابع الخامس السادس
السابع الثامن التاسع العاشر الحادی عشر الثانی عشر
الثالث عشر الخ۔

العشرون الواحد و العشرون الثانی والعشرون المئة
الالف ۔ مثلًا: الدرسُ الاوّلُ۔

مؤنث دپاره :مثلًا الصفحة الاولیٰ الثانية۔ الثالثة۔ الخ۔

الحادية عشرةالثانية۔ عشرة الثالثة۔ عشرة الخ

العشرون احدیٰ وعشرونَ الثانية۔ وعشرونَ المئةُ والالف۔

دیته عددِ وصفی او عدد فاعل هم وائی ځکه چی ددی احاد د فاعل په وزن باندی وی ۔

الحادی او الحادية د عشرة سره مرکب وی او معطوف علیه هم رازی لکه الحادی و العشرونَ۔ او دا دواړه مفرد مستعمل ندی ۔

احدیٰ هم د عشرة سره مرکب وی او هم معطوف علیه رازی ۔ لکه
احدیٰ عشرةَ غرفةً احدیٰ وعشرونَ غرفةً۔

نوټ: ددی ځائے نه د بعضی تفاصيل شروع دی

:د مبتدا او خبر بیان

مبتدا او خبر دواړه مرفوع وی ،او دوی کښی عامل معنوی رفع ورکوی ،او عامل معنوی د لفظ نه د خالی والی نوم دے۔مبتدا ته مسند الیه او خبر ته مسند وائی۔

مبتدا اکثر معرفه وی او خبر اکثر نکره وی ۔

که نکره کښی څه تخصیص پیدا شو نو بیا مبتدا جوړیدے شی ۔ لکه: طالبٌ مجتهدٌ ناجحٌ دلته طالبٌ نکره ده خو د مجتهدٌ صفت په وجه ئی تخصیص راغے۔

خبر عام طور مفرد وی او کله کله جمله هم وی ۔لکه زیدٌ ابوهٗ قائمٌ

چی کله خبر جمله وی نو په هغے کښی یو ضمیر ضروری وی چی مبتدا طرفته راجع وی ۔

د یوے مبتدا خبرونه ډیر هم راتلے شی ۔لکه زیدٌ عالمٌ عاملٌ فاضلٌ جالسٌ۔

چی کله څه علامه وی نو مبتدا حذف کول هم جائز دی ۔لکه الهلالُ یعنی هٰذا الهلالُ۔

چی کله څه علامه وی نو خبر حذف کول هم جائز دی ۔لکه خرجتُ فاذالسبعُ۔ ددی نه قائمٌ موجودٌ واقفٌ حذف دی ۔

اِنَّ اَنَّ : اِنّ د جملے اول کښی رازی او اَنّ په وسط کښی رازی ۔

د کَاَنّ خبر چی اسم جامد وی نو معنیٰ ئی تشبیه وی لکه کَاَنّ زیدًا اسدٌ، او چی کله د کَاَنّ خبر فعل یا اسم مشتق یا ظرف یا جار مجرور وو نو بیا به ئی معنیٰ شک او ګمان وی ۔لکه کَاَنّ زیدًا یقومُ*عندک*فی البیتِ۔

لٰکِنَّ : د کلام سابق نه پیدا شوی وهم لرے کولو د پاره وی ۔لکه غابَ القومُ لٰکن زیدًا حاضرٌ

لیتَ : د ناممکن شی تمنیٰ د پاره رازی ۔لیتَ الشبابَ یعودُ۔

ما و لا مشابه بلیس:

ما په دریو صورتونو کښې عمل نه کوی

1-چی کله خبر ئی د اسم نه اول راشی -لکه ما قائمٌ زیدٌ-

2-چی کله خبر ئی د اِلَّا نه بعد وی -لکه و ما محمّدٌ الّا رسولٌ

3- چی کله د مَا نه روستو اِنْ راشی لکه ما اِنْ زیدٌ قائمٌ-

لاۓ نفی جنس:

قاعده: چی د لاۓ نفی جنس اسم نکره مفرد وی یعنی مضاف یا مشابه مضاف نه وی نو فتحه باندی مبنی وی -لکه لَا رجلَ فی الدارِ-

قاعده: کچرے د لا اسم معرفه وی نو لا د بلے معرفے سره مکرر کول لازمی دی او بیا به دا لا د لیس مشابه شی او اسم به ئی مرفوع وی -لکه لازیدٌ فی الدارِ ولا عمرٌو.

افعال مقاربه

افعال مقابه اته دی - او دوی دا خبره خائی چی خبر اسم ته نزدی شوے دے- لکه عسیٰ زیدٌ اَن یخرُجَ قریبه ده چی زید راوزی -

1-کاد 2-کرُبَ 3-اوشکَ 4-طفقَ 5-جعلَ 6-اخذَ

دا اسم له رفع او خبر له نصب ورکوی او ددوی خبر همیشه فعل مضارع وی -

عسیٰ: د امید دپاره دے -لکه عسَی اللّٰهُ ان یاتیَ بالفتحِ

کاد: د نزدیکت د پاره دے -لکه کاد الفقرُ ان یکونَ کُفرًا-

کرب/اوشک/طفق/ جعل/ او اخذَ دوی ددی د پاره دی چی دا خائی چی ددوی اسم خبر شروع کړ ے دے -لکه اخذَ زیدٌ ان یخرجَ یعنی زید په وتو شو-

ترکیب:عسیٰ فعل مقاربه اللّٰهُ اسم د عسیٰ انْ یاتِیَ بالفتحِ د مصدر په تاویل سره خبر د عسیٰ شو-

د مفعول مطلق بیان

قاعده : کوم مفعول مطلق چی د تاکید دپاره وی د هغه تثنیه او جمع نه رازی او کوم چی د عدد د پاره وی د هغه تثنیه. او جمع هم رازی ۔لکه جَلستُ جلسةً/جلستينِ/جلساتٍ۔.

قاعده: چی کله قرینه وی نو د فعل حذف کول هم جائز دی او صرف مفعول مطلق ذکر کول جائز دی ۔لکه خيرَ مقدمٍ۔ چی اصل ئی قدمتَ قدومًا خيرَمقدمٍ دے۔

قاعده: بعضے ځا یونو کښی د مفعول مطلق نه فعل حذف کول واجب وی او دا سماعی دی ۔لکه

سَقيًا :سقاکَ اللهُ سقيًا

شُکرًا شکرتکَ شکرًا

حمدًا حمدتُکَ حمدًا

رَعيًا رعاکَ اللهُ رعيًا

سُنّةَ اللهِ سَنَّ اللهُ سنتَهٗ

وَعدَاللهِ۔ وَعدَ اللهُ وعدَهٗ

:مفعول بهٖ

مفعول بهٖ هغه اسم دے چی د فاعل فعل پرے واقع شوے وی ۔

دا منصوب وی او درجه ئی د فاعل نه بعد وی ۔ خو کله کله د فاعل نه او کله د فعل نه هم وړاندی رازی ۔ لکه اَکلَ الخُبزَ حامدٌ / خُبزًا اکلْتُ۔

قاعده : د قرینے په وجه د مفعول بهٖ نه فعل حذف کول جائز دی ۔لکه آیش تَأکُل جواب کښی صرف خبزًا یعنی اٰکُلُ خبزًا۔

قاعده : **څلورو ځایونو کښی د مفعول بهٖ نه فعل حذف کول واجب دی ۔**

یو ځاے سماعی دے او باقی درے قیاسی دی ۔

1۔**سماعی** : لکه میلمه ته عرب وائی اَهْلًا سَهلًا اَیْ اتیتَ اهلًا ووطیتَ سهلًا۔

2۔تحذیر: معنیٰ ئی ده 'یَرَوَل' او کوم څیز نه چی یرولے شی هغے ته محذر عنهٗ وائی۔

لکه : البیرَ البیرَ یا لکه الاسدَ الاسدَ دلته اتقِ فعل محذوف دے ۔

یا لکه اِیّاکَ والحسدَ اَی اتقِ نفسکَ من الحسدِ۔

3۔اضمار علیٰ شرط التفسیر:

د مفعول بهٖ نه پدی شرط باندی فعل حذف کول چی روستو په تفصیل کښی ذکر وی ۔لکه زیدًا ضربتهٗ۔ د زیدًا نه اول یو ضربتُ پټ دے او روستو ضربتُ ئی تفسیر کوی ۔یا لکه وَالقمرَ قدّرناهٗ۔

4۔منادیٰ:

دا هغه اسم دے چی هغه ته اواز اوشی او هغه مسمّیٰ ځان ته متوجه کړی۔لکه یا زیدُ۔

منادیٰ د اَدْعُو فعل د پاره مفعول بهٖ وی ادعو حذف دے او یا قائم مقام ده د اَدعُو ۔

د منادیٰ اعراب دوه دی ۔

1۔منادیٰ که مفرده وی معرفه وی یا نکره معیّنه وی نو مبنی به وی په علامے د رفع سره ۔ لکه یا زیدُ /یا رجلُ یا مسلمون یا رجلانِ۔

2۔که منادیٰ مضاف وی یا مشابه مضاف وی یا منادیٰ نکره غیر معیّنه وی نو بیا به منصوب وی ۔لکه یا عبدَاللّٰهِ یا طالعًا جبلًا یا رجُلًا خذْ بیدِیْ۔

قاعده: کچرے منادیٰ معرف باللام وی نو حرف ندا او منادیٰ په درمیان کښی فصل کول لازمی دی چی دوه حروف د تعریف یو ځائے نشی ۔ البته اسم 'اللّٰه' ددی قاعدے نه مستثنیٰ دے ۔او د فصل د پاره اَیّها او اَیَّتُها راوړے شی ۔

لکه : یا اَیُّها النّاس یا ایتها النفسُ المطمئِنة۔

:استغاثه

بله منادیٰ مستغاث او مستغاث لهٗ بیان۔ ددی معنیٰ فریاد کول دی ۔په مستغاث باندی لام مفتوح او په مستغاث له باندی لام مکسور راځی. یا لَلقوم

منادیٰ مستغاث مجرور وی ۔

:ندبه

د مړی خوبئ بیانول : ندبه د پاره مخصوص حرف 'وا'دے او 'یا' هم مستعمل دے ۔

لکه وا زیداه واسیداه واحسرتاه یا حسرتاه ۔افسوس کونکی ته نادب او په چا باندی چی ژړا کوی هغه ته مندوب وائی۔

قاعده : د منایٰ مندوب حکم د عام منادیٰ په مثل دے ۔لکه وا زیدُ وا عبدَ اللّٰہِ۔

او چی کله په آخر کښی د ندبه الف او "ه"د اواز راخکلو د پاره راشی نو بیا به مفتوح وی لکه: وازیدَاهْ۔

ترخیم د منادیٰ

ترخیم په لغت کښی لئ کټ کولو ته وائی۔ او د نحو په علم کښی د منادیٰ نه یو یا دوه حروف د تخفیف د پاره کټ کول ،بیا داسی منادیٰ ته منادیٰ مرخَّم وائی۔منادیٰ مرخم باندی ضمّه هم جائز ده او خپل اصلی حرکت وئیل هم جائز دی ۔

لکه :یا مالِکُ نه یا مالِ/یامالُ یاعُثمانُ نه یاعثمُ/یاعثمَ۔

مفعول له

دا هغه مفعول دے چی د چا د وجے نه فعل شوے وی ۔مفعول له منصوب وی ۔

د مفعول له دوه صورتونه دی ۔

1۔هغه مفعول له چی د هغے د حاصلولو د پاره فعل شوے وی لکه : تادیبًا په ضربتُهٗ تادیبًا کښي۔

2۔هغه مفعول له چی د هغے د موجود کیدو د وجے نه فعل شوے وی ۔لکه جُبنًا په قعدَ عنِ الحربِ جُبنًا. کښی ۔

مفعول معهٗ بیان

ددی څلور صورتونه دی ۔

1۔فعل په لفظونون کښې موجود وی او معیت ئے د فاعل سره وی ۔لکه جاءَ البردُ و الجبّاتِ۔

2۔فعل په لفظ کښې موجود وی او معیت ئے د مفعول سره وی ۔

لکه کفاکَ و زیدًا درهمٌ۔

3۔فعل معنوی وی او معیت ئے د فاعل سره وی ۔لکه :مالَکَ و زیدًا۔

4۔فعل معنوی وی او معیت ئے د مفعول سره وی ۔لکه حسبُکَ و زیدًا درهمٌ۔

د مفعول فیه بیان

مفعول فیه هغه اسم منصوب دے چې د فعل دپاره ځائے یا وخت وی ۔دیته ظرف هم وائی۔

د ظرف څلو رقسمونه دی ۔

1۔ظرف زمان مبهم ،لکه دهرٌ حینٌ زمانه وخت۔

2۔ظرف زمان محدود ،لکه یومٌ لیلٌ شهرٌ سنةٌ۔

3۔ظرف مکان مبهم،لکه اَمام خَلْف یمین شمال فوق تحت۔

4۔ظرف مکان محدود، لکه دارٌ بیتٌ مسجدٌ۔

دا ړومبی درے قسمونه د "فی" تقدیر سره منصوب وی ،لکه صُمتُ دهرًا /صمتُ شهرًا /جلستُ یمینَکَ ۔ اَیْ فی دهرٍ/فی شهرٍ /فی یمینِکَ۔

او د ظرف څلورم قسم کښې 'فی 'په لفظونو کښې ذکر کول ضروری دی ۔ لکه صلیتُ فی المسجدِ۔خو د "دخلَ"فعل نه بعد فی نه رازی ،لکه دخلتُ المسجدَ دخلتُ الدارَ۔

د"حال "بیان

حال هغه اسم منصوب دے چې د فاعل یا د مفعول یا د دواړو حالت بیانوی۔ او هغه فاعل یا مفعول چې حالت ئې بیان شوے وی ذوالحال دے ۔

ذوالحال اکثر معرفه وی او حال نکره وی او اکثر مفرد وی۔

قاعده : که ذولحال نکره وه نو حال مقدم کول واجب دی ـچه حالت نصبی کښې د صفت سره اشتباه رانشی ،لکه لقیتُ فاضلًا رجلًا۔ دلته که لقیتُ رجلًا فاضلًا اووائی نو موصوف صفت هم جوړ یدے شی او ستا غرض به حال جوړول وی ۔

قاعده: حال له نصب فعل یا شبه فعل ورکوی یا معنیً فعل ورکوی۔

لکه: جاءَ زیدٌ راکبًا دلته جاءَ فعل عامل دے

زیدٌ فی الدارِ قائمًا دلته ثابتٌ شبه فعل عامل دے

هٰذا زیدٌ نائمًا دلته هٰذا بمعنی اُشیرُ فعل معنیً عامل دے ۔

قاعده: چی کله حال نکره نه وی معرفه وی نو بتاویل نکره به اغستے شی ـلکه ضربتُهٗ وحدی بتاویل ضربتُهٗ منفردًا۔

قاعده: حال کله جمله اسمیه او کله جمله فعلیه هم رازی ۔

لکه **لقیتُ حمیدًا و هُوَ جالِسٌ جاءَ رجُلٌ یسعیٰ۔**

په داسی صورت کښی د حال او ذوالحال سره رابط په حال کښی ضروری دے ،که واو حالیه وی او که ضمیر راجع وی ذوالحال ته،او که دواړه وی ۔

قاعده: که قرینه موجود وی نو د حال عامل حذف کول جائز دی ،لکه سفر باندی تلونکی کس ته راشِدًا مهدِیًّا یا سالِمًا غانِمًا وئیل۔

دلته عامل' سِرْ' محذوف دے او ذوالحال انتَ مستتر دے۔

د تمییز بیان

تمییز هغه اسم منسوب دے چی د یو غیر واضح شی پوشید ګی لری کی۔

لکه اَحَدَ عَشَرَ کوکَبًا دلته کوکبًا تمییز دے د احد عشر وضاحت ئی وکو۔

ممَّیز هغه اسم دے چی د هغے پوشید ګی په تمییز سره لرے کړے شی۔ لکه احَدَ عشَرَ په مثال مذکور کښی ۔

تمیز ہمیشه نکره وی او منصوب وی ۔

: د تمییز دوه قسمه دی

2ـتمییز عن النسبة　　　لکه طابَ زیدٌ نفسًاـ

طابَ فعل او زیدٌ ئی فاعل درمیان چی کوم نسبت دے هغې کښې ابهام دے /پوشید ګی ده چی هغه په نفْسًا سره لرې شوـ معنیٰ د زید طبیعت خه دےـ

:قاعده: د ړومبی قسم تمییز عن المفرد

دے ابهام لرے کوی : د عددنه، وزن نه، کیل نه، پیمانے نه، مساحت نه ،پیمائش نه ـ

او داسی تمییز له نصب ورکونکے عامل اسم تام وی او په دی کښې من مقدر وی او ممیز او تمییز ملکر د جملے جزء جوړیګی ـ

لکه عندی احَدَ عشرَ درهمًا/ رطلٌ زیتًا /قفیزٌ بُرًا /شِبْرٌ ارضًاـ

یعنی موجودٌ عندی به خبر مقدم شی او احَدَ عشرَ درهمًا/ رطلٌ زیتًا /قفیزٌ بُرًا /شِبْرٌ ارضًا به ممیز سره د تمییز نه مبتدا شی ـ

قاعده : دویم قسم تمییز عنِ النسبة په حقیقة کښې د فاعل وی یا د مفعول بهٖ یا د مبتدا وی ـ دد ے عامل ناصبه فعل وی ـ

لکه :وَاشتعلَ الرأسُ شیبًاـ　　و فجَّرنا الارضَ عیونًا　　انَا اکثرُ مِنکَ مالًا و ولدًاـ

یعنی اشتعلَ شیبُ الرأسِ دلته تمییز فاعل دے ـ

فجرنا عیونَ الارضِ دلته تمییز مفعول بهٖ دے ـ

مالی وولدی اکثرُ منکَ دلته تمییز مبتدا ده ـ

کله کله د تمییز حذف جائز دے ـ لکه کَمْ صُمتَ؟　ای کَم یومًا صمتَ؟

د اعدادو د تمییز بیان

(نـــــوټــــــ)

دا سبق طویل هم دے او مشکل هم دے لږ لږ وئیل بیا بیا وئیل او خه مشق تمرین کول دی ـ

1ـد واحد او اثنانِ او د واحدةٌ او اثنتانِ تمییز نه وی یا عدد ذکر وی یا معدودـ

هٰذهِ واحدةٌ/هٰذهِ بقرةٌ هاتانِ اثنتانِ/ هاتانِ بقرتانِ

2۔که د معدود نه روستو واحد او اثنان رازی نو د قاعدے موافق به وی ۔یعنی مذکر له مذکر او مؤنث له مؤنث۔

لکه: اِلٰهٌ واحدٌ نفسٌ واحدةٌ اِلٰهینِ اثنینِ بقرتانِ اثنتانِ

3۔ ثلاثةٌ نه تر عشرة پورے تمییز جمع او مجرور رازی ۔لکه ثلاثةُ رِجالٍ/ثلاثُ نسوةٍ۔

4۔احدَ عشرَ نه تر تسعةَ عشرَ پورے ددی تمییز به مفرد منصوب وی ۔لکه احدَ عشرَ کوکبًا عشرونَ رجلًا۔

5۔مِئَةٌ ،الفٌ مئتانِ الفانِ مِئاتٌ آلافٌ تمییز به مفرد مجرور وی ۔

یعنی کتابٍ۔

6۔د ثلاثةٌ نه تر تسعةٌ پوری که چری تمییز مئَةٌ راغے نو مفرد مجرور به وی ۔ لکه ثلاث مِئةٍ۔

د عدد د تذکیر او تانیث بیان

1۔ثلاثةٌ نه عشرةٌ پوری استعمال ئی خلاف قیاس دے ۔لکه ثلاثةُ رجالٍ ، ثلاثُ نسوَةٍ۔

2۔د احد عشر او اثنا عشر استعمال موافقِ قیاس دے ۔لکه احدَ عشر /اثنا عشر رجلًا او احدیٰ عشرةَ /اثنتا عشرة امرئَةً۔

3۔د شل نه روستو هر لسمه شماره نه مخکښی دوؤ عددونو کښی به اول جزء موافق قیاس وی او دویم جزء به په یو حال وی ۔

لکه :احدٌ و عشرونَ رجلًا اثنانِ و عشرونَ رجلًا

احدیٰ و عشرونِ امرئةً اثنتانِ وعشرونِ امرئةً

4۔ثلٰثـــةَ عشر نه تر تســـــعةَ عشر پورے اول جزء به خلاف قیاس وی او دویم جزء به موافقِ قیاس وی۔

لکه : ثلاثةَ عشرَ رجلًا ثلاثَ عشرةَ امرئةً۔

5۔د شلو نه بعد هر لسمه شماره دوه عددونو نه بعد والا اعداد رومړ جزء به

لکه : ثلاثةَوعشرونَ رجلًا ثلاثَ وعشرونَ امرئةً۔

6۔د عشرون نه تر تسعون پورى د ټولو دہایانو (لسمه شماره) کښي به مذکر او مؤنث يو شان وى ۔

لکه : عشرونَ رجلًا/ امرَئَةً

7۔مِئَةٌ الف او ددى تثنيه او جمع کښى به هم مذکر او مؤنث يو شان وى ۔

لکه :مئة/مئتانِ/مئاتٌ/الفٌ /الفانِ/آلافٌ رجلٍ/امرئةٍ۔

د مستثنیٰ بيان

دا هغه اسم دے چی د حرف استثناء په ذريعه د ماقبل حکم نه ويستلے شی ۔
ددى دوه قسمه دى ۔1۔متصل 2۔منفصل

لکه :جاءَ القومُ الّا زيدًا جاءَ القومُ الّا حمارًا

دا دوه قسمه ئى د ماقبل کښى د داخل او غير داخل په اعتبار سره دى ۔

او مستثنیٰ مذکور او غير مذکور په اعتبار سره هم په دوه قسمه دى۔

1۔۔مفرَّغ 2۔۔غير مفرَّغ

1۔مستثنیٰ مفرغ هغه ده چی مستثنیٰ منهٗ مذکور نه وی۔لکه:ماجاءَنی الازيدٌ۔

2۔مستثنیٰ غير مفرغ چی مستثنیٰ منه مذکور وی ۔ لکه : جاءَ نی القومُ الّا زيدًا۔

د مستثنیٰ اعراب نصب دے په الّا ۔

خو دوه صورتونو کښى ئى تفصيل دے ۔

(الف)مستثنیٰ بعد الا کلام غير موجب (مثبت)نفى ،نهى،استفهام والا وى او مستثنیٰ منه مذکور وى نصب هم جائز دے او د ماقبل نه بدل هم جائز دے ۔يعنى چی کوم اعراب په مستثنیٰ منه دے هغه په مستثنیٰ هم وى ۔

لکه : ما جاءنى احدٌ الا زيدًا / زيدٌ

(ب) مستثنیٰ بعد الا کلام غير موجب کښى وى او مستثنیٰ منه مذکور نه وى نو د مستثنیٰ اعراب به د عامل موافق وى ۔

لکه : ماجاءنى الا زيدٌما رايتُ الا زيدًا ما مررتُ الا بزيدٍ

قاعده: ما عدا او ما خلا نه بعد بالاتفاق او عدا او خلا نه بعد عند الاکثر مستثنیٰ منصوب وی ۔

لکه :جاء القومُ ماخلا/ماعدا/عدا/خلا زیدًا۔

قاعده: د غیر ،سویٰ او سواءَ او حاشا نه بعد مستثنیٰ مجرور وی ۔

لکه: جاء القوم سویٰ/سواءَ/حاشا زیدٍ

قاعده: په "غیر"باندی به هغه اعراب وی کوم چی د مستثنیٰ بعد د الا نه وی ۔ او سواء به د ظرفیت په وجه نصب وی ۔

قاعده : الّا کَلَه کَلَه صفتی هم رازی ۔لکه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ۔یعنی لا اله غیر اللّٰهِ ۔

داسی اله نشته چی د الله نه غیر وی هغه اله نشی کیدے ۔دلته استثنائی معنیٰ نه صحیح کیږی ۔

دغه شان لَو کانَ فیهما اٰلهةٌ الا اللّٰهُ لفسدَتا کښی هم الّا معنیٰ د غیر صفتی دے ۔

د مضاف مضافٌ الیه بیان

مضاف هغه اسم دے چی بل اسم ته منسوب وی ،او مضافٌ الیه هغه اسم دے چی ده طرفته بل اسم منسوب وی ۔

لکه : کتابُ اللّٰهِ بابُ البیتِ طریقُ المسجدِ

اضافت په دوه قسمه دے لفظی او معنوی ۔

: ۔اضافت لفظی1

هغه دے چی په هغے کښی د اسم مشتق (صفتی) اسم اضافت شوے وی خپل معمول ته ۔(اضافت د عامل معمول ته)۔

لکه :ضاربُ زیدٍ ،مضروبُ عمرٍو ،حسَنُ الوجهِ ،قیامُ زیدٍ۔

که معمول مضافٌ الیه فاعل وی د مضاف نو مرفوع معنیً مجرور لفظًا به وی ۔

که معمول مضافٌ الیه مفعول وی د مضاف نو منصوب معنیً او مجرور لفظًا به وی ۔

چی په هغې کښې د غیر صفت اضافت شوے وی ۔

لکه:دارُ زیدٍ عبْد اللّٰهِ قلم بکرٍ ۔

دا اصلی او حقیقی اضافت دے ۔

فائده:اضافت لفظی صرف د تخفیف د پاره وی ،تنوین ،نون تثنیه،نون جمع حذف شی ۔لکه ضاربُ زیدٍ ضاربا زیدٍ ضاربو زیدٍ۔

قاعده:اضافت معنوی د تعریف یا تخصیص فائده ورکئ۔یعنی که مضافٌ الیه معرفه وی نو مضاف به هم معرفه شی ۔

لکه:کتابُ ابراهـــــیمَ ۔

او که مضافٌ الیه نکره وی نو مضاف کښې به تخصیص پیدا کوی یعنی وس خالص نکره نه وی ۔

لکه :غلامُ رجلٍ د یو سړی غلام یعنی د ښځې نه۔

قاعده: اضافت معنوی کښې مضاف الیه په تقدیر د حرف جار سره مجرور وی ۔لکه غلامُ زیدٍ اَیْ غلامٌ لِزیدٍ۔ خاتمُ فضةٍ ای من فضةٍ ضربُ الیومِ ای فی الیومِ۔

د توابع بیان

تابع هر دویم اسم چی اعراب ئی د اول اسم وی ،جهت ئی هم یو وی ۔

توابع پنځه دی ۔

1۔صفت 2۔تاکید 3۔بدل 4۔معطوف بحرف 5۔عطف بیان۔

1۔صفت هغه تابع دے چی د موصوف یا د موصوف د تعلقدار خه یا بد وائی۔ اول ته صفت بحالهٖ (بحال الموصوف) وائی۔دویم ته صفت بحال متعلقهٖ (بحال متعلق الموصوف) وائی۔

مثال د اول :جاءنی رجلٌ عالمٌ دلته عالَمٌ د رجلٌ صفت دے رجلٌ موصوف شو عالمٌ د رجل صفت ؤکه یعنی خه ئی بیان کړل۔

مثال ددویم: جاءنی رجلٌ عالمٌ ابوهٗ۔ دلته عالَمٌ د رجلٌ صفت دے رجلٌ د تعلقدار یعنی دپلار صفت ئی ؤکه یعنی خه ئی بیان کړل۔

قاعده صفت بحال المتعلق. په لسو 10 خبرو کښې د موصوف مطابق وی بَیَک وقت څلور موجود وی ۔

1۔معرفه 2۔نکره 3۔مذکر 4۔مؤنث 5۔مفرد 6۔تثنیه 7۔جمع 8۔رفع 9۔نصب 10۔جر۔

قاعده : صفت بحال الموصوف په پنځه خبرو کښې د موصوف موافق وی ۔ او بَیَک وقت دوه موجود وی ۔

1۔تعریف 2۔تنکیر 3۔رفع 4۔نصب 5۔جر۔

باقی پنځه. کښې به صفت د فعل مشابه وی ،د فعل چی کوم حالات د فاعل په اعتبار. سره وو هغه حالات به د صفت د فاعل په اعتبار سره وی ۔لکه :جاء رجلٌ قائمٌ ابوهٗ جائَتْ امرئةٌ قائمٌ ابوها. جاء رجلٌ عالمةٌ بنتُهٗ۔

2۔**عطف بحرف** :زیدٌ جاءَ و عمرٌو عطف په ضمیر مر فوع متصل باندی صحیح ندے ۔ چی فاصله وی په ضمیر منفصل سره یا غیر سره نو بیا عطف صحیح دے ۔لکه:

زیدٌ جاء الیومَ و عمرٌو ضربتُ فی المسجدِ و زیدٌ یا ضربتُ انا و زیدٌ ضربتَ انتَ و زیدٌ جاءَ هُوَ و عمرٌو۔

:یو څو اهم ضابطے د پاره د مضاف او مضافٌ الیه

ضابطه اوله:

کله د صفت اضافت موصوف ته وی لکه : بکریمِ خِطابهٖ ای بخِطابه. الکریمِ

او کله د موصوف اضافت صفت ته وی لکه :بروح القدسِ یعنی داسی روح چی پاکیزه دے ۔

ضابطه 2:

مضافٌ الیه حذف کولے هم شے او د هغې په عوض کښې په مضاف باندی الف لام راوړی شی ۔لکه و مِنْ خواصهٖ دخولُ اللامِ ای دخول لامِ التعریفِ۔

کله په عوض کښې په مضاف باندی تنوین راشی لکه یومَئِذٍ چه په اصل کښې یومَئِذْ کانَ کَذا وو بیا کانَ کذا مضافٌ الیه ئی حذف کو او د مضاف په آخر ئی

او کله مضاف مبنی بر ضمّه کولے شی لکه : للّٰهِ الامرُ من قبلُ و مِن بعدُ۔

یعنی من قبلِ کلِّ شیٔ و من بعد کل شیٔ۔

دلته هم کل شیٔ مضاف الیه لره ئی حذف کو او بیا ئی مضاف قبلُ او بعدُ مبنی بر ضمّه کړو۔

3 ضابطه ۔مضافٌ الیه یا د مضاف الیه معمول په مضاف باندی مقدم کول جائز ندی ۔

ضابطه 4۔د مضاف نه تاء حذف کول جائز. دی لکه : اقامِ الصلوٰةِ ای اقامة الصلوٰة۔

ضابطه 5۔کله کله مضاف محذوف وی لکه : و العاقبةُ للمتقینَ ای حسْنُ العاقبةِ۔۔

ضابطه 6۔ کله چی یو اسم یاء د متکلم طرفته مضاف وی نو د مضاف آخر له به د یاء د مناسبت د وجه نه کسره ورکولے شی او په یاء کښی سکون او فتحه دواړه جائز دی ۔لکه ربِیْ ربِّیَ ۔

خو که چرے اسم مقصور اسم منقوص تثنیه. جمع مذکر سالم یائے متکلم طرفته مضاف وی نو مضاف ساکن او یاء مفتوحه وئیل واجب دی لکه :
عصایَ لَیالِیَ صاحبایَ مسلِمِیَّ۔

ضابطه 7۔ کوم اسم چی معرف باللام وی هغه مضاف نشی کیدے ۔البته په دریؤ صورتونو کښي مضاف کیدے شی ۔

1۔اضافت لفظی وی او د مضافٌ الیه نه ضمیر حذف کی او په مضاف کښی ئی مستتر کی ۔لکه: الحسَنُ الوجهِ چی اصلًا الحسَنُ وجهُهٗ وو۔ بیا د وجهه ہٗ ضمیر ئی حذف کو او الحسن کښی ئی مستتر کو۔او د هغه په عوض ئی وجهٌ باندی الف لام داخل کړل،نو الوجهُ شو بیا ئی ورته الحسن مضاف کو نو الحسَنُ الوجهِ شو۔

2۔اضافت لفظی وی او مضاف تثنیه. یا جمع مذکر سالم وی ۔

لکه:الحافظاتُ دروسِها و المُقیمی الصلوٰةِ۔

3۔اضافة لفظی وی او مضافٌ الیه معرّف باللام وی ،یا معرّف باللام طرفته

لکه: المنصّف الناسِ محبوبٌ المحِبُّ فعلِ الخيرِ سعيدٌ۔

:ضوابط د پاره د موصوف صفت

ضـــــ1۔هر يوه صيغه د صفت موصوف غواړی ،خواه که موصوف ذکر وی او که نه وی ۔

مثال د مذکور: اهدِنا الصراطَ المستَقيمَ۔

مثال د محذوف:القصاصُ واجبٌ لقتلِ محفوظِ الدمِ ،اَیْ لقتل الرجلِ محفوظ الدم۔

ضـــــ2۔کله کله موصوف حذف کولے شی ۔لکه: اَنِ اعْمَلْ سابغاتٍ يعنی دروعًا سابغاتٍ۔

کله کله صفت حذف کولے شی لکه: وکانَ ورائَهم مَلکٌ يأخذُ کل سفينةٍ غصبًا۔ ایْ سفينةٍ صحيحةٍ(سالمةٍ) غصبًا ۔

کله کله صفت او موصوف دواړه حذف وی ۔لکه: لايموتُ فيها ولايحیٰ۔يعنی حياةً نافعةً۔

ضـــــ3۔ځلور ځيزو نه عام طور باندی صفت جوړيږی ۔

(1)۔اسم مشتق :هغه اسم چی په ذات مع الوصف دلالة کوی ۔

لکه:ضاربٌ مضروبٌ حسنٌ افضلُ۔

(2)۔اسم جامد چی په معنیٰ کښی د اسم مشتق مشابه وی ۔ددی يو څو صورتونه دی :

اسم اشاره لکه مررتُ بزيدٍ هٰذا ایْ بزيدٍ المشارِ اليهِ۔

۱۔ذو بمعنیٰ صاحب: لکه و فرعونَ ذوالاوتادِ،ایْ صاحب الاوتاد۔

۲۔ذات بمعنیٰ صاحبة:لکه فانبتنا بهٖ حدائقَ ذاتَ بهجةٍ ایْ صاحبةَ بهجةٍ۔

۳۔اسم موصول: جاء الرجلُ الذی اجتهدَ ای المجتهدُ۔

۴۔اسم عدد:جاء رجالٌ اربعةٌ ایْ معدودونَ بهٰذا العدد۔

۶۔یا تشبیه باندی دلالت کوی لکه :رایتُ رجلًا اسدًا ایْ شجاعًا۔

۷۔ما نکره چی د ابهام د پاره وی :لکه:اَکرمْ رجلًا مّاایْ رجلًا مطلقًا۔

۸۔کُلٌ ،اَیٌّ: لکه: انتَ الرجلُ کُلُّ الرجلِ ای الکاملُ فی الرجُلیةِ۔ جاء الرجلُ ایُّ الرجلُ ای الکامِلُ۔

د کُلُّ د صفتیت د پاره شرط دے چی موصوف به معرفه وی ۔

او اَیّ د پاره شرط دادے چی موصوف به نکره وی ۔

او دا دواړه چی کله صفت واقع شی نو په معنیٰ د الکامل او کاملٌ به وی ۔

(3)۔جمله ۔ لکه : حروفٌ تجُرُّ الاسمَ۔

د جمله صفت کیدو د پاره درے شرائط دی ۔

۱۔موصوف به نکره وی د معرفه صفت نشی کیدے ۔

۲۔جمله به خبریه وی انشائیه نشی کیدے۔

۳۔دغه جمله کښې به ضمیر وی موصوف ته به راجع وی ۔

(4)۔مصدر۔دا به صفت پدی شرط جوړیږی چی نکره صریحه. وی او دال علی الطلب وی ۔لکه: **هٰذا رجلٌ عدلٌ**۔(دال علی الطلب نه مراد دال علی المطلوب دے او مطلوب دلته زیادة معنیٰ د مصدر ده او هغه صرف په مصدر صفت سره حاصلیگی)

لیکن کوفیان مصدر د مشتق په معنیٰ اړوی نو د هغوی په نزد عدلٌ د عادلٌ په معنیٰ سره دے ۔

ضـــــ4 :صفت بحال متعلق الموصوف کله فعل وی ،کله اسم فاعل،کله اسم مفعول او کله صفت مشبه صیغه وی او ددی فاعل یا نائب فاعل به ظاهر وی ۔

لکه :جاءنی رجلٌ اکرمنی ابوه

جاء رجلٌ صالحٌ ابوه

جاء رجلٌ مضروبٌ غلامُهٗ

جاء رجلٌ کریمٌ ابوهٗ۔

ا۔صفت به وی د مضاف مضاف اليه دواړو د پاره لکه:عبدُالقاهرِابنُ عبدالرحمٰنِ۔

ب۔صفت وی صرف د مضاف د پاره ۔لکه کلماتُ اللهِ العليٰا۔

ج۔صفت وی صرف د مضاف اليه دپاره۔لکه غَسلُ الاعضاءِ الثلٰثةِ۔

ضـــــ6:موصوف صفت کښې د لاندی مذکوراشياؤ فاصله جائز ده۔

۱:دکانَ زائده لکه: اتيتُ لزيارةِ صديقٍ کانَ مريضٍ۔

۲:د فاعل لکه:لاينفعُ نفسًا ايمانُها لم تکُنْ اٰمنتْ مِن قبلُ۔

۳:د مبتدا لکه:قالتْ رسلُهم اَفِی اللهِ مثلٌ فاطرِ السموٰتِ والارضِ۔

۴:د مفعول بهٖ:لکه :يومَئِذٍ يوفيهمُ اللهُ دينَهم الحقُّ(رفعًا)۔

۵:د صفت د معمول:لکه ذالِکَ حشرٌ علينا يسيرٌ۔

۶:د جمله معترضه لکه:وَاِنَّهٗ لفسقٌ لو تعلمونَ عظيمٌ۔

ضـــــ7:د يو موصوف ډير صفات هم کيدے شی ()۔لکه عسیٰ ربُّهٗ اِنْ طلقکُنَّ اَنْ يُبدله ازواجًا خيرًا منکن مســــلماتٍ مؤمـــــنٰتٍ قـــــانتاتٍ تـــــائباتٍ عابـــــداتٍ سائحـــاتٍ ثيّبـــاتٍ و ابکـــارا۔

او موصوف د عطف نه بغير د يو نه زائد نشی کيدے: لکه ويعذبُ اللهُ المنٰفقينَ و المنٰفقٰتِ والمشرکينِ والمشرکٰتِ الظانّينَ باللهِ ظنَّ السوءَ۔

ضـــــ8:ضمير نه موصوف واقع کيږی نه صفت۔(البته امام کسائیؒ په نزد د غائب ضمير موصوف واقع کيدے شی ۔لکه اللّٰهُم صلِّ عليهِ الرؤفِ الرحيمِ۔

ضوابط د مبتدا اوخبر

ضـــــ1:مبتدا کښې اصل تعريف دے او خبر کښې تنکير۔لکه:زيدٌ عالمٌ،زيدٌ غلامٌ۔اللهُ معبودٌ۔

مبتدا او خبر که دواړه معرفې وی نو مبتدا به ضرور ړومبۍ وی په خبر باندی،لکه: اللهُ ربُّنا محمدٌ رسولُ اللهِ۔

دی دواړو کښې صلاحيت د مبتدا والی شته دے ،نو چی کوم مبتدا کوی هغه په ړومبی کول شی ۔ربنا اللهُ او رسولُ الله محمدٌ کښی وس ربنا او رسول الله

یو څو علامات ذکر کولے شی د مبتدا والی ۔

۱۔د اِنّما. نه بعد چی کوم یو اسم راشی نو هغه به مبتدا وی ۔

لکه:انّما. الٰهکم الهٌ واحد   انما المؤمنونَ اخوةٌ   انما. انا بشرٌ۔

۲۔د لولا مدخول به مبتدا وی او خبر به ئی محذوف وی ۔

لکه:لولا علیٌّ لهلکَ عمرُ   ای   لولا علیٌّ موجودٌ۔

۳۔ما تعجبیه او ما استفهامیه هم مبتدا جوړیدے شی ۔

لکه:تعجبیه: ما اعظم شانهٗ   استفهامیه:ما ادراکَ ما یوم الدین۔

۴۔د جزاء په مقام چی د فاء جزاییه. نه بعد جار مجرور راشی نو دا به خبر مقدم وی او بعد والا اسم به مبتدا مؤخر وی ۔

لکه:من جاء بالحسنة. فله عشر امثالها   من صلیٰ قائمًا فهو افضل ومن صلیٰ قاعدًا فله نصف اجر القائم و من صلیٰ نائمًا(مضطجعًا)فله نصف اجر القاعد۔

۵۔ددی علامت (ہ)استیناف لاندے چی جار مجرور راشی نو هغه به خبر مقدم وی او بعد والا به مبتدا مؤخر وی ۔

لکه :وفی اللسانِ الدیة   و فی شعر الرأسِ الدیةُ۔

۶۔که چری د مَنْ موصوله نه بعد جار مجرور وی او د هغے نه روستو اسم وی نو جار مجرور به خبر مقدم او اسم به مبتدا مؤخر وی بیا به مبتدا او خبر صله د موصول وی ۔

لکه:المستحاضةُ و مَن بهٖ سلسل البولِ۔

ضـــــ2: مبتدا همیشه اسم وی حقیقةً وی او که حکمًا ،او خبر کله اسم وی کله فعل وی او کله ظرف وی ۔

لکه:زیدٌ غلامٌ زیدٌ ضربَ غلامهٗ   زیدٌ فی الدارِ۔

ضـــــ3: د مبتدا خبر چی کله جمله وی نو پدی کښی عائد او رابط کیدل ضروری دی ،دپاره ددی چی مبتدا او خبر کښی ربط پیدا شی ورنه جمله. خو پخپله مستقل بنفسهٖ ده۔

بیا د رابط یو څو صورتونه دی

۲**ـالف لام**ـنعمَ الرجلُ ابو بکرٍ ـنعم الرجل فعل فاعل ملکر خبر مقدم او بو بکرٍ مبتدا مؤخر ده او د الرجلُ الف لام رابط دے ـ

۳**ـاسم ظاهر د ضمیر په ځائے وی** :لکه الحاقةُ ماالحاقةُـدلته الحاقة مبتدا ده او ماالحاقة مبتدا خبر ملکر ددی خبر دے،او دویم الحاقة د ضمیر په ځائے دے،اصل ئی داسی پکار وو چی الحاقةُ ما هِیَ۔

۴**ـخبر مفسِّر وی د مبتدا د پاره** :لکه قلْ هو اللّٰهُ احدٌـدلته هو ضمیر شان مبتدا ده او اللّٰهُ احد جمله ددے خبر دے ـاو لفظ اللّٰه مبتدا د هو تفسیر کوی ـ

ـاسم اشاره وی ـ لکه:و لباسُ التقوٰی ذالکَ خیرٌـ۵

لیکن یاد ساتئ بعض اوقات قرینه(علامه) په وجه عائد حذف کول هم جائز دی ـ

لکه :السمنُ منوانِ بدرهمٍ البر الکرُّ بستینَ درهمًاـ

ددی دوؤ مثالونو نه منهٗ عائد حذف شوے دے ـ

اصل ئی: السمنُ منوانِ منه بدرهمٍ البر الکرُّ منه بستینَ درهمًاـ

یعنی د اندازے او قرینے نه معلوم شوـاو قرینه داده چی بائع د څه شی نوم اخلی نو د هغے نرخ بیانوی نو نرخ هم د هغه شی خائی د کوم چی ئی ذکر کړے وی نه چی د بل۔

ضـــــ4:مبتدا همیشه یوه وی او خبر د یو نه زیات هم رازی.ـد ډیرو خبرونو بیا دوه طریقے دی سره د عطف نه او بغیر د عطف نه ـ

لکه:هٰذا زیدٌو عمرٌو و بکرٌ سره د عاطف نه ـ

او اللّٰهُ علیمٌ حکیمٌ حفیظٌ بغیر د عطف نه۔

ضـــــ5:مبتدا او خبر کښی مطابقة ضروری دے خو ددے د پاره شرطونه دی ـ

۱ـمبتدا او خبر دواړه اسم ظاهر وی ـ احترازی مثال هِیَ اسمٌ و فعلٌ و حرفٌ۔

۲ـخبر مشتق وی احترازی مثال الکلمةُ لفظٌ۔

۳-خبر حامل د ضمیر د مبتدا وی -احترازی مثال زینبُ وماهٗ و جور ممتنِعٌ صرفها-دلته ممتنعات یا ممتنعة ندے ځکه چی په ممتنع کښی ضمیر مبتدا راجع ندے بلکه فاعل ئی اسم ظاهر (صرفها)دے-

۴-خبر اسم تفضیل بمِنْ نه وی احترازی مثال الصلوٰةُ خیرٌ من النومِ-

۵-خبر دداسی لفظونو نه وی چی په هغے کښی مذکر او مؤنث مشترک وی - احترازی مثال المَرئَةُ جریحٌ صبورٌ-

۶ -خبر دداسی الفاظو نه نه وی کوم چی د مؤنث سره مختص وی -احترازی مثال لکه: انتِ طالقٌ ،حائضٌ-

۷ -خبر دداسی الفاظو نه نه وی چی اضافت الی المعرفه باوجود معرفه نشی - لکه: مثل/غیر/قبل/بعد/شبه-داسی اسماء ته متوغل فی الابهام وائی-

ضــــــ6: څلور مقاماتو کښی مبتدا مقدم کول واجب دی -

۱-چی کله مبتدا داسی الفاظ وی چی صدارت د کلام غواړی-

لکه استفهام وی :مَن ابوکَ

اسم شرط وی :مَن یشْهد الاثامَ یدهش-

ما تعجبیه وی :ما احسن زیدًا-

کم خبری وی لکه:کَم مالٍ انفقتُهٗ-

یا ضمیر شان وی لکه: هِی الدنیا تعطیٰ و تمنعُ-

یا لام ابتدا سره پیوست وی لکه: لَاَنتُم اشدُّ رهبةً

یا اسم موصول وی او خبر باندی ئی فاء داخله وی لکه: الذی یجیبُ فلهٗ مکافاةٌ-

۲-چی کله مبتدا او خبر دواړه معرفه وی لکه :زیدُ ِالْمنطلقُ،یا دواړه نکرے وی او تخصیص کښي برابر وی لکه: اکثر منکَ سنًا اکثر منک تجربةً-

۳-کله چی مبتدا خبر باندی محصوره وی -لکه: انماالحدیدُصُلبٌ،ما انتَ الّا شاعرٌ-

۴-چی کله د مبتدا خبر جمله فعلیه وی -چی فاعل ئی ضمیر مستتر وی چه

ضــــــ7:ځلورځایونو کښې خبر مقدم کول واجب دی ۔

۱۔چې کله خبر داسې لفظ وی چې صدارت د کلام غواړی۔لکه:اینَ زیدٌ متَی الامتحانُ کیف حالُک۔

۲۔چې کله خبر مبتدا پورې محصور وی ۔لکه انما السابقُ محمدٌﷺ ، ما الخطیب الّا علیٌّ (رضی الله عنهٗ)

۳۔چې کله خبر مبتدا د پاره مصحِّح وی یعنی که خبر مقدم نشی نو د نکره مبتدا کیدل لازم رازی۔ لکه: فی الدار رجلٌ عندی سیارةٌ۔

۴۔چه کله د خبر د متعلق د پاره په مبتدا کښې ضمیر وی ۔لکه:علی التمرةِ مثلها زبدًا علی الحسانِ سرجُهٗ مِن حسن اسلام المرء ترکُهٗ ما لایعنیهٖ۔

ضــــــ8:

څه مقاماتو کښې مبتدا حذف کولے شی ۔

۱۔د قالَ په مقوله کښې لکه:قَالَ اساطیرُ الاولینَ یعنی هِیَ اساطیرُ الاولینَ۔

۲۔دصفت صیغه ابتدائی کلام کښې راشی او د هغې نه اول هیڅ کلمه اسم ذات نه وی ۔ لکه: بدیع السمٰوٰتِ ،اَیْ هُوَ بدیعُ السمٰوٰتِ۔صُمٌّ بُکمٌ عمیٌ یعنی هم صم بکم عمیٌ۔

۳۔د استفهام په جواب کښې ۔لکه: وَما ادراکَ ماالحطمة نارُ اللّٰهِ الموقدةُ الآیه۔ یعنی هِیَ نار اللّٰهِ الآیة۔

۴۔دداسې مصدر نه مخکښې چې د فعل په ځائے قائم وی ۔لکه:صبرٌ جَمیلٌ یعنی شانی صبرٌ جمیلٌ۔

۵۔هغه خبر چې لفظًا په قسم دلالت کوی ۔لکه فِی ذمتی لاَفعلَنَّ کذا۔یعنی فی ذمتی عهدٌ۔

۶۔مخصوص بالمدح،او مخصوص بالذم جدا جمله جوړول وی نو ددی نه مخکښې هم مبتدا محذوف وی ۔لکه نِعم الرجلُ زیدٌ ایْ نعم الرجلُ هو زیدٌ۔

۷۔صفت منقطع نه بعد هم مبتدا محذوف وی ۔(صفت منقطع دیته وائی چې مقام د نصب،جر وی او دے ئی مرفوع اولولی۔

لکه:الحمدُ للّٰهِ رَبِّ العٰلمینَ   چی رَبُّ العٰلمینَ ووئیلے شی نو مطلب به داشی چی هو ربُّ العٰلمینَ۔

۸۔د اجمال تفصیل کښی هم مبتدا محذوف وی ۔لکه: هِیَ ثلٰثةُ اقسامٍ اسمٌ و فعلٌ وحرفٌ۔اَیْ احدُها اسمٌ و ثانیها فعلٌ و ثٰلثها حرفٌ۔

۹ ۔فا جزائیه نه بعد لکه :مَنْ عملَ صالحًا فلنفسهٖ ایْ فثوابهٗ لنفسهٖ /واِنْ تخالطوهم فَاِخْوانُکُم ایْ فَهُم اخوانُکم۔

۱۰۔ابتدا د سورتونو کښی لکه:سورةٌ انزلْناها ایْ هٰذهٖ سورةٌ الایة۔

ضـــــ9 څه مقامات کښی خبر حذف کول واجب دی ۔

۱۔لولا او لوما نه بعد ۔لکه: لولا المطر لهلکَ الذرعُ ای لولا المطر نازلٌ الخ۔

۲۔چی کله مبتدا صریح فی القسم وی ۔لعمرکَ لَافعلَنَّ کذا۔

۳۔چی مبتدا مصدر وی او خپل معمول طرفته مضاف وی او دهغۀ نه بعد حال وی ۔لکه:ضرْبی زیدًا قائمًا۔ای ضربی زیدًا حاصلٌ اذا کان قائمًا۔

۴۔چی مبتدا د اسم تفضیل صیغه وی او مضاف وی مصدر ته او دهغی نه بعد حال وی ۔لکه: اکثرُ حبّی زَهرًا ناضرًا. ایْ اکثر حبی زهرًا حاصلٌ اذا کان ناضرًا۔

۵۔چی کله د مبتدا خبر د مقارنت په معنیٰ باندی مشتمل وو او د واو معنیٰ مع په ذریعه سره په مبتدا باندی د یو اسم عطف شوے وی ۔لک: کُلُّ رجلٍ مع

ضیعتهٖ ای کل رجلٍ مقرونٌ مع ضیعتهٖ۔

ضـــــ10:کله چی مبتدا متضمن معنیٰ د شرط لره وی، مبتدا قائم مقام وی د شرط او خبر قائم مقام وی د جزاء۔پس صحیح به وی دخول د فاء په خبر د مبتداء کښی۔

لکه:الذی یاتینی فله درهمٌ، ما اَصَابکُم من مصیبةٍ فبما کسبتْ ایدیکُم۔

ــےیا مبتدا اسم موصول وی او صله ئی جمله ظرفیه وی لکه: الذی یاتینی فله درهمٌ   ،مابِکم من نعمةٍ فَمِنَ اللّٰهِ۔

ــےیا مبتدا صفت اسم موصول وی او صله ئی جمله فعلیه وی ۔لکه: قُل انَّ الموتَ الذی تفرونَ منهُ فانه ملٰقیکم، و القواعدُ من النساء الّٰتی لا یرجونَ نکاحًا. فلیسَ علیهِنَّ جناحٌ

ـــےیا د مبتدا صفت اسم موصول وی چی صله ئی جمله ظرفیه وی ۔لکه:
الربیبُ الذی تحتَ رعایتِکَ فلا یخیبُ،

ـــےمبتدا داسی نکره موصوفه وی چی صفت ئی جمله فعلیه وی ۔لکه: کلُّ رجلٍ یاتینی فله درهمٌ ،کُل رجلٍ یتقی اللّٰهَ فهو سعیدٌ۔

ـــےد مبتدا صفت نکره موصوفه وی او صفت ئی جمله ظرفیه وی ۔لکه: کل رجلٍ فی الدار فله درهمٌ۔

ـــےمبتدا داسی نکره موصوفه طرفته مضاف وی چی صفت ئی جمله۔ فعلیه وی ۔غلامُ کلِ رجلٍ یاتینی فله درهمٌ۔

ضـــــ11: مبتدا ہمیشه مرفوع وی البته یو څو مقاماتو کښی لفظًا مجرور وی او معنیً مرفوع وی ۔

ـــےچی کله مبتداباندی "من"زائده داخل وی۔هل مِن خالقٍ غیراللّٰهِ۔

ـــےباء زائده داخل وی۔لکه:بحسبِکَ درهمٌ۔

ـــےرُبَّ داخل وی لکه: رُب رجلٍ کریمٍ لقیتُهٗ۔

ـــےواو بمعنیٰ رُب داخل وی۔لکه:وَعالمٍ یعمَلُ بعلمهٖ۔

ضـــــ12:کله د خبر د رعایت په وجه مبتدا مذکر وی ۔لکه:فَلما رای الشمسَ بازعةً قالَ هذا ربی هٰذا اکبرُ۔ هٰذه ربی پکار وو ځکه چی مشارٌ الیه۔ الشمس دے او مؤنث دے خو خبر مذکر دے نو رعایت د خبر شوے دے ۔

ضـــــ13: کله کله مفعول مطلق ،یا مفعول بهٖ،یا حال د خبر په ځائے واقع شی نو د خبر ضرورت نه وی ۔

مفعول مطلق مثال: زیدٌ سیرًا ای یسیرُ سیرًا

د مفعول بهٖ مثال:انما۔ العامری عمامتَهٗ ای متعمدٌ عمامتَهٗ۔.

د حال مثال :زیدٌ قائمًا ای یثبتُ قائمًا۔.

ضـــــ14:مَنْ اسم شرط مبتدا واقع شی نو د هغې درے ترکیبه کیدے شی ۔ لکه:و مَن یبتغِ غیرَ الاسلامِ دینًا فلن یقبلَ منهُ ۔

ا۔مَن اسم شرط مبتدا او یبتغِ ورله خبر۔

ب۔مَن موصوله او ما بعد جمله صله موصول صله مبتدا او فلن یقبلَ منهٗ خبر قائم مقام د جزاء۔

ج۔مَن اسم شرط مبتدا او شرط و جزاء ملکر خبر ۔

ضـــــــ15:ضمیر چی کله د مرجع او د خبر درمیان راشی نو رعایت د خبر اولیٰ دے ۔

ضوابــــــــط د معرب او مبنی

ضـــــــ1:اصل په اسماءو کښی اعراب دے او فعل او حرف کښی مبنی کیدل دی ۔ددی د پاره دا ضابطه ده۔

(کُل اسمٍ رایتهٗ معربًا فهو علیٰ اصلهٖ ،وکل اسم رایتَهٗ مبنیًا فهو علیٰ خلاف اصلهٖ، و کل فعلٍ رایته مبنیًا فهو علیٰ اصلهٖ و کل فعل رایتهٗ معربًا فهو علیٰ خلاف اصلهٖ و جمیع الحروف مبنیٌّ قائمٌ علیٰ اصلهٖ)۔

ضـــــــ2:کوم اسم چی په ترکیب کښی معرب وی نو هغه په ترکیب کښی د واقع کیدو نه مخکښی هم معرب وی خو د ابن حاجبؒ (صاحب کافیه) په نزد هغه مبنی دے۔او معرب به هله وی چی په ترکیب کښی واقع شی ۔

ضـــــــــوابط د مضمراتو

ضـــــ1: ضمائر پنځه قسمه دی ۔

۱۔ضمیر مرفوع متصل ہمیشه فاعل وی ،یا نائب فاعل وی ۔لکه: ضَرَبْتُ / ضُرِبْتَ۔

۲۔ضمیر مرفوع منفصل کله مبتدا وی لکه: انا قائمٌ،کله خبر وی لکه :ما هِیَ الّا انتِ،کله فاعل وی لکه :ما قامَ الّا انا، کله تاکید وی لکه: قُمتَ انتَ۔

۳۔ضمیر منصوب متصل که چری فعل یا اسم فعل سره ملاؤ وی نو مفعول بهٖ به وی ،او که حرف مشبه بالفعل سره ملاو وی نو د هغے اسم به وی۔
لکه:ضربتُکَ ،ضاربُهٗ،اِنَّکَ ،بَلهَهٗ۔

۴۔ضمیر منصوب منفصل ہمیشه مفعول بهٖ وی د فعل نه مخکښی وی او که د فعل نه روستو وی ۔لکه: ایَّاکَ نعبدُ۔او نعبدُکَ۔

۵۔ضمیر مجرور متصل که د حرف جار سره متصل وی نو مجرور بحرف

ضــــــــ2: كومو صيغو كښې چې ضمير مرفوع متصل مستتر جائز. الاستتار وی ،ددغه صيغو فاعل كه چرې اسم ظاهر وی نو دا صيغې به د ضمير نه خالی وی ـلكه: قامَ زيدٌ قامتْ هندٌ، يقومُ زيدٌ تقومُ هندٌ۔ دلته قام او يقومُ د هُوَ نه خالی دی او قامتْ او تقومُ د هِیَ نه خالی دی،ځكه چې فاعل ئې اسم ظاهر زيد او هند راغلے دے۔

ضــــــــ3: "هُ"ضمير منصوب متصل يا ،مجرور متصل ـددی د حركت ضابطه داده چې مخكښې ترينه. كسره وه يا ياء ساكنه وی نو مكسور به وی ـ لكه: بِهٖ فيهٖ عليهٖ اليهٖ۔ خو د ما اَنْسا نيهُ ،او عليهُ الله كښې مضموم دے اواَرجهْ ،او اَلْقِهْ كښې ساكن دے خو دا قليل دی ـ

او كه مخكښې ترينه كسره نه وی او ياء ساكنه هم نه وی نو بيا به مضموم وی ـلكه: مِنْهُ اخاهُ رايتُموهُ لَهُ رسولُهُ۔

خو په يَتَّقْهِ كښې مكسور دے خو دا قليل دے ـ

او اشباع او عدم اشباع كښې ضابطه داده چې كه ماقبل او ما بعد متحرك وی نو اشباع به وی لكه: مِنْ رَّبِهٖ وَالمؤمنونَ۔يا. لكه و رسولهٗ احقُّ ـاو كه ماقبل يا ما بعد ساكن وی نو اشباع به نه وی مِنْهُ به وی مِنْهٗ به نه وی ـلكه:و يُعَلِّمْهُ الكِتٰبَ۔

م ګر فيهٖ مُهانا كښې اشباع ده خو دا قليل دی ـ

ضــــــــ4: د غائب دضمير دپاره مرجع پكار وی او د مرجع مقدم كول ضروری دی چې اضمار قبل الذكر لازم نشی ځكه چې دا نا جائز دے ـ

خو بعض مواقع داسی دی هلته مرجع لفظًا او رتبةً مؤخر وی ـ

ـــےضمير شان مرجع روستو وی لكه: هِیَ الدنيا تُعطی و تمنع۔

ـــےافعال مدح و ذم لكه:نعمَ رجلًا زيدٌ دلته په نعم كښې ضمير دے ا و مرجع ئې رجلًا دے ـ

ـــےكوم ضمير چې د رُبَّ سره مجرور وی لكه: رُبَّهٗ رجلًا۔

ـــےتنازع فعلين كښې چې كله عمل دوئم فعل لره وركړے شی او ړومبے فعل د فاعل تقاضا كوی ـلكه: ضرَبَنِی و اكرَمَنی زيدٌ۔

ےهغه ضمیر چی اسم ظاهر ترینه بدل یا تفسیر راغلے و ی۔لکه: ضربتُهُ زیدًا / و اسرّوا النجوی الذینَ ظلموا ۔

ےضمیر مفعول واقع وی او فاعل سره ملاو وی لکه: جزیٰ ربُهُ عَنّی عدیَ ابنَ حاتَمٍ۔

ضـــــ-5: که چرے مبتدا او خبر دواړه معرفه وی او د التباس خطره وی د موصوف صفت ،یا خبر اسم تفضیل مستعمل بمِنْ وی نو مبتدا او خبر درمیان کښی ضمیر مرفوع منفصل چی د مبتدا مطابق وی راوړ‌لے شی ،دیته ضمیر فاصل یا ضمیر فصل وائی۔

لکه: العالمُ هو العاملُ بعلمهٖ یا زیدٌ هو افضلُ من عمرٍو

کان زیدٌ هو العالمُ اِنَّ زیدًا هو العالمُ

ےددی ضمیر په ترکیب کښی دوه قوله دی :

ا۔دا په حقیقت کښی حرف دے نو لا محلَ لهٗ من الاعراب. به وی یعنی ترکیب کښی به هیڅ نه جوړیږی۔

ب۔دا حقیقت کښی ضمیر دے نو ترکیب کښی به مبتدا واقع کیږی او خپل خبر سره به ملاؤ شی جمله اسمیه خبریه. به شی محلاً مرفوع به وی خبر د پاره د ما قبل مبتدا۔

کله کله د التباس. په صورت کښی هم ضمیر فصل راوړ‌لے شی مثلًا چی کله مبتدا ضمیر وی لکه: اِنِّی انا الغفورُ الرحیمُ۔

ضـــــ6: حروف جاره کښی په ضمیر باندی صرف ،ب/ل/من/فی/علی/الی/عن/رُبّ/عدا داخلیږی ۔لکه: بهٖ ،لَکَ ، مِنکُم ،فیکُنّ ، علیهِم ، عنهُم ، الیهِنَّ ،رُبَّهُ ،عداهُ ،فیما عداهُ۔

ضـــــ7:چی کله د ضمیر اتصال ممکن وو نو منفصل وئیل جائز ندی ۔لکه: قُمْتُ اکرَمْتُهُ په ځائے قام انا اکرمتُ ایّاهُ وئیل درست ندی۔سوا د ضرورت شعری نه۔

<u>**فائده:**</u> د ضمیر او اسم ظاهر تقدیم او تاخیر په اعتبار څلور صورتونه دی ۔

۱۔ضربَ زیدٌ غلامَهُ ،اسم ظاهر لفظًا او رتبةً دواړه مقدم دے ۔

۲۔ضربَ زیدًا غلامُهُ/و اذابتلیٰ ابراهیمَ ربُهُ ،اسم ظاهر لفظًا مقدم دے او رتبةً نه۔

۳۔ضربَ غلامَهُ زیدٌ ،اسم ظاهر رتبةً مقدم دے نه چی لفظًا۔

۴۔ضربَ غلامُهُ زیدًا، اسم ظاهر نه لفظًا مقدم دے او نه رتبةً بلکه دواړو کښی مؤخر دے هم لفظًا او هم رتبةً دا څلورم صورت ناجائز دے اول درے صورتونه جائز دی ۔

ضـــــوابط د پاره د اسم اشاره

ضـــــــ1:د اسم اشارے ترکیب۔

ےکه چرے د اسم اشاره ما بعد نکره، یا علم،یا معرفه باضافت وی نو اسم اشاره به مبتدا وی او مابعد به خبر وی ۔لکه :هٰذا قلمٌ ،هٰذه کراسةٌ ،هٰذا زیدٌ ،هٰذا قلمُ سعیدٍ۔

ےاو که چرے اسم اشاره ما بعد اسم موصول یامعرف باللام وی نو څلور ترکیبه جائز دی ۔

۱۔موصوف صفت :عمومًا دغه تر کیب کولے شی ۔

۲۔اسم اشاره مبیّن او ما بعد عطف بیان۔

۳۔اسم اشاره مبدل منهُ او ما بعد بدل۔

۴۔مبتدا خبر دا قلیل الاستعمال دے ۔

د اسم موصول مثال لکه:ارَاَیْتَکَ هٰذالذی کرّمتَ علیَّ۔پدی مثال کښي الذی اسم موصول خپلے صلے سره د هٰذا صفت هم جو ړیدے شی او عطف بیان هم او بدل هم ۔

د مبتدا خبر بیان لکه: اولٰئکَ الذینَ اشتَرَوا الضلالةَ پدی مثال کښی الذین د خپلے صلے سره خبر دے د اولٰئکَ۔

د معرف باللام مثال لکه:رایتُ هٰذا الرجلَ په دی مثال کښی الرجل د هٰذا صفت هم کیدے شی او بدل هم او عطف بیان هم۔

د مبتدا مثآل لکه: تِلک الجنةُ التِّی په دی مثال کښی الجنة د خپل صفت سره خبر دے د تلکَ

ضـــــ2:اسمائے اشارات مبنی دی سوا د ذانِ ،ذینِ ،تانِ ،تینِ نه خو پدی کښی اختلاف دے بعض په نزد معرب دی :ځکه چی ددی آخر په حالت رفعی نصبی جری کښی مختلف وی ۔

لیکن د جمهورو په نزد دا هم مبنی دی ،او دا اختلاف وضعی دے یعنی اختلاف د آخر د عامل د وجے نه ندے بلکه د وضعی د وجے نه دے ۔

ضـــــ3:کله کله هاء تنبیه او اسم اشاره او مشارٌ الیه درمیان ضمیر راوړلے شی ۔لکه: ها انا ذا،   ها انتَ ذی،   ها انتما ذانِ،   ها انتُم اولاءِ۔

لکه: قرآن پاک کښی دی "ها انتُم اولاء تُحبونهُم ولا یُحبونکُم۔

ضـــــ4:کله کله د اسم اشاره په آخر کښی حروف خطاب هم لګولے شی ،تاکه د مخاطب واحد تثنیه جمع باندی دلالت کوی ۔

حروف خطاب شپږ دی :کَ کُما کُم کِ کُما کُنَّ۔(ظاهری صورت ددی د اسمائے ضمائرو دے لیکن دا اسماء ندی بلکه حروف دی)

کَ کُما کُم کِ کُما کُنَّ د اختلاف تعلق د مشارٌ الیه سره ندے بلکه مخاطب سره دے ۔

لکه قرآن کښی دی :فذالکُنَّ الذی لُمتُننی فیه۔دلته د کُنَّ تعلق د الذی مشارٌ الیه سره نشته۔

ځکه الذی مذکر دے مشارٌ الیه دے او ذا اسم اشاره ده د مذکر دپاره او کُنَّ تعلق د مخاطباتو د زلیخے سره دے۔

یا لکه :قرآن کښی دی "ذالکما مما علمنی ربی۔

دلته ذا مشارٌ الیه تعبیر د خوب دے مذکر دے ۔او د کُما تعلق د یوسفؑ مخاطب دوه جیلیانو دی ۔

او یا قرآن کښی دی "ذالکُم اللّٰهُ ربُکُم" د ذا مشارٌ الیه مذکوره صفات دی کوم چی قرآن کښی دی او کُمْ مخاطب جمع نه مراد جمیع انسانان دی ۔

ضـــــ5 : کله کله مشارٌ الیه محذوف وی ۔ هٰؤلاء اصحابی   ای هٰؤلاء الرجال اصحابی۔

ضـــــ6:د اسم اشاره منادیٰ جو ړولو شرط دادے چی کَ حرف خطابی

ضوابط برائے اسمائے موصوله

ضــــــ1:اسمائے موصوله دوه قسمه دی اسمائے موصوله خاصه او آسمائے موصوله مشترکه۔

اسمائے موصوله مشترکه لکه: مَن ما ذو اَیٌّ او الف لام ۔یعنی واحد تثنیه جمع مذکر او مؤنث کښې مشترک دی ۔

اسمائے موصوله خاصه لکه:الذی الذانِ وغیره دا اسمائے موصوله خاصه دی ۔

مَنْ ما ،ذو وغیره اسمائے موصوله مشترک غیر مخصوص بالموصول دی ،یعنی موصول نه علاوه نورو معانیو د پاره هم رازی۔

ضــــــ2:اسم موصول هغه اسم دے چې بغیر د صلے نه جزء د جملے نه جوړیږی او صله هغه جمله وی چې د اسم موصول نه بعد وی ،او په هغے کښې یو ضمیر وی چې اسم موصول طرفته راجع وی ۔

ضــــــ3:صله کله جمله صریحه وی لکه "جاء الذی ضرَبَکَ" پدی مثال کښې پوره جمله ضربَکَ صله ده ۔او ضرَبَ کښې هو عائد دے اسم موصول طرفته راجع دے۔

او کله جمله مؤله وی لکه: الضاربُ یعنی د الذی ضربَ په تاویل سره ۔

او کله جمله تقدیری وی لکه: الذی فِی الدار ایْ الذی ثبَتَ فِی الدار تقدیری دے۔

ضــــــ4:داسم موصول په صله کښې عائد په یو څو مقاماتو کښې حذف کول جائز دی ۔

۱ ـــ چې کله ضمیر منصوب متصل عائد وی لکه: لاتقلْ ما لاتعلَمْ ایْ لا تقلْ ما لا تَعلَمْهُ۔

ـــ یالکه: واِنْ قَلَّ ما تعلم ای تعلمُهُ /یا لکه: ذَرْنی و مَن خلقتُ وحیدًا او خلقتُهُ وحیدًا۔

۲ ـــ چې کله ضمیر مجرور بحرف الجر عائد وی ۔لکه: اِقترِبْ مما یقتربُ العُقلاءُ وابْتعِدْ عما یبتعدونَ ای اِقترِبْ مما یقتربُ العُقلاءُ منهُ وابْتعِدْ عما یبتعدونَ عنهُ۔

۳ـــچی کله ضمیر مضافٌ الیه وی او مضاف اسم فاعل وی لکه: اِقضِ ما انتَ قاضٍ ای اقض ما انتَ قاضیهِ۔

۴ـــد اَیٌّ صدر صله وی لکه: اِقرَأْ ایًّا نافعٌ او ایًا هو نافعٌ۔

ضـــــ5: صله د موصول نه مؤخر کیدل او د هغې سره متصل کیدل ضروری دی ،نو د صلې نه د صلې د جزء په موصول باندی تقدیم جائز ند ے۔

لکه: الیومَ الذینَ اجتهدوا یُکرمونَ غدًا صحیح ند ے۔

او الذینَ اجتهدوا الیومَ یکرَمون غدًا جائز دی۔

ضوابط د اسماۓ افعال

د اسم فعل د وضع کولو یو څو مقاصد دی

۱ـاختصار :لکه رویدَ ،مذکر مؤنث جمع واحد ټولو ته

۲ـدوام او استمرار لکه نزالِ

۳ـاستعجاب: هیهاتَ هیهاتَ لما توعدونَ، شتّا ن کښی د افتراق شدت د ے

سرّعانَ کښی تعجب د ے په سرعت باندی چی په بعُدَ ، افترقَ ،او سَرَعَ کښی دغه معانی نشته۔

د اسماۓ افعال د ترکیب دوه طریقے دی ۔

۱ـ دغه اسم فعل سره د فعل او فاعل نه جمله فعلیه وی۔

۲ـاسم فعل چی د کوم فعل په معنیٰ وی د هغې مناسب ترکیب وشی ،لکه د شتان نه په بعُدَ سره چه بَعُدَ سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه شوه۔

بَلّهَ۔ـددی د استعمال خلور طریقے دی

۱ـاسم فعل بمعنیٰ دَعْ ما بعد له نصب ورکوی۔

۲ـمصدر مضاف مفعول طرفته لکه بَلّهَ زیدٍ یعنی مفعول مطلق د فعل محذوف۔ اُتْرُکْ زیدا بلهًا فعل حذف شو او مفعول مطلق مفعول به ته مضاف شو۔

۔بلهَ بمعنیٰ کیف ما بعد به مرفوع وی مبتدا مؤخر به وی او بلهَ به خبر مقدم۴ وی بَلْهَ الاَکُفُّ ای کَیف الاَکُفُّ۔

اسم فعل مضاف نه شی کیدے او اسم فعل منون نکره او غیر منون معرفه وی لکه صَهٍ او صَه۔

ضوابط د پاره د تعریف تنکیر

ضــــــ1:اسماؤ کښې اصل تنکیر دے فرع ئې معرفه ده ۔

ضــــــ2:علم په تثنیه او جمع سره نکره ګرزی لکه :زیدانِ زیدونَ۔ددی وجے نه د تعریف دپاره به پری الف لام راوړی لکه الزیدانِ الزیدونَ۔

ضــــــ3:چی کله عَلَمْ او لقب جمع شی نو تاخیر د لقب واجب دے

۔لکه:الفاروق عمرُ وئیل صحیح ندی ۔هں که چری لقب مشهور وی بیا تقدیم د لقب په علم باندی جائز دے لکه: اِنما المسیح عیسی ابن مریَمَ۔ ابو حفصٍ عمرُ عمرُ ابو حفصٍ۔

ضــــــ4: دعَلَمْ جمع سالم او جمع مکسر دواړه صحیح دی ۔لکه: زیدون ، ازیادٌ ،او زینَبُ زینبات زیانب۔

ضوابط د پاره د تذکیر تانیث

ضــــــ1: که چری د اسم فاعل صیغه د مؤنث سره خاص وه نو د فاعلٌ په وزن به وی لکه: حائض ،حاملٌ ،طالقٌ وغیره۔

ضــــــ2:تذکیر او تانیث صرف په اسماؤ کښې وی په فعل یا حرف

کښې مذکر مؤنث نه وی ۔

ضــــــ3:یو څو اوزان داسی دی چی په هغوی کښې مذکر او مؤنث برابر دی ۔

۱۔اسم تفضیل بمِنْ۔

۲۔حروف تهجی۔

۳۔وزن د "مِفعال،مِفعل، مِفعیل،فَعول،فَعیل،فِعْل،فَعْل بمعنیٰ مفعول لکه سلب بمعنیٰ مسلوب۔

۴۔مصدر چی وصفی معنیٰ ترینه مراد وی لکه: عدلٌ حقٌ۔

ضوابط دپاره د تثنيه

ضـــــ1: اثنانِ حکمًا تثنيه. ده او تثنيه نده ځکه چی مفرد د لفظ ورله نشته.

ضـــــ2: کله کله جمع د تثنيه په معنیٰ استعمال وی لکه: قلوبکُما،ايدِيهُما.

ضـــــ3: که د اسم مقصور نه تثنيه. جوړول وی نو کتلے به شی چی ثلاثی د ے که زائد د ے،که ثلاثی وو نو بيا الف ئی بدل د واو نه د ے که د ياء نه اول به تثنيه کښی الف په واو سره بدل شی عصًا عصوانِ،او ثانی به ياء سره بدل شی لکه فَتًی فتيانِ او که زائد علی الثلاثه وو نو الف به ئی په هر حال په ياء سره بدليږی لکه: حبلیٰ حُبليانِ ،مصطفیٰ مصطفيانِ ،مستشفیٰ مستشفيانِ.

ضـــــ4: که چرے د اسم ممدود نه تثنيه جوړول وی نو که همزه ئی اصلی وی نو په خپل حال ئی پريده لکه :قُرّاءٌ قرّآنِ،او که زائد وی د تانيث دپاره نو په واو ئی بدل که لکه: حسناءٌ حسناوانِ.

هں که د الف تانيث نه قبل واو وی نو همزه پاتی کول هم جائز. دی لکه: عشواءٌ عشواءانِ عشواوانِ.

که چری الف ممدوده د واو يا ياء نه بدل راغلے وو نو دواړه جائز. دی لکه: کِساءٌ کساءانِ /کساوانِ غطاءٌ غطاءانِ /غطاوانِ علياءٌ علياءانِ علياوانِ.

ضـــــ5: که چرے د داسی اسم نه تثنيه جوړول وی چی په آخر کښی ئی حرف حذف وی نو که دغه حرف اضافت سره واپس رازی نو تثنيه سره به هم واپس رازی لکه: ابٌ ابوکَ نو تثنيه ابوانِ شو ،يا لکه: قاضٍ داعٍ قاضيانِ شو داعيانِ شو.

قاضيکُم داعيکُم اضافت کښی ياء واپس راغليده .او يدٌ يدُکَ اضافت کښی محذوف حرف واپس ندے راغلے نو تثنيه. کښی هم واپس نه رازی يدٌ يدانِ.

ضوابط دپاره د جمع مذکر سالم

ضـــــ1: جمع مذکر سالم صرف د دوؤ څيزونو رازی علم او صفت .

علم دپاره درے شرطونه دی :

۱.مذکر لايعقل ۲.تاء نه خالی والے حمزة نه وی

۳.ترکيب نه خالی والے سيبويه او معديکرب نه وی .

او صفت دپاره پنځه شرطونه دی ۔

۱۔مذکر عاقل۔ ۲۔تاء نه خالی والے۔ ۳۔افعلُ وزن نه وی چی مؤنث ئی فعلاء وی لکه: احمر حمراء۴۔فعلان وزن نه وی چی مؤنث فعلیٰ وی لکه سکران سکریٰ۔ ۵۔داسی صفت نه وی چی مؤنث او مذکر کره برابر وی لکه صبورٌ جریحٌ۔ نو عالم نه عالمونَ او ،معلوم نه معلومونَ۔

ضـــــــ2: کچرے اسم ممدود نه جمع مذکر سالم جوړول وو نو د همزه هم هغه حکم دے کوم چی تثنیه کښی تیر شوے دے۔لکه د قرّاءٌ قراءونَ زکریاءٌ نه زکریاؤونَ غطاءٌ نه غطاءونَ او غطاوونَ۔

ضـــــــ3: کچرے اسم مقصور نه جمع مذکر سالم جوړول وی نو الف حذف کئ او ماقبل فتحه په خپل حال پریدئ ،لکه: مصطفیٰ نه مصطفَونَ مصطفَینَ ،رضًا نه رضَونَ /رضَین.

ضـــــــ4: که اسم منقوص نه جمع مذکر سالم جو ړول مقصود وی نو یاء حذف که او ماقبل واو ضمه او ما قبل یاء کسره که لکه: قاضٍ نه قاضُونَ او قاضِین۔

ضـــــــ5: د کوم اسم اعراب چی د جمع مذکر سالم وی او مفرد د هغے لفظ نه نه وی ،نو دا جمع مذکر سالم نده ملحق بجمع مذکر سالم وی لکه: اولو او عشرونَ۔

ضوابط دپاره د جمع مؤنث سالم

ضـــــــ1: جمع مؤنث سالم اته قسم اسمونو کښی رازی ۔

۱۔د ښځو نومونه مریَم مریَمات۔ ۲۔آخر کښی تاء وی لکه شجرة شجراتٌ ۳۔الف مقصوره برائے تانیث لکه حُبلیٰ حبلیات۔ ۴۔الف ممدوده لکه عذراء عذراوات۔ ۵۔غیر ذی عقل صفت وی لکه :شامخٌ نه شامخات،شاهقٌ نه شاهقات۔ ۶۔هغه مصدر چی زائد علی الثلاثه وی د خپل فعل د تاکید د پاره نه وی ،لکه:اکرامٌ نه اکراماتٌ انعامٌ نه انعاماتٌ،تعریفٌ نه تعریفاتٌ اِبن لاویٰ نه بناتٌ او ذوالقعدةِ نه ذواتُ القعدةِ ۔

ددینه علاوه اسماؤو جمع مؤنث سالمه نشی راتلے قیاسًا مګر سماعًا۔لکه. سمٰوٰت،ارضات،امهات،سجلات،اهلات،حمامات،اصطبلات،ثیبات، شمالات،دغه شان سماعًا رازی.

ضـــــ2: دوه خیرونه جمع مؤنث سره ملحق وی لکه:اولاتٌ صاحباتٌ۔

دویم چی په دی جمع د څه نوم وی لکه:عرفات. اذرعات۔

ضـــــ3: اسم ممدوده نه جمع مؤنث سالم جوړول وی نو د هغې د همزه هم هغه حکم دے کوم چی تثنیه کښی تیر شوے دے ۔

ضـــــ4: اسم مقصور نه جمع مؤنث سالم جوړول وی نو دالف هغه حکم دے کوم چی تثنیه کښی تیر شو۔

ضـــــ5: کچرے د یو اسم په آخر کښی تاء وی او د هغې نه قبل الف وی چی د واو یا یاء نه بدل راغلے وی ،نو جمع مؤنث کښی به ئی تاء حذف شی او واو او یاء به واپس شی لکه: صلوٰةٌ نه صلواتٌ زکوٰةٌ نه زکواتٌ فتاةٌ نه فتیاتٌ او نواةٌ نه نویاتٌ ۔

او که د یاء نه مخکښی بله یاء هم وی نو بیا به دویمه یاء په واو سره بدل شی لکه :حیوٰةٌ نه د حییاتٌ په ځائے حیواتٌ۔

ضـــــ6: که چری یو اسم ثلاثی وی او د هغې په فاء کلمه فتحه وی او عین کلمه ساکن صحیح وی نو جمع مؤنث سالم جوړولو وخت کښی به عین کلمے لره هم فتحه ورکوو۔لکه :ظبیَةٌ نه ظبَیَاتٌ،دوْدَةٌ نه دُوَدَاتٌ،سَجْدةٌ نه سَجَدَاتٌ۔

او که فاء کلمه مضموم یامکسوروی نو درےوجهےجائز دی۔

ا۔د فاء کلمے اتباع لکه:خُطوةٌ نه خُطُواتٌ،فِقرةٌ نه فِقِراتٌ

ب۔عین کلمے لره فتحه ورکول لکه:خُطَواتٌ، فِقَراتٌ۔

ج۔عین کلمه په خپل حال باقی ساتل لکه:خطواتٌ فقراتٌ۔

ضوابط د جمع تکسیر دپاره

ضـــــ1: ددی اوزان سماعی دی البته. د رباعی او خماسی جمع دفَعالِلُ په وزن رازی لکه: درهمٌ نه دراهِم جحمرشٌ نه جحامر سفرجلٌ نه سفارجُ۔

او که څلورم حرف ئی حرف علّت وو نو جمع به ئی د فعالیل په وزن رازی لکه: مصباح نه مصابیح عصفور نه عصافیر قندیل نه قنادیل۔

ضـــــ2: جمع تکسیر اشیاؤ له خپل اصل طرفته ؤړی لکه: دینار نه دنّار ځکه

ضوابط دپاره د جمع قلّت

د جمع قلّت شپږ اوزان دی ددی نه علاوه ټول اوزان د جمع به جمع کثرت وی

جمع قلت او جمع کثرت د یوبل په ځاۓ هم استعمالیږی ـ

او د کومو اسماؤ جمع چی صرف جمع قلت رازی یا صرف جمع کثرت رازی نو دا به په جمع قلت او کثرت کښی مشترک وی ـلکه:رِجلٌ جمع صرف ارجُل رازی او دا جمع قلت ده اورَجُلٌ جمع ئی رِجالٌ رازی او داصرف جمع کثرت ده ـ

د مصغر اسم جمع تکسیر د کثرت د پاره نه رازی۔

ضوابط د جمع منتہیٰ الجموع

ضـــــــ1: د جمع منتہیٰ الجموع ډیر اوزان دی خو مشهور اوزان ئی دادی:

نمبر	وزن	موزون
1	فعالل	دراهم
2	فعاليل	دنانير
3	افاعل	انامل
4	افاعيل	اساليب
5	تفاعل	تجارب
6	تفاعيل	تسابيح
7	مفاعل	مساجد
8	مفاعيل	مصابيح
9	يفاعل	يحامد
10	يفاعيل	ينابيع.
11	[illegible]	[illegible]

12	فواعیل	طواحین
13	فیاعل	صیارف
14	فیاعیل	صیادیح
15	فعائل	صحائف
16	فعالیٰ	عذاریٰ
17	فعالیٌّ	کراسیٌّ

ضــــ2:صیغه د جمع منتهیٰ الجموع لره د جمع مذکر سالم په وزن باندی راوړل ے شی لکه:افاضل نه افاضلون   صواحب نه صواحباتٌ۔

ضــــ3: کوم اسم چی د دوؤ نه په زائد باندی دلالت کوی او د هغې د ماده مفرد موجود نه وی نو هغې ته اسم جمع وائی جمع نه۔لکه: قومٌ رهطٌ شعبٌ قبیلةٌ   معشرٌ۔

ددی سره د مفرد معامله هم جائز.ده او د جمع هم۔

لکه: القومُ جاءَ   القومُ جاءوا۔

<u>فائده:</u>کله کله د جمع لفظ د مفرد د لفظ نه بدل وی دیته جمع من غیر لفظهٖ وائی ۔لکه: امرآۃٌ   نه نِسآءٌ۔

د بعض جموعو مفرد نسیًا منسیًا گرزولے شوی وی لکه: تعاجیب، تباشیر، ابابیل،، وغیره۔

د بعض اسماؤ واحد او جمع یو لفظ وی ۔لکه: فُلکٌ،جُنُبٌ،عُدُوٌّ۔

ضوابط د پاره د اسم مقصور

(اسم مقصور هغه اسم معرب دے چی په آخر کښی ئی الف وی)

ضــــ1:د اسم مقصور په آخر کښی الف چرته هم اصلی نه وی بلکه منقلب یا زائد وی ۔

که منقلب وی نو یا به د واو نه وی لکه :عصًا چی اصلًا عصوٌ وو،یا به د ی نه

او که مزید وی نو بیا به دغه الف د تانیث دپاره زیات شوے وی لکه حُبلیٰ،یا. به د الحاق دپاره وی لکه:اَرطیٰ او ذفریٰ اول ملحق بجعفر او ثانی ملحق بدرهم دے۔

ضـــــ2:که چرے د کلمے حروف خلور یا زائد وی نو الف مقصوره د "ی" په صورت لیکلے شی لکه:بُشریٰ ،مصطفیٰ ،مستشفیٰ۔

او که ثلاثی وی خو دریم حرف یاء وی هم به دغه شان وی لکه: الفتیٰ ، الهدیٰ ،الندیٰ۔

او که ثلاثی وی او دریم حرف اصلًا واو وی نو بیا به د الف په صورت لیکلے شی ۔لکه: العصا ،الربوٰ۔

ضـــــ3: که اسم مقصور باندی تنوین راشی نو الف لام ئی لفظًا حذف شی او کتابةً ثابت وی لکه : فتًی ،هدًی۔

ضـــــ4:د اسم مقصور دوه قسمونه دی :قیاسی او سماعی ۔

قیاسًا د لسو قسمونو اسماؤ نه رازی ۔

١۔فَعِلَ په وزن باندی د فعل لازم مصدر چی د فَعْلٌ په وزن وی ۔

لکه۔جَوِیَ جَوًی۔

یا د فِعْلٌ په وزن وی لکه:رَضِیَ رِضًی، غَنِیَ غِنًی۔

٢۔فِعْلٌ په وزن چی د فعلة جمع وی لکه مِرًی حِلًی د مِریةٌ او حلیةٌ جمع ده۔

٣۔فُعَلٌ په وزن باندی فُعْلةٌ جمع وی لکه: عُرًی مُرًی دُمًی چی د عروة مرية دُميةٌ جمع ده۔

۴فَعَلٌ په وزن اسم جنس وی چی په جمعیت دلالت کوی لکه: حصًی قطًا۔

۵۔اسم مفعول وی لکه: المُعطٰی المُصطفٰی المستشفٰی۔

۶۔مَفَعل په وزن باندی مصدر میمی یا ظرف زمان یا مکان وی لکه:المَحیٰی المَأتیٰ۔

٧۔مِفْعَل اسم اٰله وی لکه:المِکریٰ المِهدیٰ المِرمیٰ

٨۔اَفعَلُ په وزن اسم تفضیل وی لکه:ادنیٰ اقصیٰ۔

۱۰ ـفُعَلٌ په وزن د اسم تفضيل مؤنث جمع وی لکه:الدُّنا القُصا (دُنا جمع ددنيا او قصا جمع د قصویٰ۔

ددی نه علاوه اسم مقصور سماعی دی ـ

ضوابط د پاره د اسم ممدود

(اسم ممدود هغه اسم معرب دے چی په آخر کښی ئی همزه وی او مخکښی ترینه الف زائده وی لکه:صحرآء سمآء،او که دا الف زائده نه وو نو بیا اسم ممدود ندے لکه:ماءٌ داءٌ دی کښی الف زائده ندے بلکه بدل دے د واو نه اصل ئی دَوَءٌ او مَوَءٌ وو)

ضـــــ1: اسم ممدود په آخر کښی چی کوم همزه دے ددی څلور صورتونه دی

۱ـاصلی وی لکه قرّاءْ چی داده قرءَ نه دے۔

۲ـواو یا ی نه بدل وی لکه:سماء بناء چی اصلًا سماوٌ بنایٌ وو۔

۳ـتانیث دپاره زائد شوے وی لکه :حُسناء د حسنٌ نه دے۔

۴ـالحاق دپاره ئی زیادت شوے وی لکه:حرباء قرباء۔

ضـــــ2: د اسم ممدود دوه قسمه دی قیاسی او سماعی۔

قیاسی اووه اسمونو نه رازی ـ

۱ـفعل مزید مصدر چی په اول کښی ئی همزه وی لکه:ایتاء،اعطاء،الجلاء،استقصاء وغیره۔

۲ـد باب نصر مصدر چی په صوت باندی دلالت کوی لکه: رغا یرغو رغاءٌ د اوخ بړبړیدل ،ثغا یثغو ثغاءٌ د بیزے مے مے کول۔

۳ـد فِعال په وزن مصدر لکه :نداءٌ دلاءٌ مِراءٌ رماءٌ۔

۴ـکوم چی رباعی اسماء وی او د افعِلة په وزن ئی جمع رازی لکه:رداءٌ اردية ،کِساءٌ اکسية ،غطاءٌ اغطية۔

۵ـمصادرو نه چی کوم د تِفعال یا تَفعال په وزن وی لکه: عدا یعدو تَعداء مشیٰ یمشی تِمشاءٌ۔

۷ـ د افعلُ غیر تفضیل مؤنث لکه: احمرُ نه حمراءُ او اعرجُ نه عرجاءُ اعمیٰ نه عمیاءُ ـ او سماعی ددینه علاوه دی ـ

ضـــــ3: قصر د ممدود جائز دے لکه دعاءٌ نه دعا، صفراءُ نه صفرا وئیل ـ لیکن مد د مقصور قبیح دے لکه :غنیٰ نه غناءٌ وئیل عصًا نه عصاءٌ وئیل ـ

ضوابط د اسم منقوص

(اسم منقوص هغه اسم معرب دے چی په آخر کښی ئی یاء ما قبل مکسور وی لکه القاضی)

ضـــــ1: اسم منقوص چی کله الف لام او اضافت نه خالی وی نو حالت رفعی او جری کښی ددی یٰ لفظًا او خطًا حذف کولے شی لکه: حَکَم قاضٍ علیٰ جانٍ ـ

او حالت نصبی کښی ثابت وی جعلَ اللّٰهُ رسولَهٗ هادیًا الیَ الحقِ و داعیًا الیه ـ

او الف لام او اضافت سره تمام احوالو کښی ثابت وی لکه: حکمَ القاضِی علی الجانِی ،جاء قاضیُ القضاةِ ـ

ضوابط د اسم تفضیل

اسم تفضیل چی د کوم فعل نه رازی د دی دپاره اووه شرطونه دی

ثلاثی مجرد به وی	معروف به وی	مثبت به وی
تام به وی	متصرف به وی	لون او عیب نه خالی به وی
زیادتی لره قبلونکے به وی		

ضـــــ2: د ثلاثی مزید یا رباعی او کوم افعالو کښی چی مذکوره شرائط نه وی داسے فعل نه که اسم تفضیل جوړول غرض وی نو ددغ مصدر منصوب به راواخلے او اشد یا احسن په مثل الفاظو نه به ئی بعد ذکر کی لکه: هو اشدُّ اکرامًا ،هو اکثرُ سوادًا ،هو ابلغ غورًا ـ

ضـــــ3: کله کله د اسم تفضیل صیغه معنی د تفضیل نه خالی وی نو په داسی وخت کښی به د اسم فاعل یا صفت مشبه په معنیٰ وی لکه: ربُّکم اعلمُ بکُم ای عالمٌ بِکُم ، و هو الذی یبدأ الخلقَ ثُم یعیدُهُ و هواَهْوَنُ علیهِ ای و هو هینٌ علیهِ ـ

ضـــــ4: اسم تفضیل څه عمل کوی؟

اسم تفضیل فاعلِ ضمیر ،مفعول فیه ،حال او تمییز کښې بغیر د څه شرط نه عمل کوی لکه: زیدٌ احسنُ منک الیومَ راکبًا، انا اکثر منکَ مالًا ـ

په اول مثال کښې احسنُ کښې ضمیر فاعل دے الیومَ مفعول فیه دے او راکبًا حال دے ـاو دویم مثال کښې مالًا حال دے ـ

او فاعل اسم ظاهر کښې په درے شرطونو عمل کوی ـ

۱ـاسم تفضیل د نفی ،نهی یا استفهام انکاری نه بعد واقع وی ـ

۲ـاسم تفضیل باعتبار لفظ د یو شی صفت جوړیږی او باعتبار معنیٰ ددغه شی د متعلق صفت وی ـاو دغه متعلق په دغه شی او بل شی کښې مشترک وی ـ

۳ـهغه متعلق هم داسی وی چی د یو شی په اعتبار سره مفضل او د بل شی په اعتبار سره مفضل علیه وی ـ

لکه:ما رایتُ رجلًا احسنَ فی عینیه الکحلُ منهُ فی عینِ زیدٍ پدی مثال کښې غور وکئ۔

اـددی په شرو ع کښې حرف نفی ده ـ

بـاحسن باعتبار لفظ د رجلًا صفت جوړیږی او باعتبار معنیٰ د رجل د متعلق یعنی الکحل صفت دے ،او دا متعلق یعنی الکحل په رجل او زید په ستر ګو کښې مشترک دی ـ

جـکحل د عین رجل په اعتبار سره مفضل علیه او عین زید په اعتبار سره مفضّل دے۔

نو دے احسن اسم تفضیل په اسم ظاهر فاعل کښې عمل وکو رفع ئې ورکړه ـ ددینه علاوه باقی معمولاتو کښې اسم تفضیل عمل نه کوی۔

ضـــــ5:کچرے د مِن مدخول کلمه استفهام وی یا هغې طرفته مضاف وی نو مِن په اسم تفضیل باندی مقدم کول واجب دی ـلکه: انتَ مِمَّن افضلُ، انتَ مِن غلامِ مَن افضلُ۔

ضـــــ6:اسم تفضیل کله کله د اسم مفعول په معنیٰ سره وی لکه :اشهر بمعنیٰ مشهور۔

ضـــــ7:اسم تفضیل مذکر افعلُ وزن دے او مؤنث فُعلیٰ وزن دے۔

(استفهام د پاره عام طور دا اسماء استعمالیږی :مَن،مَن ذا،ماذا،ما ،متیٰ،ایّانَ.

کیفَ،اینَ، کَم،اَیٌّ،اَنّیٰ۔)

ضـــــ1:اسماۓ استفهام ترکیبی حیثیت معلومولو طریقه داده چی د کومے جملے په اول کښی حرف استفهام وؤ د هغے جواب راوړ لے شی بیا په جواب کښی راغلی جملے ترکیب وشی ۔۔۔نو لکه څنګه چی جواب کښی راغلی جمله کښی کومه کلمه چی د اسم استفهام په مقابله کښی وی د هغے چی کوم ترکیب کیدو نو هغه به د اسم استفهام ترکیب وی ۔

لکه:کیفَ حالکَ؟ ددے جواب دے حالی جَیّدٌ۔

دلته حالی مبتدا ده او جیدٌ ئی خبر دے نو حالی د حالک په مقابله شو او جیدٌ د کیف په مقابله شو نو کیفَ خبر مقدم او حالکَ مبتدا مؤخر ده۔

دغه شان مَن انتَ؟ ددی جواب دے انازیدٌ۔ دلته انا مبتدا ده او د انتَ په مقابله کښی دے او زیدٌ خبر دے د من مقابله کښی دے نو انتَ مبتدا مؤخر او من خبر مقدم۔

دغه شان کَم درهمًا عندکَ؟ ددی جواب دے عندی عشرونَ درهمًا دلته جواب کښی عندی خبر مقدم دے او عشرون درهمًا مبتدا مؤخر ده نو سوال کښی هم عندک مخبر شو او کم درهمًا مبتدا شوه۔

د فاعل ضوابط

ضـــــ1:په کوم فاعل چی مِن زائده یا باء زائده داخل وی دهغے په تابع کښی دوه وجهے جائز دی ،مجرور بنا بر لفظ او مرفوع بنا بر معنیٰ ،لکه هل مِنْ خالقٍ غیرُ اللهِ۔

او که تابع معرفه وی نو بیا به مرفوع وئیل پکار وی ۔لکه: ما جاءنا من عبدٍ ولا زیدٌ۔

ضـــــ2:چی کله د اداة شرط نه بعد یو اسم واقع وی نو دا به د فعل مقدر د پاره فاعل وی ۔لکه: اذا الشمسُ کُوِّرتْ اَیْ اذا کورتِ الشمسُ کورتْ ،وان احدٌ من المشرکینَ استجارکَ فَاَجرهُ ای و اِنِ استجارَکَ احدٌ من المشرکینَ۔

ضـــــ3:د لَو نه بعد کچرے اَنَّ راشی نو د لَو نه بعد به فعل محذوف وی او اَنَّ او مابعد به په تاویل د مصدر سره فاعل وی ۔لکه: لَو اَنّک اجتهدتَّ لکان

ضـــــ4: كله د قرينه په وجه د فاعل نه فعل حذف كول جائز دى ـ لكه: وَلَاِنْ سئلتَهم مَن خلقَ السماواتِ والارضَ لَيقولُنَّ اللّٰهُ   اى خلقهُنَّ اللّٰهُ۔

قرينه پرى سوال د سائل دے چى مذكور فى السؤال مذكور فى الجواب وى ـ

ضـــــ5: هر هغه فعل چى پكښي مفعول بهٖ د فاعل سره شريک وى نو هر يو مرفوع يا منصوب وئيل جائز دى ـ

لكه :خاصَمَ زيدٌ عمرًو   او خاصمَ زيدًا عمرٌو۔

ضـــــ6: كفىٰ بِهندٍ وئيل شى دا د كفتْ هندٌ پشان دے،په فعل كښى تانيث نشته ځكه چى په فاعل باندى باء زائده داخله ده ـ

ضوابط د نائب فاعل

ضـــ1: ځلور ځيزونه نائب فاعل جوړيدے شى ـ

۱ـ مفعول بهٖ لكه: ضُرِبَ زيدٌ۔

۲ـ مجرور بحرف الجر لكه: نُظرَ فى الامورِ۔

۳ـ ظرف لكه:مُشِىَ يومٌ كاملٌ۔

۴ـ مصدر لكه: اُحتُفِلَ احتفالٌ عظيمٌ۔

نُظر فى الامور كښي الامور مجرور لفظًا دے مرفوع معنًا دے۔

ضـــ2: چى كله دوه مجرور بحرف الجر نائب فاعل واقع شى نو په هغې كښى به يو نائب فاعل وى ،هر يو چى جوړئ جوړولے شے،خو چى كوم يو معنیً مفعول بهٖ وى هغه نائب فاعل جوړول غوره دى ـ

لكه :يُطافُ عليهِم بصحافٍ مِن ذهبٍ و اكوابٍ۔

دلته عليهم او اكواب دواړه صالح دى چى نائب فاعل شى ،خو بصحافٍ كښى معنیٰ د مفعول بهٖ ده نو دے نائب فاعل منل راجح دى ـ

ضـــ3: مجرور بحرف الجر فاعل جوړيږى چى كله فعل لازمى وى۔

ضـــ4: كوم افعال چى د مخكښى نه استعمال كښى راروان وى ـ لكه: جُنَّ، بُهِتَ،زُهِىَ،حُمَّ،زُكِمَ ـ ددى نه بعد مسند اليه به نائب فاعل نه وى بلكه فاعل به وى ،ځكه چى دا افعال صورةً مجهول دى او معنیً مجهول ندى۔

لکه:فَبُهِتَ الذی کفرَ ـبهت فعل او الذی کفر ئی فاعل دے ،جُنَّ علیه اللیل دلته جُن فعل او اللیل ئی فاعل دے ـ

نو ترجمہ د بُهِتَ به (حیران شو) کوی حیران کړے شو صحیح ندے۔

ضوابط د مفعول مطلق

ضـــ1: څه اشیاء د مصدر په ځائے قائم وی او مفعول مطلق په وجه منصوب وئیل شی ـ

ےاسم مصدر لکه:تکلّمتُ کلامًا   سلّمتُ سلامًا

ےد مصدر صفت لکه:اذکُروا اللهَ کثیرًا ای ذکرًا کثیرًا۔

ےهغه ضمیر چی مصدر طرفته راجع وی لکه: فاِنی اعذبُهُ عذابًا لا اعذبهُ احدًا ای لا اعذبُ العذابَ المذکورَ احدًا مِن العٰلمینَ۔

دلته لا اعذبُهُ کښی ہُ ضمیر مفعول مطلق دے ـ

ے هغه اسم چی د فعل په نوع دلالت کوی ـلکه: رجع القهقریٰ، جلس الاحتباءَ۔.

ےهغه اسم چی د فعل په عدد دلالت کوی لکه: انذرتُکَ ثلاثًا ، فاجلدوا کُلَّ واحدٍ منهما ماَةَ جلدةٍ۔

ےهغه اسم چی د فعل په آله دلالت کوی لکه:ضربتُ اللصَّ سوطًا ـخو کومه آله چی د فعل دپاره وی نو ضربتُهُ کتابًا صحیح ندے۔

ےما استفهامیه او ایُّ استفهامیه ـلکه: ما اکرمتَ خالدًا   ایَّ عیشٍ تعیشُ۔دلته ما مفعول مطلق دے معنیً ای ایَّ اکرامٍ اکرمتَ خالدًا۔

ےکلُّ ،بعضُ او ایُّ چی مصدر ته مضاف وی ـلکه: فلاتمیلوا کلَّ المیلِ،سعیتُ بعضَ السعیِ،سیعلم الذینَ ظلموا ایَّ منقلبٍ ینقلبونَ۔

ےاسم اشاره چی مشارٌ الیه مصدر وی لکه:قلتُ ذالکَ القولَ۔.

یا څوک تپوس وکی چی هل اجتهدتَّ اجتهادًا حسنًا؟ نو ته جواب ورکوی اجتهدتُ ذالکَ۔

ضـــ2:اسم مصدر مفعول مطلق تاکیدی وی عددی او نوعی نشی کیدے۔

ضـــ3:بعض مصادر د فعل په عوض کښی رازی او بعضی حذف کولے شی داسی مصادر اووه قسمه دی ـ

۱ـهغه مصدر چی د امر پځائے قائم وی ـلکه:صبرًاـ

۲ـهغه مصدر چی د نهی په مقام وی لکه:اجهادًالاکسلًا،سکوتًا لاکلامًاـ

۳ـهغه مصدر چی دعا واقع وی لکه:سقیًا،رعیًا،بُعدًا للظالمِـ

۴ـهغه مصدر چی استفهام توبیخی نه بعد وی لکه:اجرةً علی المعاصیـ

۵ـ مصادر مسموعه کثیر الاستعمال وی لکه:سمعًا،طاعةً،حمدًا لِلهِ،شکرًا للهِ،عجبًا لکَ،ایمانًا لاکفرًا،سبحانَ اللهِ،معاذاللهِ،لبیکَ وسعدیکَـ

۶ـ هغه مصدر چی ما قبل اجمال تفصیل وی لکه:فشُدوا الوثاق فاِما منًا بعدُ و اما فداءًـ

۷ هغه مصدرچی د ماقبل جملے د مضمون تاکید دپاره وو لکه: هو اخی حقًا،هغه ځما ښکه رور دےـ

ضوابط د مفعول بهٖ

ضـــ1:د مفعول بهٖ یو ځو صورتونه دی ـ

۱ـاسم ظاهر صریح وی :فتح اللهُ البابَ،اکرمَ زیدٌخالدًاـ

۲ ـضمیر متصل وی :وما ارسلنٰکَـ

۳ـضمیر منفصل وی :اِیّاک نعبدُ و اِیاک نستعینُـ

۴ـمصدر مؤل وی :اِنَّ اللهَ لایستحیِی انْ یضرِبَ مثلًاـ

۵ـجمله وی :قالَ اِنی عبداللهِـ

۶ـمجرور بحرف الجر وی :ولاتلقوا بایدیکُم الی التهلکةِـدلته بایدیکُم مجرور لفظًا دے او منصوب معنًی دےـ

ضـــ2:مفعول بهٖ کله کله په فاعل مقدم وی او کله کله په فعل هم مقدم وی لکه:ضربَ عمرًو زیدٌ،زیدًا ضربتُ دا جوازًا مقدم دے ـ

او کله کله وجوبًا مقدم وی لکه: مَن ضربتَ ،مافعلتَ،کَم رکوعًا قراتَ،مَن

یعنی ستفهام یا شرط وغیره کښی تقدیم د مفعول بهٖ واجب دے ۔

ضـــ3:چی کله د فعل دوه مفعول وی یو اسم ظاهر وی او دویم ضمیر وی نو ضمیر په اسم ظاهر باندی مقدم کول واجب دی لکه:اعطیتُکَ درهمًا، اعطیتُ درهمًا ایاکَ صحیح ندے ۔

ضوابط د مفعول فیهٖ

<u>فائده:</u> تمام ظروف په دوه قسمه دی ۔1۔متصرفه 2۔غیر متصرفه

1۔ظروف متصرفه هغے ته وائی چی د مفعول فیه نه علاوه مبتدا،فاعل،مفعول بهٖ وغیره هم واقع کیږی لکه:شهرٌ،سنةٌ،یومٌ،لیلٌ۔

لکه:سرتُ یوم الجمعةِ کښی مفعول فیه ده او ،الیومُ یوم الجمعةِ کښی مبتدا ده ،او عیّنتُ الیومَ للصومِ کښی مفعول بهٖ ده ۔

او ظروف غیر متصرفه صرف مفعول فیه واقع کیږی لکه: قبلُ،بعدُ،وغیره۔

ضـــ1:بعض ظروف مرکب رازی چی د هغے دواړه جزؤنه مبنی بر فتحه وی ۔ لکه:مساءَ مساءَ،صباحَ صباحَ،یومَ یومَ۔ای کلَّ مساءٍ،کلَ صباحٍ،کلَ یومٍ۔

ضوابط د مفعول له

ضـــ1:د مفعول له د منصوب کیدلو د پاره پنځه شرائط دی ۔

١۔مصدر وی احترازی مثال :وَالاَرضَ وضعها للانامِ۔

٢۔هغه مصدر به قلبی وی احترازی مثال :جئتُ للقراءةِ

٣۔د مصدر او فعل زمانه به یوه وی احترازی مثال:سافرتُ للعلمِ۔

٤۔د مصدر او فعل فاعل به یو وی احترازی مثال:جئْتُکَ لتعظیمِکَ العلمَ۔

٥۔هغه مصدر د فعل د حصول علت یا سبب وی احترازی مثال:علمتُ الجُبنَ معرةً۔

اتفاقی مثال :لا تقتُلوا اولادَکُم خشیةَ املاقٍ،،،قعدتُ عن الحربِ جُبنًا۔

ضـــــ2:چی کله مذکوره پنځه شرطونه نه وی نو مفعول له به مجرور وی داسی حرف جار سره چی د تعلیل فائده ورکوی ۔مثلًا لام،من،فی۔

ضــــــ3: مفعول له دواړه قسمه په فعل مقدم کول جائز دی ـلکه: رغبةً للعلم اتیتُ، للعلمِ سافرتُ۔

ضــــــ4: د مفعول له حذف هم جائز دے ـلکه:یُبینُ اللّٰهُ اَن تَضلوا ای کراهةَ ان تضلوا۔

ضوابط د مفعول معه

ضــــــ1: د مفعول معه د نصب درے شرطونه دی ـ

۱ـفُضله وی یعنی ددی نه بغیر جمله تام وی ـ

۲ـواو بمعنیٰ مع وی ـ

۳ـواو نه مخکښې جمله وی،یعنی که مخکښې جمله نه وی مفرد وی نو ما بعد به په ما قبل عطف وی ـلکه: کُلُّ امراءٍ و شانُهُ۔

اتفاقی مثال لکه: جاء البرد والجباتِ کفاکَ وزیدًا درهمٌ۔

مفعول معه په خپل مصاحب او فعل باندی مقدم کیدے نشی ـ

ضوابط برائے حال و ذوالحال

ضــــــ1:حال ہمیشه نکره وی که معرفه وه نو د نکرے تاویل به پکښې کولے شی ـلکه: اشهَدُ ان لا الٰهَ اِلّا اللّٰهُ وحدَه، دلته وحده حال دے معرفه ده منفردًا ته ئی تاویل شوے دے ،یا لکه: اُدخلوا الاولَ فالاولَ ای مترتبینَ، یا لکه:جاءوا الجماءَ الغفیرَ ای جمیعًا۔

ضــــ2: هغه فاعل یا مفعول بهٖ چی حالت ئی بیان شی هغه ته ذوالحال وائی۔ ذوالحال اکثر معرفه وی خو یو څو مقاماتو کښې نکره هم راتلےشی۔

۱ـچی کله حال په ذوالحال مقدم وی۔جاءنی راکبًا رجلًا۔

۲ـذوالحال نکره موصوفه وی :لَمّا جاءهم کتابٌ مِن عندِاللّٰهِ مصدقًا لِما معهم۔

۳ـنکره طرفته مضاف وی :جاءنی غُلامُ رجلٍ راکبًا۔

۴ـحرف نفی نه بعد واقع وی :ما جاءنی رجلٌ راکبًا۔

۵ـحرف استفهام نه بعد وی :هل اتاک رجلٌ راکِبًا۔

ضــــ3:حال کله جمله هم وی ، چی خبریه وی او سین سوفَ نه خالی وی او واو حالیه نه بعد وی ،که جمله انشائیه حال واقع شوه نو په هغې کښې به دا تاویل کولے شی ۔ "مقولًا فی حقهٖ "

ضــــ4:حال اسم مشتق وی ،که جامد حال واقع شو نو تاویل به کولے شی ۔ لکه:وضح الحقُّ شمسًا اى مضيئًا كالشمسِ۔

بِعتُک الفرسَ يدًا بيدٍ اى متقابضينَ۔

دخلَ القومُ رجلًا رجلًا اى مترتبينَ۔

او کله په کښې تاویل نشی کولے او اسم جامد پخپله حال وی ۔

ــےهغه چی موصوف وی :فتمثلَ لها بشرًا سويًا۔

ــےهغه چی په عدد دلالت کوی :فتَم ميقاتُ ربهٖ اربعينَ لَيْلَةً۔

ــےد خپل ذوالحال په نوع اوقسم دلالت کوی :هٰذا مالک ذهبًا۔

ــےد ذوالحال فرع وی :هٰذا ذهبُک خاتمًا،تنحتونَ الجِبالَ بيوتًا۔

ــےد ذوالحال اصل وی :هٰذا خاتمکَ ذهبًا ،هٰذا ثوبُک کاتنًا۔

ضــــ5:د حال عامل درے څیزه کیدے شی ۔

1۔فعل لکه:جاء زيدٌ رکبًا۔ طلعتِ الشمسُ واضحًا۔

2۔شبه فعل لکه:ما مسافرٌ زيدٌ راجلًا۔

3۔معنیٰ د فعل چی مراد تری نهه څیزونه وی ۔

۱۔اسم فعل لکه: مَهْ ساکنًا ،نزالِ مسرعًا۔

۲۔اسم اشاره لکه:هٰذا بعلی شيخًا۔

۳۔ادوات تشبیه لکه:کَاَنَّ عمروًا مقبلًا اسدٌ۔

۴۔ادوات تمنی،وترجی لکه:ليتَ السرورَ دائمًا عندنا۔

۵۔ادوات استفهام لکه:ما شانُکَ قائمًا ،کیفَ انتَ قائمًا۔

۶۔حروف تنبیه لکه:ها هو الهلالُ ظاهرًا۔

۸۔ظرف لکه: لدینا الحق عالیًا لوائهُ۔

۹۔حروف نداء لکه:یا ایها المسلمُ ذاکرًا لِلهِ۔

ضـــ6: حال د ذوالحال نه مقدم کول جائز دی خو په دریو صورتونو کښې د حال په ذوالحال مؤخر کول واجب دی ۔

۱۔چې کله حال محصور وی لکه:و ما نرسلُ المرسلِینَ الّا مبشرینَ و منذرینَ۔

۲۔چې کله حال جمله مقترن بالواو وی ۔سافر الرسولُ و قد طلعتِ الشمسُ۔

۳۔چې کله ذوالحال مجرور بالاضافة وی یا مجرور بحرف الجر وی ۔بل نتبع ملةَ ابراهیمَ حنیفًا۔مررتُ بهندٍ جالسةً۔

ضـــ7:د حال په خپل عامل باندی مقدم کول هم جائز دی ۔لکه:راکبًا جاءَ علیٌّ۔خشَّعًا ابصارهُم یخرُجونَ، او په دریو صورتونو کښې عامل باندی تقدیم واجب دے۔

۱۔چې کله حال صدارت د کلام غواړی لکه:کیفَ رجعَ سلیمٌ یعنی کیفَ حال دے د سلیم نه۔

۲۔ددی عامل اسم تفضیل وی :خالدٌ فقیرًا اکرم من خلیلٍ غنیًّا۔

۳ ۔معنی د تشبیه پکښې عامل وی :انا فقیرًا کخلیلٍ غنیًا۔

خو اداة تشبیه کچرے کَاَنَّ وی نو په هغې باندی دحال تقدیم جائز دے واجب ندے۔لکه: کَاَنَّ خالدًا مهرولًا سعیدًا بطیئًا۔

ضـــ8:د حال حذف کول جائز دی خصوصًا چی قول وی او مقوله مذکور کیدل ددینه کافی شی لکه:والملٰئِکةُ یدخلونَ علیهِم من کل بابٍ۔

سلٰمٌ علیکم بما صبرتُم ای قائلینَ سلٰمٌ علیکم الخ۔

یا واذ یرفع ابراهیمُ القواعدَ من البیتِ و اسماعیل ربَّنا تقبل منا ای قائلینَ ربنا تقبل منا۔

ضـــ9:کله کله د حال عامل حذف کول جوازًا یا وجوبًا۔

جوازًا قرینه غواړی لکه:مسافر ته وئیلے شی سالمًا غانمًا ترجع عامل حذف دے۔

او وجوبًا پنځه صورتونو کښې حذف کولے شي ـ

۱ ـ د حال په ذريعه تدريجًا زيادتي يا کمے بيانوی لکه:تصدَّقْ بدِرهمٍ فصاعدًا،اشترِ الثوبَ بدينارٍ فنازلًا يا فسافلًا ـ ددی حال دپاره شروع کښې فا لازمی ده۔

۲ـ توبيخ د پاره ذکر شی لکه: اقاعدًا عنِ العملِ و قد قامَ الناسُ۔

۳ـ مضمون د جملے د تاکيد دپاره وی: لکه انتَ اخی مواسيًا۔

۴د مبتدا د خبر قائم مقام وی :لکه: تاديبی الغلامَ مُسيئًا۔

۵ـ سماعًا وی لکه : هنيئًا لکَ۔

ضوابط د تمييز

ضــــ1:کوم چی تمييز محوّل(يعنی منقول) وی نو هغه ہميشه منصوب وی

(کله کله منقول د فاعل نه وی لکه:فاض الاناء ماءً ای فاضَ ماءُ الاناءِ،کله منقول د مفعول بهٖ نه وی لکه:اعددتُّ الطعامَ الوانًا ای اعددتُ الوانَ الطعامِ،کله منقول د مبتداء نه وی لکه:انا اکثر منکَ مالًا ای مالی اکثر من مالِکَ)

او غير محول له نصب ورکول هم جائز دی او مجرور بمِن وئيل هم جائز دی ـ لکه: سَمَوتَ اديبًا ،او سموتَ من اديبٍ۔ کفیٰ بالموتِ واعظًا

يا کفی بالموتِ مِن واعظٍ۔

ضـــ2: اسم تفضيل نه بعد اسم واقع وی نو د دؤو حالو نه به خالی نه وی ـ د ما قبل د جنس نه به وی يا به نه وی ـ

که د ماقبل جنس نه نه وی نو ده تمييز په وجه ورله نصب واجب دے۔ لکه:انتَ اعلیٰ منزلةً۔

که د ماقبل د جنس نه وی نو اسم تفضيل به هغے طرفته اضافت وشی او جر به ورله ورکی دا واجب دی ـ لکه :انتَ افضَلُ رجالٍ،کُنتُم خيرَ امَّةٍ۔

خو که چرے اسم تفضيل د تمييز نه علاوه بل چا ته مضاف وی نو نصب ورکول واجب دی۔لکه: انتَ افضلُ الناسِ رجلًا۔

ضـــ2:د تمييز عامل که چرے ذات يا فعل جامد وی نو دا په عامل باندی مقدم کول جائز ندی ـ لکه:عندی رطلٌ زيتًا،ما احسنُهُ رجلًا،نعمَ زيدٌ رجلًا،

خو د خپل عامل او د هغې د موقع درميان راتلې شي ـ لکه: طابَ نفسًا عليٌّ

او که عامل فعل جامد نه وی بلکه فعل متصرف وی نو تمییز په فعل مقدم کول جائز دی خو دا ډیر ګم دی ۔

ضـــ3:صرف اسم صریح تمییز جوړیدے شی او تمییز کښې تعدد جائز ندے۔ کله چې اسم جنس وی ۔لکه:طاب زیدٌ نفسًا طاب الزیدانِ نفسًا طاب الزیدونَ نفسًا۔

تمییز اصل کښې اسم جامد وی کله کله مشتق هم بحذف موصوف تمییز جوړیدے شی ۔لکه:لِلهِ درُّهُ فارسًا ای رجلًا فارسًا۔

ضـــ4:تمییز اصلًا نکره وی کله کله معرفه هم کیدے شی خو هغه به د نکره په معنیٰ وی لکه:اِلّا من سفِهَ نفسَهُ ای نفسًا، کَم اهلکنا مِن قریةٍ بطِرتْ معیشتَها ای معیشةً۔

ضـــ5:تمییز او عدد درمیان کښې فاصله جائز نده مګر ضرورت شعری د وجے نه جائز ده۔

ضــ6: عدد اوسط د تمییز نه بعد که صفت وی نو مفرد او جمع مکسر راوړل جائز دی ۔لکه:عندی ثلاثةَ عشرَ کریمًا /کرامًا،عندیٖ ثلاثونَ رجلًا کریمًا/کرامًا۔اولٓ کښې لحاظ د لفظ او ثانی کښې لحاظ د معنیٰ دے۔

ضـــ7:کوم تمییز چې د ذات نه ابهام لرے کوی نو عامل د د تمییز ممیز وی ،او کوم تمییز چې تمییز عنِ النسبة وی نو د هغے عامل ناصب ما قبل فعل یا شبه فعل وی ۔

ضوابط د مستثنیٰ

ضـــ1:صرف معرفه یا نکره مخصصه مستثنیٰ منه جوړیدے شی ۔

"لکه:جاءَ القومُ الا زیدًا،جاءنی رجالٌ عندکَ الا رجلًا منهم، ما جاء احدٌ الا سعیدًا"۔

ددی وجهے نه جاءنی قومٌ الا رجلًامنهم،جاء رجالٌ الا خالدًا صحیح ندی۔

دغه شان د معرفه نه د نکره استثناء صحیح نده۔لکه :جاء القومُ الا رجلًا صحیح ندے۔

د تخصیص نه بعد صحیح دے ۔لکه:جاءالقومُ الا رجلًا منهم/الا رجلًا

ضـــ2:مستثنیٰ منقطع کښی به د الا معنیٰ لٰکِن وی لکه:"انزلنا علیکَ القرآنَ لِتشقیٰ الا تذکرةً لمن یخشیٰ ای لٰکن انزلناه تذکرة لمن یخشیٰ۔

لستَ علیهم بمصّیطر الّا من تولّٰی و کفرَ ای لٰکن من تولیٰ و کَفَرَ فیعذبه اللّٰهُ العذابَ الاکبَرَ۔

ضـــ3:چی کله مستثنیٰ منقطع په کلام غیر موجب کښی وی نو هغه بدل جوړول جائز ندی ۔لکه:ماجاء المسافرونَ الا اَمْتِعَتَهُم /اَمْتِعَتُهُم په رفع سره وئیل بدل د مسافرونَ نه صحیح ندے۔

خو بنو تمیم په نزد جائز دی۔

ضـــ4:کلام منفی کښی چی کله مستثنیٰ مقدم وی په مستثنیٰ منه باندی نو منصوب به وی ۔لکه:ما جاء الّا خالدًا احدٌ۔

د بعض په نزد بنا بر بدلیت مرفوع وئیل هم جائز دی۔

ضـــ5:خلا،عدا،حاشا افعال هم دی او حروف جاره هم دی ۔خو د اِلّا معنیٰ لره متضمن دی ،ددی نه بعد واله اسم منصوب هم جائز دے بنا بر مفعولیت او مجرور هم چی مدخول د حرف جار دے۔لکه: جاء القومُ خلا زیدًا د خلا فاعل هو دے او القوم ته راجع دے زیدًا ئی مفعول بهٖ شو ۔

او جاء القومُ خلا زیدٍ۔جار مجرور هم جائز دی ۔

ضـــ6:لیسَ او لایکونُ کله کله د الّا معنیٰ لره متضمن وی ددی نه روستو اسم به منصوب وی ۔بنا بر خبریت د افعالِ ناقصه او اسم به په لیس او لایکونُ کښی ضمیر وی چی مستثنیٰ ته به راجع وی ۔

فائده:استثناء متصل د تخصیص بعد التعمیم فائده ورکوی ۔

استثناء منقطع د استدراک فائده ورکوی ۔

ضوابط د تاکید

ضـــ1:تاکید لفظی په اسم،فعل،حرف درے واړو کښی رازی او تاکید معنوی صرف د اسم رازی۔

ضـــ2: چی کله د ضمیر مرفوع متصل تاکید په نفس سره کوی نو مینځ کښی فاصله په مرفوع منفصل سره ضروری ده۔

او که د ضمیر منصوب یا مجرور متصل تاکید په نفس سره کوےنو فاصله ضروری نده۔لکه:اکرمتُهم انفسَهم مررتُ بهِم انفسِهم۔

او که د نفس او عین نه علاوه په نورو سره تاکید کوے نو بیا په مرفوع متصل وغیره کښې هم فاصله ضروری نده۔لکه: قاموا کلُهم،سافرناکلنا۔

ضـــ3: نفسٌ او عینٌ باندی باء زائده هم داخلیږی۔لکه:جاءَزیدٌ بنفسِهٖ۔

تاکید معنوی کله غیر تاکید هم رازی لکه :ظلمتُم انفُسَکُم۔

جاء نفسُهٗ وئیل جائز ندی مؤکد ذکر کول ضروری دی ۔

ضـــ4: نفس او عین:دی سره احتمال ختمول غرض وی ۔چی نه مجاز دے نه سهوه ده نه نسیان دے۔

کِلا او کِلتا سره دوه څیزه یو ځائے ثابتول غرض وی ۔

کُلُّ او اجمعُ سره د ټولو افرادو احاطه او شمول غرض وی ۔

د بدل ضوابط

ضـــ1: بدل البعض او بدل الاشتمال دپاره ضمیر ضروری وی چی مبدل منهُ سره رابط وی ۔

خوا ذکر وی لکه: ثُمَّ عَموا و صموا کثیرٌ منهم/یسئلونکَ عنِ الشهرالحرامِ قتالٍ فیه۔

یا محذوف وی لکه:وللّٰهِ علی الناسِ حج البیتِ منِ استطاعَ الیه سبیلًا ای مَنِ استطاعَ منهم الیه سبیلًا/قُتِلَ اصحابُ الاُخدودِ النارِ ذاتِ الوقود ای النار ذات الوقود فیها۔

ضـــ2:د اعراب نه علاوه مبدل منهُ او بدل کښې مطابقت ضروری ندے۔سوا د بدل الکل نه چی پدی کښې په مفرد تثنیه جمع،تذکیر تانیث،کښې موافقت ضروری دے۔ او کچرے بدل الکل د مصدر نه واقع وی یا د مبدل منه تفسیر وی نو بیا مطابقت ضروری ندے۔

د اول مثال لکه:مفازًا حدائقَ بدل د مصدر نه دے۔

د ثانی مثال لکه:جاءنی ذو رِجلینِ رِجلٍ صحیحةٍ و رِجلٍ شلٍ۔داد مبدل منه تفسیر دے۔

ضـــ3:اسم ظاهر د اسم ظاهر نه بدل جوړوے شی خو اسم ضمیر د اسم ضمیر نه بدل نشی جوړوے۔

ضـــ4:اسم ضمیر د اسم ظاهر نه بدل نه رازی خو اسم ظاهر د غائب د ضمیر نه بدل راتلے شی ۔لکه:واسرّوا النجویٰ الذینَ ظلموا۔ دلته الذین اسم ظاهر د اسروا د ضمیر"واو" نه بدل دے ۔

ضـــ5:ضمیر مخاطب او ضمیر متکلم نه اسم ظاهر هله بدل رازی چې کله بدل البعض وی یا بدل الاشتمال وی ۔لکه:لقدْ کانَ لکُم فی رسولِ اللهِ اسوةٌ حسنةٌ لِمن کان یرجو اللهَ ۔دلته مَن د کُم نه بدل دے او دا بدل البعض دے۔

د بدل الاشتمال مثال :بلَغَ السماءَ مجدُنا و بهاءُنا دلته مجدُنا د بلغنا د نا ضمیر نه ۔او دا بدل الاشتمال دے۔

ضـــ6:اسم فعل او جمله بدل د خپل مثل نه راتلے شی ۔

د اسم مثال واضح دے۔

د فعل مثال :مَن یفعلْ ذالکَ یلقَ اثامًا یضْعفْ له العذابُ ۔دلته یضعف بدل دے د یلق نه۔

د جملے مثال :امدَّکُم بما تعلمون امدکم بانعامٍ و بنین۔

ضـــ7:بدل او مبدل منهُ کښې فاصله نه کول ابلغ دی ،او که مجرور بحرف الجار نه بدل وی نو بیا په اعاده د حرف جار سره فاصله جائز ده ۔ لقدْ کانَ لکُم فی رسولِ اللهِ اسوةٌ حسنةٌ لِمن کان یرجو اللهَ،یا لکه:تکونُ لنا عیدًا لاولِنا و آخرنا۔

ضـــ8:بدل مقصود بالنسبة وی نو دی وجے نه د مبدل منهُ نه زیات قوی یا د مبدل منه سره مساوی کیدل ضروری وی ۔

پدی اعتبار سره د بدل او مبدل منهُ څلور صورتونه جوړیږی۔

دواړه معرفے وی	الی صراط العزیز الحمیدِ اللهِ الذی له ما فی السمٰوٰتِ
دواړه نکرے وی	اِنَّ لِلمتقینَ مفازًا حدائقَ واعنابًا
مبدل منه نکره او بدل معرفه	الیٰ صراطٍ مستقیمٍ صراط اللهِ الذی الایة۔

آخرے صورت غلط دے باقی صحیح دی ځکه چی بدل مقصود وی د هغے ادنیٰ کیدل لازمیږی۔

د څلورم صورت د صحیح کیدو شرط دادے چی د نکرے صفت راوړے شی ۔لکه:بالناصيةِ ناصيةٍ كاذبةٍ خاطئةٍ۔

ضـــــ9:که چرے مبدل منه حرف شرط یا حرف استفهام لره متضمن وی نو بدل کښی حرف استفهام یا اِنْ شرطیه ذکر کول ضروری دی ۔

د اوّل مثال:كَم مالُكَ ا عشرونَ امْ ثلاثونَ/ما صنعتَ ا خيرًا. ام شرًا/مَن جاءكَ اعليٌّ ام خالدٌ۔

د ثانی مثال:مَن يجتهِدْ اِن عليٌّ و اِن خالدٌ فاكرِمهُ،ما تصنعُ اِن خيرً و اِن شرًا تُجزىٰ بهٖ۔

ضوابط د عطف بیان

عطف بیان په ټولو خبرو کښی د متبوع موافق وی افراد تثنية جمعية وغیره ۔ کنیت او علم کښی چی کوم زیات مشهور وی هغه به عطف بیان جوړیږی۔

ضمیر عطف بیان نشی جوړیدے څنګه چی صفت نشی جوړیدے ۔

<u>فائده:</u>متبوع کچرے معرفه وی نو عطف بیان ددی وضاحت کوی لکه : اقسَمَ باللّٰهِ ابو حفصٍ عمرُ ،

او که نکره وی نو عطف بیان د هغے تخصیص کوی لکه:اشتريتُ حليًا سوارًا،دغه شان اوكفارةٌ طعامُ مسٰكينِ۔

ضوابط د عطف بحرف

اسم ضمیر او اسم ظاهر په اعتبار سره د عطف څلور صورتونه دی۔

دضمیر عطف په ضمیر	انا و انتَ صديقانِ،اكرمتُهم واياكَ
د ضمیر عطف په اسم ظاهر	جاءنی علّیٌ و اَنتَ ،اكرمتُ عليًّا وايّاكَ
داسم ظاهر عطف په ضمیر	ماجاءنی الا انتَ و عليٌّ،مارايتُ الا اياكَ وعليًّا۔
د اسم ظاهر عطف په اسم ظاهر	جاء زيدٌ وعمرٌو

ضـــــ1:ضمیر مرفوع باندی عطف کول وو نو معطوفٌ علیه او معطوف مابین

د څه شی فاصله کول ضروری دی ۔خوا فاصله د ضمیر منفصل وی لکه:اِذهبْ انتَ و رَبُّکَ اُسکُنْ انتَ و زوجُکَ۔

یا فاصله د بل شی وی لکه:یدْخلونها و مَن صلحَ دلته د مَنْ عطف د یدخلونَ په ضمیر واو باندی د ے او درمیان ئی ها ضمیر منصوب متصل سره فصل راغلے د ے،

یا لکه:ماأَشْرَکنا ولا آبائُنا دلته د آباء عطف د اشرکنا په نا ضمیر باندی د ے او درمیان ئی په لا سره فاصله راغلے ده۔

ضــــ2:کچر ےضمیر مجرور متصل باندی عطف وشی نو غوره داده چی د حرف جار یا مضاف اعاده وشی ۔لکه:فَقَالَ لها وللارضِ اِئْتِیا ،احسنتُ الیکَ والی علیٍّ،اکرمتُ غلامَکَ و غلامَ سعیدٍ۔

او که اعاده ؤنشی نو هم جائز دی لکه :وکُفْرٌ بہٖ والمسجدِ الحرامِ،واتقوااللہَ الذی تسائلونَ بہٖ والارحامِ۔

ضـــ3:د جمله انشائیه. عطف په جمله خبریه. او بالعکس س جمهورو په نزد جائز ند ے البته د بعضو په نزد جائز د ے۔د جمهورو په نزد به مناسب تاویل کولے شی ۔

ضـــ4:چی کله معنیً مشابهت موجود وی نو د فعل عطف اسم باندی او بالعکس جائز. دی ۔لکه:فالمغیراتِ صبحًا فاثرنَ بہٖ نقعًا،یُخرِجُ الحیَّ من المیتِ و مخْرِجُ المیتِ من الحیِّ۔

ضـــ5: د عطف در ے قسمه دی :

١۔لفظ باندی عطف:لیسَ زیدٌ بِقائمٍ ولاقاعدٍ۔دیته. محل قریب هم وائی او دا اصل د ے۔

٢۔محل بعید باندی عطف:اِنَّ اللہَ بریئٌ من المشرکینَ ورسولُهُ دلته د رسولُهُ عطف د لفظ اللہ په محل بعید باندی د ے۔

٣۔توهم باندی عطف:لکه: لیسَ زیدٌ قائمًا ولاقاعدٍ دلته د قاعدٍ عطف په قائمًا. باندی د ے او توهم دا ے چی قائمًا. باندی به ګنی باء داخله وی ځکه چی د لیس

ضوابط د اسم عدد

ضـــ1: کچرے معدود د صفتِ محذوف صفت وو نو په عدد کښې به د موصوف محذوف اعتبار. وی نه چی د صفت عتبار به وی ـ لکه:فلهُ عشرُ امثالها ای عشرُ حسناتٍ امثالها۔

کچرے دلته د موصوف محذوف اعتبار نوے نو عشرٌ په ځائے به عشرةٌ وے ځکه چی مثل مذکر د ے۔

ضـــ2: کچرے د عدد تمیز دوه ځیزونه وی نو حالت ترکیب کښې به د مذکر اعتبار. وی خوا مقدم وی که مؤخر بشرطیکه عاقل دپاره وی ـ لکه:عندی خمسة عشرَ رجلًا وامرئةً،عندی خمسة. عشر امرئةً و رجلًا۔

او که غیر عاقل وی نو د اول اعتبار. به وی بشرطیکه متصل وی ـ لکه:عندی خمسة عشرَ جملًا و ناقةً،عندی خمسَ عشرةَ ناقةً وجملًا۔

د انفصال په صورت به د مؤنث اعتبار. وی لکه:عندی ستَّ عشرة ما بین ناقةٍ وجملٍ/مابینَ جملٍ وناقةٍ۔

او حالت اضافت کښې به د اول اعتبار. وی ـ لکه:عندی ثمانیةُ رجالٍ ونساءٍ،عندی ثمان نساءٍ ورجالٍ۔

ضـــ3:د عدد رعایت تمییز د مذکر یا مؤنث سره هله وی چی عدد معدود باندی مقدم وی ،ورنه مؤخر په صورت کښې دوه وجے جائز دی ـ لکه:شاهدتُ تلمیذاتٍ ثلاثًا/ثلاثةً داقاعدے رعایت کول اولیٰ دی ـ

ضـــ4: چی کله معدود علم مذکر وی خو لفظًا مؤنث وؤ نو عدد مذکر او مؤنث دواړه جائز. دی ـ لکه:جاء ثلاثُ حمزاتٍ/ثلاثةُ حمزاتٍ اول غوره د ے د ثانی نه۔

ضـــ5:کله چی معدود مذکر او مؤنث دواړه مستعمل وی نو عدد هم دواړه جائز دی۔لکه:شاهدتُ ثلاثةٌ من البقر/ثلاثًا. من البقرِ۔

ضـــ6: د عدد مرکب دتمییز په صفت کښې دوه وجے جائز دی ـ

ـــےلفظ موصوف رعایت سره مفرد ذکر شی ـ

ـــےمعنیٰ رعایت سره جمع ذکر شی ـ

ضـ7: د عدد ترکیبی څلورقسمونه وی :

۱۔مفرد :اول نه عشر پورے مذکر له مذکر مؤنث له مؤنث ۔لکه:التلمیذ الاولُ التلمیذ الثانی، التلمیذةُ الاولیٰ/التلمیذةُ الثانیةُ۔

۲۔مرکب:حادی عشر نه تر تاسع عشر پورے ۔اول پشان دے۔

المعلمُ الحادی عشرَ، المعلمةُ الحادیةُ عشرة۔

۳۔معطوف:حادی وعشرین نه تر تاسع و تسعینَ پوری دا همد اول پشان دے۔ لکه : الطالبُ الحادی والعشرونَ ،الطالبةُ الحادیةُ و العشرونَ

۴۔عقود:عشرونَ نه تر تسعونَ پوری مئةٌ او الفٌ تذکیر او تانیث کښې ئی څه فرق نشته۔لکه الطلبةُ المئةُ، الطالباتُ المئةُ۔

ضـ8: د عشرة او عشر "ش"به مفتوح وی چی کله معدود مذکر وی او ساکن به وی چی کله معدود مؤنث وی ۔

لکه:عشَرةُ رجالٍ،احدَ عشرَ رجلًا:: عشْرُ نساءٍ،احدیٰ عشرةَ امرئةً۔

ضـ9: د واحد نه تر عشر پورے ددے تمییز به جمع مکسر وی په کلام فصیح کښې ۔

مګر پدی صورتونو کښې جمع سالم هم راتلے شی ۔

۱۔چی کله معدود دپاره جمع مکسر مستعمل نه وی ۔لکه:سبْعَ سمٰوٰت،سبع بقرات۔

۲۔جمع مکسر وی خو د جمع سالم د جوار د وجے نه جمع سالم مستعمل وی لکه: سبع سنبلاتٍ ځکه دا د سبع بقراتٍ مجاور دے۔

۳۔جمع مکسر وی خو دا قلیل الاستعمال وی او جمع تصحیح کثیر الاستعمال وی ۔لکه:ثلاثُ سعاداتٍ۔

ضـ10: عدد او دهغې مابین کښې فاصله جائز نده مګرضرورت شعری کښي۔

ضـ 11: عشرونَ نه تر تسعونَ پوری عقود لره د واحد نه تر تسعة عطف کولے شی ،چی کله تعین مقصود وی ۔

لکه:واحدٌ وعشرونَ،اثنانِ وعشرونَ مذکر دپاره ۔

او که تعین مقصود نه وو نو بِضعٌ وعشرونَ رجلًا، مذکر دپاره۔

مؤنث دپاره:بِضعٌ وعشرونَ امرئةً۔

ضوابط د غیر منصرف

ضـــ1: د کومو اسبابو سره چی علمیت جمع کیږی چی کله دهغې نه علمیت زائل شی نو غیر منصرف به منصرف شی۔

ضـــ2:د عدل اوزان عمومًا دادی:

فُعالُ	مَفعَلُ	فُعَلُ	فَعَلُ	فِعالُ
ثُلاثُ	مثلَثُ	اُخَرُ	سَقَرُ،سَفَرُ	قِطامُ

ضـــ3: د ضرورت شعری یا تناسب د وجے نه په غیر منصرف باندی کسره او تنوین ویئلے شی ۔

دضرورت شعری مثال:

صُبَّتْ علی مصائبٌ لو انها صبت علی الایامِ صرْنَ لیالی

دلته د مصائبُ غیرمنصرف ویئلو سره وزن ماتیږی۔

: یا لکه د امام شافعیؒ شعر د امام صاحبؒ په باره کښی

اَعِدْ ذکرَ نُعمانٍ لنا اَن ذکره هو المسک ما کررتَه یتضوع

دلته د نعمانُ غیرمنصرف ویئلو سره روانۍ کښی فرق رازی۔

د تناسب مثال:

سَلاسلًا و اغلالًا

دلته د سلاسلًا او اغلالًا تنوین د تناسب دپاره دے۔

ضـــ4:د میاشتو نومونه شپږ منصرف دی او شپږ غیر منصرف دی۔

منصرف

شوال	ذوالقعده	ذوالحجه	محرم	ربیع الاول	ربیع الثانی

ضـــ5:د انبیاء کرامؑ اسماء کښی صرف نهه نومونه منصرف دی :

شیثٌ	عزیرٌ	نوحٌ

ضـــ6: د ملٰئکه صرف څلور نومونه منصرف دی:

کیرٌ		منکرٌ		مالکٌ	رضوانٌ

ضـــ7: ابلیس غیر منصرف دے علمیت او عجمه د وجے نه او شیطان کچرے د شاط یشیطُ نه وی نو بیا غیر منصرف دے ،او که د شطنَ نه وی نو بیا منصرف دے۔

ضـــ8: چی غیر منصرف مصغر شی نو سبب د منع صرف زائل شی نو منصرف شی ۔لکه:عمرُ نه عمیرٌ،شمَّرَ نه شُمیرٌ۔

ضـــ9: د صیغه د منتهیٰ الجموع په وزن که مفرد هم راشی نو غیر منصرف به وی ۔لکه:هوازنُ د قبیلے نوم،بیادرُ د سړی نوم۔

<u>فائده:</u> کلام عربئ کښی ډیرشے الفاظ عدل تقدیری کښی فُعَلُ په وزن وی ۔

عمر	زفر	زُحل	تُعل	جُشم
جُعحُ	قُزَحُ	دُلَفُ	عُصَمُ	جُحیٰ
بُلغُ	مُضرُ	هُبَلُ	هُذَلُ	کُثَمُ

او ددی ملحقات ،لکه:جُمَعُ،کُتَعُ،بُتَعُ،بُصَعُ وغیره۔

تراکیب مفیده

لا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رسولُ اللّٰهِ

لا نفی جنس الٰه نکره مفرد مبنی بر فتحه مو صوف **<u>الا</u>** بمعنی غیر مضاف لفظ **<u>اللّٰهُ</u>** مضاف الیه ،مضاف مضافٌ الیه ملاؤ شو صفت، موصوف صفت ملاؤ شو اسم د <u>لا</u> ،او خبر محذوف دے لفظ د "موجودٌ"**<u>لا</u>** د خپل اسم او خبر سره ملاؤ شو جمله اسمیه خبریه. شوه۔"غیرُ د لفظ الٰه د محل تابع دے او هغه محلًا مرفوع دے نو دا هم مرفوع شو۔

<u>محمّدٌ</u> مبتدا **<u>رسولِ</u>** مضاف **<u>اللّٰه</u>** مضافٌ الیه خبر مبتدا خبر جمله اسمیه. خبریه شوه۔

سُبحانکَ اللّٰهُمَّ و بِحمدِکَ و تبارکَ اسمُک و تعالیٰ جَدُّکَ و لا اٰلهَ غیرُکَ

،**اَللّٰهُم** جمله ندائيه و حاليه. متلبسًا **بحمدِكَ** شبه جمله حال ،فعل فاعل ذوالحال حال ملكر جمله فعليه معطوفٌ عليها **و** عاطفه **تبارکَ** فعل **اسمُکَ** فاعل فعل فاعل جمله معطوفه ،معطوفة عليها **و** حرف عاطف **تعالیٰ** فعل **جَدُّکَ** فاعل ،فعل فاعل جمله فعليه معطوفة ،معطوفة عليها **و** عاطفه **لا** نفی جنس **اِلٰه** نکره مبنی بر فتحه موصوف **غيرُکَ** مضاف مضافٌ اليه. صفت ،اسم د **لا** خبر محذوف چی "موجودٌ" دے۔

نادر او عجيبه ترکيبونه

1۔من قَالَ قالَ اللّٰهُ فقدْ کفرَ*دويم قال د قالَ يقيلُ قيلولة نه دے او د الله متعلق داسی قول کفر دے۔

2۔قالَ زيدٌ تحتَ شجرةٍ فانتقضَ وضوئهُ* قال د قالَ يقيلُ قيلولة نه دے او د سبب د انتقاضً دے۔

3۔النارُ فی الشتاءِ خيرٌ مِنَ اللّٰهِ*مِن اللّٰهِ بمعنیٰ باللّٰهِ دے۔ای په خدائ قسم په ژمی کښې اور بهتر دے۔

4۔اَنَّ زيدٌ کريمٍ*اَنَّ فعل دے او زيدٌ ئی فاعل دے ک حر ف جار او ريمٍ مجرور ۔زيد وژ ړل د هوسئ د بچی پشان۔

5۔اِنَّ فرعـونَ وَ موسیٰ فی النـارِ يعـنی ورَبِّ موسیٰ دلته واو قسـميه دے۔

6۔بطنُ کبيرٍ کبيرٌ کبيرٍ :د کبير ګيډه لويه د کوهی په مثل۔

7۔رَجُلًا فی البيتِ :رَفعل امر انتَ فاعل او جُلًا مفعول بهٖ فی البيتِ متعلق ۔او ګوره زين ته په کور کښی ۔

8۔فِرعـونَ موسیٰ موسیٰ : يـا فرعـونُ ايّـاک و موسیٰ ۔لکه اللّٰهَ اللّٰهَ فی اصحابی۔

9۔يوسفِ زليخا :منادیٰ مرخم ده يا يوس اصل يا يوسفُ فِ فعل امر انتَ فاعل زُليخا مفعول بهٖ۔

10۔علیٰ موسیٰ علیٰ فرعونَ: علیٰ فعل د علیٰ یعلو عُلُوًّانه موسیٰ فاعل، او علیٰ حرف جارفرعون مجرور ۔

11۔اباحَنِیفَتیً شطرنجًا و ھو الشافعیُّ: اباح فعل نی مفعول بہٖ فتیً فاعل شطرنجًا مفعول ثانی واو استینافیه ھو مبتدا او الشافعیُّ خبر۔

12۔لِزیدًا :لِ فعل امر وَلِیَ یلی دوست جوړیدل انتَ فاعل او زیدًا مفعول بہٖ۔

13۔قدَّمَتْنی زیدٌ :قَدَّ فعل متنی مضاف مضافٌ الیه مفعول بہٖ زیدٌفاعل ۔

14۔مرَرْتُ مِنْ عَلیهِ : یعنی من فوقہٖ۔

15۔مررتُ مِن عن یمینہٖ :یعنی من جهةِ یمینہٖ۔

سورة الفاتحه

الحمدُ مبتدا**للهِ** لِ حرف جار**الله** موصوف **رب العٰلمینَ** صفت اول **الرحمٰنِ** صفت ثانی **الرحیم** صفت ثالث **مالِکِ یوم الدینِ** مرکب اضافی صفت رابع موصوف سره د صفاتو مجرور د "ل" جاره جار مجرور متعلق بثابتٌ شبه جمله فعل فاعل او متعلق شبه جمله خبر د مبتدا ،مبتدا خبر جمله اسمیه. خبریه صورةً (انشائیه معنیً)۔

ایّاک مفعول بہٖ مقدم **نعبدُ** فعل فاعل ،فعل فاعل مفعول بہٖ جمله فعلیه خبریه معطوفة علیها **و** حرف عاطف **ایّاکَ نستعین** فعل فاعل مفعول بہٖ جمله معطوفه ،دواړه جملے معطوفے شوے۔

اھدنا فعل فاعل مفعول بہٖ **الصراط المستقیمَ** مرکب توصیفی مبدل منهٗ **صراط** مضاف **الذینَ** اسم موصول **انعمتَ علیهم** فعل فاعل متعلق صله ،موصول صله مضافٌ الیه ،مضاف مضاف الیه بدل **غیرِ** مضاف **المغضوبِ** صیغه صفت ھو نائب فاعل **علیهم** متعلق ،صیغه صفت خپل نائب فاعل او متعلق سره شبه جمله مضاف الیه. ،مضاف مضاف الیه. ملکر معطوفٌ علیه **و** عاطفه **لا** زائد **الضالّین** صیغه صفت ھم فاعل ،شبه فعل فاعل ،شبه جمله معطوف ، معطوفٌ علیه معطوف ملکر بدل د الذینَ،بدل مبدل منه ملکر مضاف الیه ،مضاف مضافٌ الیه بدل د الصراط المستقیم نه ،مبدل منه بدل

سورة اخلاص

قُل مسند فعل انتَ فاعل فعل فاعل قول **هو** مبتدا **اللّٰهُ** مبتدا ثانی **احد** خبر ،مبتدا خبر جمله. اسمیه خبریه خبر د مبتدا اول دپاره مبتدا خبر جمله مقوله ،فعل فاعل جمله انشائیه شوه۔ **اللّٰهُ الصمد** مبتدا خبر جمله اسمیه خبریه **لم** جازمه **یلدْ** فعل هو فاعل فعل فاعل مفعول بهٖ **و** حرف عاطف **لم** جازمه **یولَدْ** فعل هو ئی نائب فاعل ،فعل نائب فاعل معطوف اول **و** حرف عاطفه **لم** حرف نفی **یکُن** فعل ناقص **له** جار مجرور متعلق مقدم د**کفوًا** دےخبر مقدم شو **احد** اسم مؤخر شو ،فعل ناقص اسم خبر سره جمله فعلیه خبریه شوه معطوف ثانی ،معطوف علیه. دواړه معطوفین سره جمله معطوفه

سُبحانَ رَبی الاعْلیٰ،سُبحانَ مضاف **ربی** موصوف **الاعلیٰ** صفت موصوف صفت مضافٌ الیه د **سبحانَ،**مضاف مضافٌ الیه. مفعول مطلق "سبَّحتُ یا اُسَبِّحُ "فعل دپاره۔فعل فاعل مفعول مطلق سره جمله فعلیه انشائیه شوه (متکلم فی الحال د تســـــبیح انشاء کوی)۔

سُبحانَ ربی العظیم ددی ترکیب هم دغه شان دے۔

التحیاتُ للّٰهِ والصلواتُ والطیباتُ السلامُ علیکَ ایُّها النبیُّ ورحمةُ اللّٰهِ وبر کاتُهُ السلامُ علینا وعلیٰ عبادِ اللّٰهِ الصالحینَ اشهَدُ انْ لا اِلٰهَ الّااللّٰهُ و اشهَدُ انَّ محَمَّدًا عبدُهُ ورسولُهُ۔

التحیاتُ معطوفٌ علیه **و**حرف عاطف **الصلواتُ** معطوف اول **و**عاطفه **الطیباتُ** معطوف ثانی ،معطوفٌ علیه معطوفین مبتدا **للهِ** جارمجرور متعلق ثابتة پورے ،شبه فعل فاعل متعلق سره شبه جمله خبر مبتدا خبر جمله اسمیه. خبریه شوه۔

السلامُ معطوفٌ علیه **ورحمةُ اللّٰهِ** معطوف اول **وبر کاتُهُ** معطوف ثانی،معطوفٌ علیه معطوفین مبتدا **علیکَ** ظرف مستقر د نازلة متعلق خبر مبتدا خبر جواب نداء **اَیُّ** موصوف **ها** تنبیه. **النبیُّ** صفت موصوف صفت سره منادیٰ یا حرف ندا محذوف قائم مقام اَدعو فعل فاعل منادیٰ قائم مقام مفعول بهٖ لره ندا ،ندا او جواب ندا سره جمله انشائیه ندائیه شوه۔

مجرور سره معطوف، معطوف معطوفٌ علیه سره متعلق د نازلةٌ ،نازلةٌ شبه فعل،شبه فعل فاعل متعلق شبه جمله خبر شو د مبتدا ،مبتدا خبر سره جمله اسمیه خبریه شوه۔

اشهَدُ فعل فاعل **انْ** مخفف من المثقل ہٗ ضمیر محذوف اسم د **اَنَّ لا اِلٰهَ الّاالله** پوره جمله خبر د **اَنَّ** اسم خبر سره بتاویل مفرد مفعول بهٖ ،فعل فاعل مفعول بهٖ جمله فعلیه خبریه. معطوفة علیها شوه **و** حرف عاطف **اشهَدُ** فعل فاعل **انَّ** حرف دحروف مشبه بالفعل نه **محَمَّدًا** اسم د اَنَّ **عبدُہٗ** مضاف مضافٌ الیه معطوف **و** حرف عاطف **رسولُہٗ** مضاف مضاف الیه معطوف،معطوف علیه معطوف سره خبر د اَنَّ ،اَنَّ سره د اسم او خبر نه بتاویل مفرد مفعول بهٖ فعل فاعل مفعول بهٖ سره معطوف ،معطوفٌ علیه معطوف سره جمله معطوفه شوه۔

کلمات غریبه

لاسِیَّما: لانفی جنس سِیَّ مضاف ما زائده مابعد مضافٌ الیه خبر محذوف موجودٌ/

یا ما موصوله ما بعد جمه صله مضاف الیه ۔

یا ما موصوفه بمعنیٰ شيئٌ ما بعد جمله. صفت ۔

لاغیرُ: (رضی ترکیب)لا نفی جنس غیر مبنی بر ضمه منصوب محلًا اسم د لا نفی جنس مقولٌ لکَ خبر محذوف دے۔

علیٰ انا نقولُ: علیٰ حرف جار ما بعد مجرور جار مجرور متعلق بما قبل فعل ظرف لغو۔

اِزاءَ: منصوب مفعول فیه ظرف مکان۔

فَبِها:دا لفظ ہمیشه د جزاء په طور مستعمل وی ۔

فاء جزائیه باء جار ها مجرور راجع بسوئے خصلة حسنةٌ خبر باعتبار متعلق مقرونٌ ،هو مبتدا محذوف ای فهو مقرونٌ بخصلة حسنة جمله اسمیه جزاء شوه ۔

فضلًا: مفعول مطلق د فعل محذوف فَضَلَ ،جمله صفت د ماقبل۔

هَلُمَّ جَرًّا : بمعنیٰ اِئتِ اسم فعل جرًا مفعول مطلق تجُرُّ جرًا فعل فاعل جمله حال شوه داِئتِ د انتَ ضمیر نه ۔

اِثناءً: مفعول فیه ظرف زمان۔

اٰنِفًا: حال بمعنیٰ مؤتنفًا ،یا اٰنفًا ظرف زمان مفعول فیه ۔

فصاعدًا : فا زائده یا عاطفه ،صاعدًا حال فعل محذوف اصعدُ صاعدًا یا صعودًا مفعول مطلق ۔

مرحبًا: مفعول فیه د رَحِبْتَ فعل ۔

اَلآنَ : مفعول فیه مبنی بر فتحه ۔

تارةً: ما قبل فعل دپاره مفعول فیه ،ان یعیدَکُم فیه تارةً اخریٰ۔

ابدًا،اوّلًا: مفعول فیه ۔

جدًا: مفعو ل مطلق ای اجدُّ جدًا ۔

البته: مفعول مطلق د فعل بَتَّ۔

مثلًا: مفعول مطلق د مثلتُ مثلًا ،دغه شان عمومًا،خصوصًا،عامةً ،خاصةً،صدقًا،حقًا،قطعًا،وعدًا مفعول مطلق دی ۔

اهلًا وسهلًا: مفعول بهٖ دی د فعل محذوف۔

بناءً: مفعول له د فعل محذوف لکه:قلنا ذالکَ بناءً،فعلنا. ذالکَ بناءً،بنینا. بناءً مفعول مطلق هم کیدے شی ،بانیًا. یا مبینًا بمعنیٰ حال هم کیدے شی ۔

لا محالةَ: لا نفی جنس محالةَ اسم د لا مبنی بر فتحه او موجودٌ خبر دلا محذوف یا مِنهُ ۔

وَمِنْ ثَمَّ،و من هناکَ،و مِن هٰهُنا: ای من سببهٖ دا درے واړه اسم اشاره مجرور متعلق بما بعد فعل یا شبه فعل ۔

لابأْسَ: لا نفی جنس بأسَ نکره مفرد مبنی بر فتحه خبر محذوف یا مذکور ۔

عادةً: اکثر تمییز وی :والثابت عادةً کا المتیَقنِ بهٖ۔

جمیعًا۔حال وی **لغةً**۔ تمییز وی ۔

۔**علیٰحدةٍ:** علیٰ حرف جار حدةٍ مجرور۔

کتاب په علیٰحدةٍ ختم شو د هر گنده ماحول نه ،هر ناکاره ملگری نه، د هر ناکاره خوئی نه، د دنیا د محبت نه، د بیکارتیا نه،فضول موبائیل استعمال نه د بے نمازئ نه علیٰحده شه!

طالب علم له د یکسوئی ډیر ضرورت دے

لا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رسولُ اللهِ

وآخر دعوانا ان الحمد للّٰهِ رب العالمین

یو التماس:دکتاب کاتب او مولف په خپله دعا کښی ضرور یادوئ

اَلصَّرف المُسَهَّل

تالیف

استاذ الحدیث **حضرت مولانا عبد الحلیم** (صاحب حق) صاحب

خلیفہ مجاز:

شفیق حضرت پیر **عزیز الرحمٰن ہزاروی** نوراللہُ مرقدہٗ

مدرس امام اعظم ابو حنیف
ملحق انغاپور تورورسک بونیر